**د پوهنې وزارت**

د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو
د روزنې او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# فرهنگ

## دولسم ټولګی



د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ. ش

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري پلورل او پېرودل يې په کلکه منع ده. له سر غړوونکو سره قانوني چلن کيږي.





د دولسم ټولګي فرهنګ









Cover.indd 1
8/16/2011 10:10:26 AM

**د پوهنې وزارت**

د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو
د روزنې او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# فرهنگ

## دولسم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ .ش.



Calture G-12 Pashto.indd 1 8/16/2011 10:22:11 AM

**لیکوالان**

- عبدالحمید عاطف
- برهان الدین نامق

**علمي او مسلکي ایډیټ**

- دکتور خوش نظر پامیر زاد
- عبدالرؤوف حکیمی

**ژباړونکی**: غلام سرور گلاب زی، صافی

**د ژبې ایډیټ**

- پوهنمل بریالی باجوړی

**دینی، سیاسي او کلتوري کمېټه**

- ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.
- دکتور عبدالصبور فخری
- دکتور عنایت الله خلیل هدف
- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې د پوهنې وزارت سلاکار.

**د څارنې کمېټه**

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین.
- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول.
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی رئیس.

**طرح او ډیزاین**

عنایت الله غفاري

بسم الله الرحمن الرحیم



Calture G-12 Pashto.indd 3 8/16/2011 10:22:12 AM



# مِلّي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې، کور د تورې — هر بچی يې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو، د اُزبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو، د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي — پاميريان، نورستانيان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ايماق، هم پشه يان
دا هيواد به تل ځليږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سينه کې د آسيا، به — لکه زړه وي جاويدان
نوم د حق مو دی رهبر — وايو "الله اکبر" وايو "الله اکبر"



Calture G-12 Pashto.indd 4 8/16/2011 10:22:14 AM

**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د پوهنې د وزیر پیغام

## ګرانو ښوونکو او زده کوونکو!

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو تدوین او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده‌کړې په بهیر کې د زده‌کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده‌کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیتونه په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې برخه کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تألیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په تدوین او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر



Calture G-12 Pashto.indd 5 8/16/2011 10:22:15 AM

# فهرست


| لوست | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| | | سریزه |
| | **لومړی څپرکی** | ۱ |
| **لمانځنې او د عبادتونو دودونه** | | ۱ |
| لومړی او دویم لوستونه | نوی کال او د بزګرمېله | ۵ |
| دریم لوست | مېلې | ۱۱ |
| څلورم لوست | د ماشومانو زېږېدنې او د هلکانو د سنت کولو جشن | ۱۵ |
| پنځم لوست | د واده دودونه | ۱۹ |
| شپږم لوست | د خپلواکۍ جشن او د نورو ملي جشنونو لمانځنې | ۲۷ |
| اووم لوست | عُرس او زیارتونه | ۲۹ |
| اتم لوست | د روژې مبارکه میاشت او د اخترونو لمانځنه | ۳۳ |
| نهم لوست | د عاشورا او برات دودونه | ۳۷ |
| لسم لوست | د خلکو فالونه | ۳۹ |
| یوولسم لوست | د ویر(ماتم) او نذر دودونه | ۴۳ |
| | **دویم څپرکی سندرې او مطایبې** | |
| دولسم لوست | سندرې | ۴۷ |
| دیارلسم لوست | ټوکې، او لطیفې | ۵۱ |
| څوارلسم لوست | طنز | ۵۳ |
| پنځلسم لوست | کنایه او اصطلاح | ۵۵ |




Calture G-12 Pashto.indd 6 8/16/2011 10:22:16 AM

| لوست | عنوان | مخ |
|---|---|---|

**دریم ځپـــرکی**

**خــواړه**


شپاړسم لوست زموږ په هېوادکې د خوړو ډولونه........................................ ٦١

اوولسم لوست د ځانګړو مناسبتونو خواړه........................................ ٦٥

اتلسم لـوست سمنک........................................ ٦٩

نولسم لـوست د هفت سین سفره ( دستر خوان)........................................ ٧١


**څلورم ځپرکی**

**سیمه ییز اقتصاد**


شلـــم لـــوست د ځمکې ډولونه او دشولو د کرلو طریقه........................................ ٧٥

یوویشتم لــوست بنوالي، د مېوو تولید او ځنګلونه........................................ ٨١

دوه ویشتم لوست زموږ په هېواد کې د کروندو د اوبه کولو سیستم........................................ ٨٥


**پنځـــم ځپرکی**

**مهم تاریخي، هنري او ادبي شخصیتونه**


درویشتم لـــوست ملکه ګوهرشادبیګم او بایسُنغُرمیرزا........................................ ٩٣

څلرویشتم لـوست خوشحال خان خټک........................................ ٩٧

پنځه ویشتم لوست مولاناجلال الدین محمد بلخي........................................ ١٠١

شپږویشتم لـوست علّامه سید جمال الدین افغاني........................................ ١٠٥


**شپږم ځپرکـــــی**

**معاصر ملي او هنري شخصیتونه**


اوو ویشتم لوست غازي امان الله خان او محمود طرزي........................................ ١٠٩

اته ویشتم لوست پروفیسور غلام محمد میمنه ګي........................................ ١١٣

اخځلیکونه........................................ ١١٨





Calture G-12 Pashto.indd 7 8/16/2011 10:22:16 AM

# سريزه

**گرانو زده کوونکو!**

تاسې په لسم او يولسمو ټولګيو کې د فرهنګ په اړه ګڼ‌شمېر موضوعات ولوستل او پوه شوئ چې:
د يوه قوم، ټولنې او يا د يوه ملت فرهنګ د هغې د مادّي او معنوي شتون ټولګه ده.
ددې فرهنګ ټولګه د دغې قوم له مِلّي هويت له پديدو څخه ده او ددې فرهنګ عمده توکي له مادّي پلوه د معمارۍ ډولونه، کاشي کاري، انځورګري، ښکلې ليکنې (خطّاطي) ، حکاکي، خاتَم کاري، هيکل تورنه، ګنډنې، ګلدوزي، زرګري، د اوبدلو ډولونه او ددې ډول هنرونو او ظريفه صنايعو نور ډېر ډولونه دي.
له معنوي پلوه د خلکو انګېرنې اسُطورې، کيسې، فالونه، روايتونه، متلونه، سندرې، ټوکې او طنزونه، رزمي شعرونه او داسې نور، چې د ټولو خلکو د خيالونو، هيلو، تعقل، نوښتونو او ادراکونو د ټولنيزو پوهو لاسته راوړنه او پايله ده، چې د خلکو د ښکلا پېژندنې، عاداتو او ورتياوو، معيارونو ښودونکی دی، چې د مادّي او معنوي پانګو د ميراث په ډول له پخوانيو څخه اوسنيو ته را لېږدول شوي دي.
فولکلور چې د فرهنګ عمده برخه جوړوي، انګليسي کلمه ده او ژرمانيکه ريښه لري. د دوو برخو (فولکك) د خلکو او (لور) د حکمت، عقل او پوهې په معنا دي، چې د ټولو خلکو پوهه او عقل تر مطالعې لاندې نيسي.
زموږ فرهنګ(فولکلور) د بېلا بېلو ابعادو لرونکی دی، د فولکلور يو له دې ابعادو څخه د خلکو سنن او لرغوني دودونه دي، لکه څنګه چې دي، هماغسې دې راغونډ، ثبت او وساتل شي لکه: اُسطورې، کيسې، متلونه، رزمي او حمّاسي شعرونه، سندرې او سرودونه، لنډۍ، ټوکې ټکالې (مطايبې)، پوهې، روايتونه او داسې نور ډولونه يې دي.
د فولکلور بله برخه دودونه او رواجونه دي لکه: نوي کا ل، واده، وير، جشنونه، عاشورا، برات، عُرس د خوړو د پخولو لارې چارې او د مېلمه پالنې دودونه او مراسم، د جامو ډولونه، سيالۍ او ددې په شان سلګونو نور ډولونه او نښې چې د تېرو شوو زمانو په اوږدوکې يې د ټولنيزو غوښتنو له مخې بدلونونه



Calture G-12 Pashto.indd 1 8/16/2011 10:22:17 AM

ليدلي دي او تر موږه رارسېدلي دي.
اوس چې زموږ د خلکو فرهنګ د هغو سمعي، بصري او ټولنيزو اطلاعاتي وسايلو د آسانتياوو په منځ ته راتلو سره د پرديو فرهنګونو تر اغېزې لاندې راغلی دی خو؛ په يقين سره د مشرانو، روحانيونو، د مدرسو او پوهنتونونو استاذانو او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې ستونزې ته پام دی چې په ګټورو اقداماتوسره زموږ د اصيل افغاني او اسلامي فرهنګ ساتنه کوي.
زموږ د فرهنګ دريمه خوا زموږ د ټولنې د هنرونو او مستظرفه صنايعو څخه عبارت ده، چې د ختيځ او اسلامي اصيل او ظريف هنر د معمارۍ نمونې، لاسي صنايع او هنرونه لکه: مسګري، زرګري، د لرګي مستظرفه صنايع، حکاکي، حجاري، کاشي کاري، خا تَم کاري، انځورګري، خطاطي او ښکلي ليکنې، د (مالوچو له تاره، د کنپکي او د غنمو له دروزو) څخه اوبدل، غالۍ اوبدل، د لرګينو کورونو جوړول، څپري کورونه، خيمه او کېږدۍ، ګلدوزي، پوستين او د چپنې ګنډل او په سلګونو داسې نورو ډولونو څخه عبارت دی.
دغه ارزښتناکه فرهنګي ميراثونه چې هنري، صنعتي او اقتصادي ارزښت لري د هېواد په هره برخه کې د هغو د اصالت په ساتلو سره يې تکامل، ودې او پر مختګ ته عموميت ورکړو.
زموږ د فرهنګ څلورمه خوا د هغې پراخې فرهنګي حوزې له علمي، فرهنګي، تاريخي، سياسي شخصيتونو، شاعرانو، مؤرخينو څخه عبارت ده چې زموږ هېواد هم پکې شامل دی، نوموړي شخصيتونه هم زموږ د هېواد او هم ددې لوی فرهنګي حوزې د ګډو هېوادونو ګډ وياړونه دي.
ګرانو زده کوونکو دغه ټول مطالب او فرهنګي پديدې چې مو يادې کړې ستاسې ددرسي کتابونو په متنونو کې مو لوستلي او ستاسې په لاسونو کې دي. د ثانوي دورې په ټولګيوکې د فرهنګ مضمون په لوستلو سره تاسوته د خلکو بېلا بېل او بډای فرهنګ د پيژندلو له پاره يوه کړکۍ خلاصه شوه، اوس ستاسو په همت او شهامت پورې اړه لري چې د خپلو خلکو د فرهنګ په راټولولوکې کوښښ او هلې ځلې وکړئ او بيا هغه ټولې لاس ته راوړنې د لېسې اړوند آرشيف ته وسپارئ او ساتنه يې وکړئ، ترڅو چې ستاسې دغه پر ځای حرکت زموږ د خلکو د سرتاسري ملّی يووالي په ټينګښت کې لا هم ډېر ګټور او اغيزمن وي او همدارنګه د خپل اصيل فرهنګ په ساتنه کې مو په زړه پورې برخه اخيستې وي.



Calture G-12 Pashto.indd 2 8/16/2011 10:22:17 AM

## د کتاب ټولې موخې او هدفونه

۱- دا کتاب کولی شي چې په ټولیزه توګه د خلکو ترمنځ د ملّي یووالي په ټینګښت کې لازیات رول ولوبوي.

۲- د خلکو بېلا بېلو فرهنګونو ته به په زده کوونکو کې د درناوی روحیه پیاوړې شي او زده کوونکي به زموږ د هېواد د ګوټ ګوټ فرهنګ سره به بلد شي.

۳- د زده کوونکو پوهه به په دې برخه کې وده او پراختیا ومومي او پوه به شي چې: زموږ د خلکو فرهنګ زموږ د هېواد هویت د نړۍ په کچه معرفي کوي.

٤- د زده کوونکو ورتیاوې به په دې اساس پراختیا و مومي چې زموږ د فرهنګ محوري او مرکزي ارزښتونه به موږ دیوه افغان په توګه معرفي کړي.

زده کوونکي دې داسې وړتیا پیدا کړي چې د خپلې سیمې له ځانګړي فرهنګ سربیره زموږ د هېواد د نورو سیمو فرهنګونو سره مینه ولري، زده یې کړي او پوه شي چې هغه هم ددوی ملّي پانګې دي او په هغې باندې د افغانستان د ټولو خلکو د فرهنګ په توګه ووياړي.

ددې کتاب لوستل له دې مخې ارزښت لري چې:

د فرهنګ مضمون ته د هېواد په تعلیمي نصاب کې نوی ځای ورکړ شوی دی او تاسې به په یقیني توګه د خپلو خلکو او ټولنې د فرهنګي ځانګړتیاوو، ځرنګوالي او ارزښت څخه خبر شئ.

لکه څرنګه چې فرهنګ زموږ د ټولنې د ملّي هویت ورپیژندونکی او د یوه ګډ میراث په توګه، ټولو خلکو پورې اړه لري.

تاسې زموږ د خلکو او هېواد د بډای او غني فرهنګ سره له مخکې بلدتیا لرئ او ددې کتاب په لوستلو سره به د هېواد د بېلابېلو سیمو او ولایتونو د خلکو له فرهنګ او دودونو سره به بلد شئ او له دې سره به د ټولو خلکو د ګډ فرهنګ په توګه ډېره مینه پیدا کړئ او د هغې په بیا ژوندي کولو، ساتنه، وده او پراختیا کې به زیار او کوښښ وکړئ.

خپل فرهنګي اصالت به وساتئ او د بهرنیو هېوادونو فرهنګونو ته به درناوی ولرئ.

زده کوونکي به ددې کتاب په لوستلو، د ښوونکي په مرسته او مشارکت ددې د محتواوو (منځپانګو) او موضوعاتو سره د سؤال او ځواب په لارو چارو بلد شي او ددې درسونو په یادولو او زده کولو کې به ډېرې تجربې تر لاسه کړي.



Calture G-12 Pashto.indd 3 8/16/2011 10:22:17 AM

## د لومړي څپرکي موخې

په دې څپرکي کې زده کوونکي د پسرلي په ارزښت، د کال په نوي کېدو او د طبیعت د بیا ژوندي کېدلو سره آشنا کېږي او هم پوهېږي چې زموږ د هېواد خلك د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د نوي کال مراسم په کوم ډول ترسره کوي.

زده کوونکي به د انسان د بدني او روحي قواوو په تازه کولوکې د مېلو په ارزښت او اړتیاوو پوه شي او د واده د مراسمو سره چې د اسلامي سنتونو اوزموږ د خلکو ډېر لرغوني دودونه دي بلد شي او د واده په ارزښت او اړتیا باندې به چې له هرڅه نه د مخه د ټولنې او کورنۍ نظم ټینګوي آشنا کېږي.

ولې د هېواد له خپلواکۍ څخه لمانځنه کوو؟ د هغې په ارزښت به ځانونه پوه کړي. او د جشنونو د لمانځلو په اړتیاوو به پوه شي.

د پخوانیو مشرانو، پوهانو او مشایخو د تلین (عُرسونو) مراسمو پرځای کول او د هغوی علمي او روحاني مقام ته په درنه سترګه کتل.

د دیني مراسمو پرځای کول، د روژې په میاشت کې چې له کومو ځانګړو سنتونو څخه پیروي کېږي، د کوچني اختر او لوی اختر مراسم او د عاشورا او برات د لمانځلو لاملونه به وپېژني.

زده کوونکي پوهېږي، چې فال نیول د خلکو انګېرنې دي، د ویر او ماتم دودونه زموږ د خلکو د ژوند یوه برخه ده که څه هم دا عقیدې کومه دیني او شرعي سرچینه نه لري.



(۱) تصویر لاله زار



Calture G-12 Pashto.indd 4 8/16/2011 10:22:21 AM

## لومړی څپرکی

## د لمانځنې دودونه

### لومړی او دویم لوستونه

### نوی کال او د بزګر مېله

- نوی کال د خلکو په ژوند کې کوم بدلونونه راوړي؟

نـوی کال او د بزګـر مېله زمـوږ د پخوانیو پراخو او عامـو دودونو، زموږ د نیکونو د غوره سـنتونو د ښکارندوی او د طبیعت د بیا را ژوندي کېدلو بېلګه، او د طبیعت ښکلاوو، غوړېدنې، نوي ژوند او د طبیعت سره دانسان اړیکه ده.

د نوي کال پیل د تورتمونو سره د رڼا د مقابلې پر لور نښه، د زړونو د یوکېدلو او د یو موټی کېدلو پیغام راوړونکی، د خوښت جشن چې د انسان په روح او روان باندې ژوره اغیزه لري، دی.

د نوي کال جشن که څه هم دیني منشأ نه لري؛ خو دا هغه لرغونی دود دی، چې د خلکو د طبیعي ژوند د چاپېریال د شرایطو د ټولګې څخه را زېږېدلې او د لرغوني آریانا په پراخې فرهنګي جغرافیایي سیمه کې پرته له دې چې په کوم ځانګړي قوم یا قبیلې پورې اړه ولري او زموږ د تمدني پراخې حوزې د خلکو د ګډو میراثونو وړانګې دي چې بېلا بېل فرهنګونه یې په خپله غېږه کې روزلي دي.

نوی کال د کورنی او ټولنیز ژوند د هلوځلو، خوښت، جوړونې، یو موټی کېدلو، لارو چارو زېری راوړي.

په نـوي کال کې هر څـوک چې هـر ځای کې وي هڅـه کـوي د کا ل په لومـړی ورځ د خپلې کورنی سـره یو ځای شـي، چې د کال د بدلېدلو پـه مهال د خپلې کورنی د غړو په منځ کې د نوي کال دسـترخوان په خواکې ناست وي. او هغه یو لرغونی دودګڼي، د طبیعت په څېره کې د ژوند د نوي کېدلو نېک فا ل نیسي او د نوي کا ل په راتلو



(۲) تصویر د نیالګیو کېنول



Calture G-12 Pashto.indd 5 8/16/2011 10:22:22 AM

خوشحالی کوي چې خپل روح او روان له هغه طبیعت سره چې الله(ج) پیدا کړي دي برابر کړي. انسان د ژمي په تېرېدلو او د پسرلي په راتلوسره د زړه او فکر شخه ناوړه او زاړه خیالونه لرې کوي او د کورونو د ساماں په ټکو هلو او پاکولو سره د طبیعت سره مل کېږي، چې دغه ترون زموږ په سیمه کې په شعر او ادبیاتو کې پراخه انعکاس لري؛ لکه زموږ د هېواد نامتو شاعر ښکارندوی غوري پخپله بولله کې داسې ویلي دي:

## پسرلی

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه | بیایې ولونل په غرونو کې لالونه
ځمکه شنه لاښونه شنه لمنې شنې شوې | طیلسان زمر دي واغوسته غرونه
د نیسان مشاطې لاس د مچېدو دی | مرغلرو بــــاندې وښکلل بڼونه
د غټولو جنډې خاندي و ریــــدي ته | زرغونو بڼوکې ناخي ځلمي جونه
لکه ناوې چې سور ټیک په تندي وکا | هسی وګاڼل غټــولو سره پسولونه
مرغلرې چې اورو، وخــــونــــولیه | په ځلایې شوه رانه خپاره دښتونه
سپینې واورې وېلېده کاندي بــهېږي | لکه اوښې د مین پــــه ګریوانونه
هریلو دګلو وږم دی لونـــــلـــی | ته وا راغله له خُتنه کـــار وانونه
د مسیح په پو به مړو ژوندون بیاموند | پسرلی مګر مسیح سو په پوکړنه

لـه مړو خاورو یې آغلی ګل راویـوست
وچ بېدیا او غریې کـړلـــه جنتونه

### زموږ په هېواد کې د نوي کال جشنونه

### الف:- په کابل کې

د نوي کال د راتلو یوه لویه نښه پـه کابل کې د مهاجرو مرغانو د آوازونـو اورېدل دي، چې له تودو سیمو شخه بېرته راګرځي، په منظمو کتارونوکې د کابل د فضا شخه تېرېږي، په خپلو زړه راښکونکو او ښکلو آوازونو سره د پسرلي د راتلو زېری راوړي.



(۳) تصویر دنوي کال دسترخوان

په کابل کې لـه پخواڅخه دا



Calture G-12 Pashto.indd 6 8/16/2011 10:22:23 AM

دود ؤ چې خلک به دکال په لومړیوکې د علی آباد د غره لمن، خواجه صفا، د بابر شاه بڼ، پغمان، ګل غُونډۍ، استالف او نورو سیل ځایونو ته تلل، د نیالګیو په کېنولو، لوبې او سالم سیلونه، د ځارویو او مرغانو ننداري، د بزګرمېله او دخوشحالیو نور ډولونه به یې لمانځل.

د وري (حمل) د میاشتې په لومړۍ شپه به خلکو په اوو ډولوخوراکونو باندې خپل دسترخوانونه ښایسته کول، چې هغه به یې د (هفت سینو) دسترخوان په نوم یا دول. شتمنو خلکو به د نوي کال دستر خوانونه د پالکو په سبو، سپین چلو، سپین بانګې (چرګ)، کباب، جلبی، غوښو(د غوايي او پسه)، سمبوسو،ورجينه(کوماچ) او غوړې ډوډۍ(پراټو)، سنځلو، منو، هوږه، مستو او په داسې نورو خوږو سره به یې ښایسته کوله چې دا دودونه تراوسه هم دوام لري.

## ب:- نوی کال په مزار شریف کې

د نوي کال پرتمین مراسم په مزار شریف کې د مبارکې جنډې په پورته کولو او د(ګل سرخ) په دودیزه میله کې لمانځل کېږي. په لسګونو زره خلک زموږ دهېواد له هرې سیمې او له ګاونډیو هېوادونو څخه مزار شريف ته ځي، اود دې مېلو او مراسمو ننداره کوي.

په دې مراسمو کې ډول ډول ننداري او لوبې ترسره کېږي، خلک د ډول ډول خوږو او میوو او د نوو رنګا رنګو جامو په اغوستلوسره د ښکلي طبیعت په غېږ کې د غاټول دګلونو او له شنو وښو څخه په ډکو او پراخو دښتو، چمنونو، ځنګلونو او بڼونو کې ګرځي، مېلې او سیلونه کوي. خپل خواړه په شریکو دسترخوانونو کې د طبیعت په غېږ او آزاده هوا کې خوري او د نېکمرغۍ او سوکالۍ په هیلو سره یو بل ته د نوي کال مبارکي وايي.



(۴) تصویر

## ج:- د نوي کال جشن په هرات کې

د هرات خلک د نوي کال ورځې د تخت صفر په ارغوان زار، د ګازرګاه د غره په لمن، د خیابان په محلـه، د قرنفل چینې په غاړه، باغ زنانه (ښځینه بڼ)، د مصلاّ منارو په خوا، دحضرت مولینا جامي د آرامګاه په انګړ کې، د میفروش ناحیه، د شش



(۵) تصویر



Calture G-12 Pashto.indd 7 8/16/2011 10:22:25 AM

نور محلهٔ، د شــهزاده یعقوب محله، د پل مالان محله او پل پښــتون محله کې د خوشحالیو ځخه په ډکه او ښکلې فضا کې د نوي کال استقبال کوي او یو بل ته مبارکي وایي.

د شهزاده قاسم او د شهزاده عبدالله د باغچو انګړ د ښځو د سیل لپاره ځانګړې شوی دي.

ښځې د پخلي لوازمو سره هغې ښکلي او تازه باغستان ته ځي او په دیګچه پزاني او نورو خوشحالیو سره د نوي کال جشن نمانځي.

د هرات دخلکو دا دود دی چې د وری (حمل) په لومړۍ شپه سپین چرګ د پلو او سبو سره پخوي او د نوي کال دستر خوان په اوو میوو سره سینګار وي.

بزګران د یوې (قلبې) کولو او د نیالګیو کېنولو دودونه د نغارې او شپیلی په غږولوسره پیل کوي.

د نوي کال د دودونو ځخه یوبل دود نوو کوږده شــوو ته د دســتمال (خوانچه) استول دي. دستمال په رنګارنګ ګلونو سینګاروي، ښکلې جامې او قیمتي شالونه په هغې کې نغاړي او د ځانګړو سندرو سره یې د واده کورته ورلېږي.



(۶) تصویر

شــتمن خلک د ګاڼو کوچني ښکلي بکسونه، زري بالښتونه، په اطلســو پوښل شوي قندونه، ډول ډول حلواګانو او نبات ســره سینګار شوی دســتمال د خوږ غږو ســندرغاړو سره د نجلۍ کورته لېږي او داسې ترانې وایي.

توشاخ پرګلی من برګ زردم
تو شور خنده ای من آه سردم
تـــو خورشیدی منم سیارهٔ تو
مرا بګذار که تا دورت بګردم

یا دا سندره

سورشال یې په سرکړ په مکیز باندې روانه شوه        دا د ډېره نازه لکه زرکه خرامانه شوه

## نوی کال د هلمند او کندهار په ولایتونوکې

په هلمند او کندهار کې د نوي کال د ورځو دودونه او رواجونه لمانځل ډېر په زړه پورې او دلیدلو وړ دي. په عمومي ډول د پسرلي په پیل سره بزګران د طبیعت له تازه پاکې هواګټې اخیستلو سره د نیالګیو په کېنولو او کرکیله باندې لاس پورې کوي.

خلک نوې او پاکې جامې اغوندي او پسرلی بدرګه کوي.

د کال په لومړیو ورځوکې د هیرمند په ناوه کې ماشومان، ځوانان، ښځې اوسړي د خلیج په سیمه کې



Calture G-12 Pashto.indd 8 8/16/2011 10:22:26 AM

را ټولېږي، د نوي کال په وياړ خوشحالي کوي.
د کندهــار با ذوقه او خوش مشــربه خلــك هم هيرمند ته ځي او د خليج پــه تفريح ځای کې مېلې کوي. ښــځې خپل بېل محفلونه جوړوي او دســندرو په ويلو سره خپلو غونډو ته ځانګړی رنګ او ځلا وربښي. په عمومي توګه د پسرلي په موسم کې دځوانانو تفريح او خوشحالی لکه د نښو ويشتل، سانګه وهل، حلقې اخيستل او ملّی اتڼ دی.
په نوي کال کې د ښــکلو او رنګا رنګ جامو اغوســتل، دسترګو تورول، په نکريزو د سر او ږيرې رنګول خپل ځانګړي خوندونه لري.

## نوی کال په هزاره جاتو او غزني کې

د هزاره جاتو او غزني خلکو ته نوی کال او د بزګر مېله يو لرغونی او تاريخي جشن دی.



(۷) تصوير

د هزاره وو کورنی د نوي کال په شــپه خپل دسترخوان په ډول ډول خوارړو باندې ښايسته کوي.
د نوی کال د حلوا او سمنک د پخولو مراسم په ځانګړو تشريفاتو سره تر سره کېږي.
ښځې او نجونې ځانګړې سيمه ييز اتڼ چې د پِشــپَو pishpaw يا د ارغشتک په نوم يادېږي په شريکه سره کوي او د سر او غاړې په موزونو حرکتونو سره د«پشپَو» دکلمې په زمزمه او تکرار ورغوی ټکوي او ګډېږي.
بېوالان او کروندګر د بوټو او نيالګيو کېنول، کرکيله، د ويالو، کاريزونو، نهرونو، چينو او لختو پاکول په حشر سره سرته رسوي.

## د نوي کال دودونه په بدخشان کې

د بدخشــان په ولايت کې دنوي کال د جشــن دلمانځلو دودونه او د بزګرمېله د فيض آباد ښــار د "سنګ مُهر" په دښته کې د وزلوبې په دوديزې سيالی سره پيل کېږي. او دا په زړه پورې سيالی اوه ورځې دوام مومي.



(۸) تصوير



Calture G-12 Pashto.indd 9 8/16/2011 10:22:28 AM

## د نوي کال دودونه په تخارکې

د نوي کال له راتلو څخه مخکې د خلکو لويې ډلې له رستاق، چاه آب، ينگي قلعه او له نورو ځايونو څخه په ډېره مينه سره د چاه آب د ښار په سويلي برخه کې په لويه دښته چې د«سربازي خيلان» په نوم يادېږي راغونډېږي او د وزلوبې او غېږ نيونې په زړه پورې سياليو پيل کوي.

د «حضرت امام صاحب» په روضه کې د گل سرخ مېله او جهنډې پورته کولو مراسم ترسره کېږي.

په سماوارونو (چاى خانو)کې ټوکيان، مقلّدان، نقّالان او سندرغاړي په خپلو مجلسونو جوړولو، گپ شپ او په خندوونکو خبرو سره نندار چيان را تونديوي او په خوږو او دوه مخو عبارتونو، په خوندورو او نيشدارو ټوکو سره ټول خندوي.

### په ټولگي کې فعاليت

له زده کوونکو څخه دې يوکس د ټولگي مخې ته راشي او دخپلې سيمې د نوي کا ل د دودونو د څرنگوالي په هکله دې خبرې وکړي.

### پوښتنې؟؟؟

- د نوي کال په پيل کې دکورونو د سامان ټکوهل اوپاکول د اسلامي ارزښتونوله پلوه کومې گټې لري؟
- په پسرلي کې دنوي کال په پيل سره د نيالگيو کېنول د اسلام د سپېڅلي دين د لارښوونو له پلوه څومره ارزښت لري؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هغو دودونو په اړه چې د دوی په سيموکې دنوي کا ل په پيل سره ترسره کېږي د کورنيو له مشرانو څخه پوښتنې وکړي، ودې ليکي او په راتلونکي ساعت کې دې ټولگي ته راوړي.


Calture G-12 Pashto.indd 10 8/16/2011 10:22:29 AM

# میلې

مېله څه ته وايي؟

مېله او تفريح د انسان د ستومانتيا دلرې کولو، د روحي او بدني څواک د تازه کولو، د خوښۍ او خوشحالۍ د رامنځ ته کولو لپاره ډېره اړينه ده.



(۹) تصویر په باميان کې مېله

انسان له ورځنيو او اوونيزو کارونو څخه ستومانه کېږي او د اونۍ په وروستيو ورځوکې غواړي چې دمه او تفريح وکړي.

د خلکو هره ډله پخپلو منځوکې راټولېږي، د سيندونو غاړو، شنو درو، باغونو، ښکلو دښتو، د غرونولمنو او ځنګلونو ته ځي، سيلونه او ميلې کوي.

د ميلې ډېر خوندور موسم پسرلی دی، چې ټول طبيعت يکې نوی روح پيداکوي او خپله ښکلې او تازه غېږه د انسانانو د هرکلي له پاره خلاصوي.

زموږ د هېواد د خلکو مشهورې مېلې عبارت دي له:

د بزګرمېله، دګل سرخ مېله، د ارغوان مېله، په ننګرهارکې د نارنج ګل مېله، دکاشکِنک دګل مېله، د سنځلې ګل مېله، د بِهي دګل مېله، د غاټول دګل مېله، مېله جُبه، د باغ لطيف مېله او داسې نورې.



(۱۰) تصویر پغمان

د کابل ښار او دهغې شاوخوا د مېلو ځايونه پغمان، ګل غونډۍ،د بابر بڼ، د چهلستون د ماڼۍ بڼ، د شهرآرا ښځينه بڼ، د جهان آرا باغ او داسې نور.

په پخوانيو وختونوکې په کابل کې مشهورې مېلې وې، چې د باغ لطيف مېله، مېلهٔ جُبه، د شاطرانو مېله، د دوبيانو مېله او داسې نورې چې په لاندې



Calture G-12 Pashto.indd 11 8/16/2011 10:22:31 AM

ډول د هغو مېلو دودونه ګورو:

**الف: په کابل کې د شاطرانو مېله**



(۱۱) تصویر

په کابل کې به شاطران د مېلې لپاره په چارباغ عمومي کې را غونډېدل، لویه کړی به یې جوړوله، اتڼ به یې کاوه، د پخوانیو عیارانو لکه: عمر امیه، د اغولي او بادالله([۱]) سـمرقندي یې یادول او لاندې تصنیف به یې په اوچت آواز سره وایه:

علي حیدر، مدد قمبر علي داماد پیغمبر

د شـاطرانو مشـرتوب بـه د( بابای برق) په غاړه وه. څـه وخت چې به مېله پیل کېدلـه د ده افغانانو، اندرابي، چنداول، کوچهٔ بارانه، کوچه علي رضاخان، سه دکان چنداول، باغوان کوچه، باغ نواب، بـاغ علی مـردان خان، مرادخاني، باغ علم ګنج، درخت شـینګ، کوچهٔ خرابـات، بابای خودی، چارچته او د ریکا خانې خلکو به په ګډه سره په دې مېله کې ګډون او ننداره یې کوله.

**د هرات ښار د شاطرانو مېله**

په پخوا وختونوکې د هرات په ښارکې شاطرانو په دوو ځایونو کې مېلې کولې:
د میر صالح زیارت باغچه او د حوض هوشـمندخان باغچه، د شـاطرانو مېلې به د هرات په ښارکې په دوه موسمونو په پسرلي او مني کې کېدلې. د پلو دیګونه، حلوا، شُوله، غلور(دلده) (د «آش پیر» په نامه پخېدله).

سـوداګرو او شـتمنو خلکو به هم د دې مېلو په جوړېدلو کې برخه اخیسـته او همدارنګه قلندرانو، درویشانو، ملنګانو، کاکه ګانو(عیارانو)، پهلوانانو، سندرغاړو، مقلدانو، مطربانو، ټوکیانو(دلقکانو)، د ښار او دکلیو ټولو خلکو به په دې مېله کې ګډون کاوه او په وړیا توګه به یې د مېلې، سیل او خواړو څخه ګټه اخیستله. د مېلې په میدان کې به برنجي (برونز) سماوارونه جوشیدل، چا ی څښل، میوو خوړل، ټوپ وهل، منډې وهل به له سهاره ترماښامه پورې دوام درلود.

**د باغ لطیف مېله**

دې باغ د کابل د بالاحصار د ارګ په لمنه کې موقعیت درلود، په دې بڼ کې به هر کا ل په پسرلي او دوبي کـې مېلـې جوړېدلې، باغ لطیف یو لوی بڼ و چې د دې په هر ګوټ کې به د رنګا رنګ او خوشـبویه ګلونو، زینتي ونو لکه یاسمن، نسترن، شبوګلانو او داسې نورو بوټو به ددې بڼ په باغچو کې چیپې وهلې. د خوږو آواز لرونکو مرغانو لکه هزار داستان بلبل، (چرنګي، یکه خوان) مرزانو، زرکانو، سایره، قمرۍ

---

۱- ښایي عباد الله وي.



Calture G-12 Pashto.indd 12 8/16/2011 10:22:32 AM

او ګلسر به پکې ښکلې او زړه راښکونکې آوازونه کول او سندرې به یې ویلې.
سماوارچیانو او کبابیانو به خلکو ته چای او کباب ورکول، طوّافان به د بڼ په هرګوټ کې
ګرځېدل او آوازونه به یې کول: « پول داره کباب، بی پوله دود کباب»
ژباړه: «پیسه دارو ته کباب، بې پیسو ته د کبابو بوی»
د هغه وخت د مشهورو سندر غاړو ډلې لکه: سمندر، استاد قربان علي، خلیفه محمد عمر ربابچي،
خلیفه صابر طبله نواز، خلیفه طالع مند او استاد کامو به دا تصنیف په زړه راښکونکو آوازونو سره وایه
او د باغ لطیف میلې ته به یې ځانګړې کیفیت او خوند وربانښه.

موسم ګل باغ لطیف است — بــه خدا باغ لطیف است
همــــــان شــرشرۀ آو — همــــان کش کــدن ګــاو
کـــــرنیل لطیف است — جـــــرنیل لطیف است
به خدا بــاغ لـطیف است
همــــان خواندن صوبی — به خــــدا باغ لطیف است
موسم ګــل باغ لطیف است
بــه خدا باغ لطیف است — بــه خــدا باغ لطیف است

## د جبُې میله

دا میله به د کب د میاشتې په اوړدوکې د نوي کا ل د لومړۍ ورځې پورې د شهدای صالحین په لمن،
په سیاه سنګ او د بابرشاه په باغ کې جوړېدله، او د کابل د خلکو له په زړه پورې میلو څخه وه چې په
دې میله کې به یې د چوب بازي، پهلواني (غېږ نیول)، د نېزې وهلو لوبه او داربازي ښودل کېدل.

## د ارغوان میله

دا میلــه بــه د خواجــه صفــا د غرونــو لمنــو پــه
ارغوان زارو کې کېدله. په دې میله کې به سربېره د
نورو لوبو او ســرګرمیو څخه، د دوستانو په منځ کې
د شطرنج لوبه او مشاعره هم کېدله.
همدارنګه د کابل ښــار خلک به د خواجه سیاران
ارغـوان زار او ګل غوندۍ ته تلل، میله به یې کوله
او د هغې ځای د پاکې، او نرمې هوا او اوبو څخه به
یې خوند اخیسته.



(۱۲) تصویر ګل غنډۍ



Calture G-12 Pashto.indd 13 8/16/2011 10:22:34 AM

### د هېواد د ختيځو سيمو د ولايتونو مېلې


(۱۳) تصوير

په جلال آباد کې د سراج العمارت باغ، د امير شهيد باغ، موی مبارك او د ډولچې بابا مېلې. د نارنج گل مېله، د جلال آباد په سرخ رود کې زموږ د اهل هنودو هېوادوالو د وايساك جشن او مېلې.

د لغمان د مهترلام په ښارکې، په قلعۀ سراج کې د نوي کا ل مېلې، د پهلوان شهيد بابا مېلې، زوړ اليشنگ(۲) باندېو دښته، د شيخ صاحب او بي بي هاجرې مېله.

د نورستان ولايت کې د کالاش د قوم مېلې، د دولت شاه مېله او داسې نور.

## په ټولگي کې فعاليت

څو زده کوونکي دې په خپل وار سره د ټولگي مخې ته راشي او د خپلې سيمې د مېلو په هکله دې خبرې وکړي.

## پوښتنې؟؟؟

- ستاسې په سيمه کې د مېلو کولو ښکلي ځايونه شته نومونه يې واخلئ؟
- زموږ د هېواد د مېلو د مشهورو ځايونو نومونه د هغې د محل سره لست کړئ؟
- آيا زموږ هېواد د يو گرځندوی او سيل گرۍ هېواد په توگه بدلون موندلی شي؟ تاسې په دې برخه کې څه وړانديزونه لرئ؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې دخپلو مشرانو څخه د خپلې سيمې، کلي او ښار د خلکو دلرغونو مېلو په هکله معلومات ترلاسه کړي، پخپلو کتابچو کې دې وليکي او ټولگي ته دې راوړي.

---

۲- ښايي په اصل کې( ايل نشين ) وي

څلورم لوست

# د ماشومانو زېږېدل او دهلکانو سنتولو جشن

د سنتولو جشن څنګه دی؟

ماشــومان د کورنۍ د باغ ښکلي ګلان او نيالګي دي چې د هغوي زېږون په کورنيو کې د خپلوانود ډېرې خوشــحالۍ ســبب ګرځي. نو په همدې سبب کورنۍ د هغوي د زېږېدلو په وخت کې جشن او خوشحالي کوي، د خپلوانو او ګاونډيانو کورونو ته زېري ورلېږي او خواږه وېشي. د دريو ورځو څخه وروسته د ماشوم په غوږکې آذان کوي اونوم ورته ږدي.

کورنۍ د نوي زېږېدلي ماشــوم په نوم اېښــودنه کې ډېر پام کوي، ځکه چې ماشــوم دخپل عمر په اوږدوکې د همدې نوم سره ژوند کوي او د انسان نوم په هغه باندې ډېره زياته روحي اغېزه لري. نو له دې امله کورنۍ د نوم اېښودلو په وخت کې دا لاندې ټکي په پام کې نيسي:

۱- زموږ په اســلامي ټولنه کې د نويو زېږېدل شــوو ماشومانو نوم اېښودل په اسلامي لارښونو او د پيغامبر اکرم(ص) د سنتو په طريقه تر سره کېږي. مسلماني کورنۍ خپلو ماشومانو ته هغسې نومونه غوره کوي چې د الله تعالی(ج) او د پيغمبر اکرم(ص) د خوښۍ سبب وګرځي.

۲- کوچني ماشــومانو ته د پيغامبرانو، اصحابانو، صالحانو او زموږ د هېواد د نوميالیو شخصيتونو نومونه خوښوي او تل کوښښ کوي چې د ماشوم نوم غوره او ښه وجه تسميه ولري.

طبعاً ماشــوم د خپل ژوند په اوږدوکې هغه وتلي او نوميالي شــخصيتونه خپل ځان ته الګو (اعلی مثال) نيســي او تــل خپل ځان د هغــوی په خير



(۱۴) تصوير

ويني، سر ښېره پردې د نوو زېږېد لو نجونو په نوم ايښودلو کې زياتره د ګلانو نومونه ږدي.
لکه: ياسمن، نازبو، بنفشه، شګوفه، ګل غونچه، ګل غوټۍ، ارغوان، نسترن، شقايق او داسې نور.

له نوم ايښودلو څخه وروسته د شپږمې شپې مراسم ترسره کېږي. د نوي زېږېدلي ماشوم کورنۍ يو څه کسان خپل کورته رابلي. بلل شوي مېلمانه له ځانو سره سوغاتونه راوړي، مېلمستيا خوري او ځي.

ماشوم له څلوېښتو ورځو وروسته دخپلوانو له کورونو څخه يوه کورته وړي او دې دود ته (چله ګريز يا څلوېښتي) وايي چې يو ساده مجلس او مېلمستيا هم پکې برابرېږي.

د نوي زېږېدلي هلک په برخه کې يو ډېر مشهور دود د هغه سنتول دي چې هغه يو ميراثي سنت دی او پيغامبر اکرم (ص) پرې لارښوونه کړې دي او ټول پرې پوهېږي. د هغې تر سره کول هم د اسلامي معتقداتو او هم د طبي او روغتيايي غوښتنو له مخې اړين دی، زموږ د هېواد د جنوبي سيمو څخه د يوې سيمې دود چې د افغانستان د نورو سيمو د رواجونو سره په لږتوپير ورته دی د بېلګې په ډول يې ګورو:

## د سنتولو دود د (لوګر) پاد خواب شانه کې

په دې ورځ د خوښۍ جشن او مراسم پرځای کول د هرې کورنۍ د هميشنې هيلو څخه ده. لومړۍ نوی ماشوم چې هلک وي د ټوپکو په ډزو سره د کلي خلک خبروي.

د هلک د سنتولو په جشن کې خلک د مراسمو دګډون اود ډوډۍ لپاره را بلل کېږي.



(۱۵) تصوير

ماشوم ته نوي کالي اغوندي، سترګې يې په رنجو سره توروي بيا د سيمې (نايي) چې په سنتولو کې ښه مهارت لري کورته راغواړي او هغه خپله دنده په مهارت سره ترسره کوي او بيا د سنتولو د خوشحالۍ مراسم په لاندې ډول پيل کېږي:



Calture G-12 Pashto.indd 16 8/16/2011 10:22:38 AM

د ماشــوم کاکا یا یو بل خپل د ســیمه ییز ســاز یوه ډله خپل کورته راغواړي. یو کس خپل ځان د زمري په بڼه جوړوي او د هغې ځاې څخه د ماشوم تر کوره پورې په داسې حال کې چې د مطربانو ډله ســاز او موسـیقي غږوي په ګډاګډا مخکې ځي او په دې ترڅ کې د زمري د حرکاتو پېښــې او تقلیــد کوي، کوم خلك چې ننداريې ته راغلي دي په خنداګانو او د احساســاتو او خوشــحالیو په څرګندولو د هغوی سره یوځای د لارې په اوږدوکې ملګرتوب او هڅونې یې کوي.

ســر بیره پردې زمری کله کله د شــرمبښ د حرکتونو تقلید هم کوي او په هغه رمه چې په نمایشــي ډول دیو شــمېر تنکیو ځوانانو څخه جوړه شــوې ده یرغل کوي او بل کس د شــپون په بڼه کې د تیرو په ګوزارونو ســره (په نمایشــي ډول) شرمبښ له پښــو غورځوي، په دې وخت کې یو بل کس په دې ادعا چې ګنې شــپون دهغه د شــرمبښ پښــه ماته کړې ده غواړي چې دستمال او غوړي ورته راوړل شــي ترڅو هغه د خپل شــرمبښ د ماتې شوې پښې ټپ وتړي او درملنه یې وکړي. د ماشوم خپلوان د دې ادعا په اوریدلو ســره یو ګلدوزي شــوی دســتمال او یوه کاســه غوړي ورته راوړي او ننداره همدلته پای ته رسېږي.

وروسته بیا یوه بله لوبه د ایږې د حرکاتو په تقلید سره په لاندې ډول تر سره کېږي:

د یو څو کورونو مُلِولنه په نمایشــي بڼه جوړوي، ګنې چې په دې کورونو کې کورنۍ ژوند کوي او ایږه هره شــپه راځي او یو ماشــوم له کورونو څخه تښتوي. د کلي خلك په ګډه سره ایږه لټوي او په خپل کورکې نیسي، هغه وژني او ماشومان ژغوري.

په دې توګه د زمري د حرکاتو بله ننداره چې غویي ښکار کوي او ګیدړه هغه غولوي.

د هغه غویي ننداره چې د قصاب له لاسه تښتېدلی دی.

دا ننداريې او تماشــې هره یوه په جلاجلا ډول د غښــتلو، چالاکو او تجربه لرونکو کســانو له خوا ښودل کېږي خو د ټولو لوبو او ننداړو میر یو کس وي، چې تر ټولو څخه ما هر وي او زیات وخت دا نقشونه په یوازې توګه تر سره کوي چې د زمري نوم لري.

دا ننداري او تمثيلونه ډېر په زړه پوري وي او خلك له پيله تر پايه په مينه سره د هغو سيل او تماشه كوي.

د دې ننداړو د پای څخه وروسته لس داني گلدوزي شوي دستمالونه چې له مخكې څخه په دې موخه تيار شــوي وي، يوه اندازه غوړي، د جوارو اوړه او نغدې روپۍ هغه ســړي ته چې د زمري رول يې لوبولی دی د انعام په توگه ورته وركوي او مراسم په خوشحالۍ سره پای ته رسېږي.

## په ټولگي كې فعاليت

- دوه زده كوونكي دې په وارســره د ټولگي مخې ته راشــي او د خپلې ســيمې د ماشــوم د سنتولو (ختنه كولو) د جشن په هكله دې خبرې وكړي.

## پوښتنې؟؟؟

- آيا د سنتولو د جشن لمانځنه ښه كار دی؟ كه ښه كار وي لاملونه يې ووياياست.
- تاسې كله د ماشوم د سنتولو د جشن په خوشحالۍ كې گډون كړی دی؟ كه گډون موكړی وي د هغې څرنگوالی بيان كړئ.

## كورنۍ دنده

- زده كوونكي دې له خپلو خپلوانو څخه د ماشــوم د زوكړې او ســنتولو د خوشــحالۍ په هكله معلومات راغونډ كړي او په خپلو كتابچو كې دې وليكي.



Calture G-12 Pashto.indd 18 8/16/2011 10:22:40 AM

پنځم لوست

# د واده دودونه

ستاسې په سیمه کې دواده دودونه په کوم ډول تر سره کېږي؟

واده کول د ځوانانو شرعي مکلفیت او طبیعي اړتیا ده، چې په ټوله نړۍ کې په مساعد وخت ترسره کېږي.

زموږ په ګران هېواد کې په پخوا وختونوکې چې لکه د نن ورځې په څېر ښوونځي او مدرسې ډېرې نه وې او ډېرو ځوانانو زده کړې ته لاس رسي نه درلوده، نوکورنۍ به د اوولس یا اتلس کلونو څخه وروسته د خپلو اولادونو د واده کولو په فکر کې کېدلې. خونن ورځ چې لوستل او لوړې زده کړې د هر ځوان له لومړیو اړتیاوو څخه ګڼل کېږي، د غې ټولنیزې پدیدې د واده کولو عمر هم پورته بېولی دی، ټول یا زیاتره ځوانان تر څو چې د پوهنتون زده کړې یې سرته نه وي رسولې ترهغې د واده کولو سوچ نه کوي.

په هر صورت: په پای کې هغه مساعد، اومناسب وخت رارسیږي او د هلک کورنۍ هوډ کوي، چې خپل زوی ته واده وکړي، دا دودونه له مرکه پیل او څو پړاوونه لري، چې په لاندې ډول سره بیانېږي.

د جنۍ خوښول، مرکه، کوژدن، وَلورَ، د نکریزو شپه، د نکاح او واده کول، د ناوې د بېولو څرنګوالی، او تخت جمعي.

## ۱- د نجلۍ خوښول

د هلک مور او خور یوه نجلۍ په پام کې نیسي، هلک ته یې وا یې، بیا د نژدې خپلوانو سره مشوره کوي او بیایې د غوښتلو لپاره ورځي.

## ۲- د نجلۍ مرکه یا غوښتل

کله چې د هلک کورنۍ یوه نجلۍ د خپل زوي لپاره خوښه کړي، د هلک مور، خور یا کومه ترور یې په پټه د جنۍ کور ته ورځي، د جنۍ د مور او پلار او د جنۍ نظر معلوموي، که چېر ته یې د

هغوی خوښــه درک کړه وروســته بیا د هلکك مور او پلار له څو ســپین ږیرو او ښځو سره د نجلۍ کورنــۍ ته ورځي او لور يې په ښــکاره ډول غواړي. د معمول پــه توګه هغه ویناوې چې د مرکې په وخت کې ویل کېږي ځینې يې په لاندې ډول دي:

((هیله کوو چې زموږ زوی په خپله غلامۍ قبول کړئ)) یا ((موږ ستاســې کورته ستاســې د کور د جارو کولو لپاره راغلي يو)).

زموږ د هېواد په ډېرو ســیمو کې د نجلۍ خوښــول د پلار او مور په واک کې وي او هلکك زیاتره وخت واک نه لري.

زمــوږ د هېــواد په ځینو ســیمو کې د نجلۍ غوښــتل په دریو پړاوونو، د ماشــوم لــه زېږېدلو څخه مخکې، په ماشومتوب او په ځوانۍ کې تر سره کېږي.

مرکې معمولاً څو وارې او يا څو میاشتې اوږدېږي، په پای کې یوه ورځ د جنۍ کور راضي کېږي، بیاڅو پاکټه نقل، خوږه او ځینې وخت تار او ســتن په وربښــمین دســتمال کې تومبي او د هلکك کورنۍ ته يې ډالۍ کوي.

خوږه د حاضرو کسانو په غونډه کې ویشي او کوژدنې د مراسمو له پاره یوه ورځ ټاکي. دغسي دود کابو زموږ د هېواد په ډېرو سیمو کې معمول او دود دی.

په خوږیانیو کې د مرکې د مثبت ځواب په او رېدلو سره د خلکو خبرتیا لپاره سمدستي د ټوپک ډزې کوي او همدارنګه څو ورځې وروسته د کوژدنې محفل تیارېږي او په دې ترڅ کې د خپلوانو ځوانې نجلۍ یوه خوانچه"دګل یاګلانو ټوکرۍ" په وار سره په سر بړدي او د هلکك کور ته يې وړي.

## ۳ - کوژدن او ولور

د کوژدن د مراســمو څخه مخکې د زوم کورنۍ د کوژدن لګښــت چې په معمولي توګه (وریجې، غوړي، غوښــه، میــوه او نور ضرورتونه)، د واده ګانې لکه ګوتــې، د غاړې امېل، د لاس بنګړې، څوجوړه جامې او بوټان او د ناوې د اړتیا نور شــیان اخلي او تیاروي يې او څه نغدې پیســې چې په هغې د نجلۍ پلار خپلې لورته ځینې اړین توکي رانیســي د څو ســپین ږیرو په ملګرتوب يې د چمبې یا رباب او غیچك په ســاز ســره د نجلۍ کورته وړي او ځینې نور خلکك هم را غواړي او ډوډۍ ورکوي.

د دې بلنې او ډوډۍ خوړلو د مراســمو په لړکې د چُله بدل دود هم تر ســره کېږي، د چُلّه بدل له مراسمو څخه وروسته کوژده شوي کولای شي چې کله کله یو له بل سره وګوري.

د هېواد په ډېرو ولایتونو کې زوم سر بیره د واده له لګښتونو څخه د خسر کورنۍ ته (قلینګ، تویانه،



Calture G-12 Pashto.indd 20 8/16/2011 10:22:40 AM

ولور walwar شیربها، گله) هم ورکوي.
پــه ځینــو کورنیو کې چې اقتصادي کمزوري وي او ځوان زامــن او لورګانې ولري؛ نو یوه کورنۍ خپله لور د هغه بلې کورنۍ زوی ته او د هغه لور خپل زوی ته کوي چې دې دود ته بدل، وایي.
البته دغه ډول واده چې په اسلامي فقه کې ورته د «شغار» نکاح وایي په شریعت کې منع شوی دی.
لکه د حضرت عبدالله ابن عمر (رض) څخه روایت دی چې رســول الله مبارك د شــغار له نکاح کولو څخه منع کړې ده.

### ۴- د نکریزو شپه

په معمولي توګه له واده څخه یوه شــپه مخکې د واده په کور کې خپلوانې ښــځې راغونډ ېږي، د هلك مور یوه اندازه نکریزې برابروي او د ټولو په لاسونو یې ږدي او نجونې دا سندره په خوندور آواز سره وایي:

شپه ده د نــکــریـــزو جنــکــۍ ټُمبل و هینه  خـــــلك د هر خــــوانه په واده راغلي دینه
نن په دې نکریزو کې د دوو مینو زړونه دي  زړونو کې ځای شوي سره ګلونه ډلې ډلې دي
ددغو سرو ګلونو خــوشبویــي دلــته راځینه  خــــــلك د هـــر خوانه په واده راغلي دینه
شپه ده د نکریزو جنـــــکـــۍ ټُمبل و هـــینه  خــــــلك د هـــر خوانه په واده راغلي دینه

یا په دري ژبه داسې سندرې:

امشب چـــه شب است؟ شب حنا بندان است  حنا بــــــیارین، با دستش بمـالین!
امشب چه شب است که تیل خاك می سوزه؟  حنا بــــــیارین، با دستش بمـالین!
کـــــاکای کـــلان پــــــدر وکیل مــی باشــد  حنا بـــــــیارین بـــا دستش بمالین
از آمـــــدنت اگـــــــــــر خبر مـــی داشتم  پیش قدمت خرمن گل می کاشتم
گــل مـــی کــــاشتم گـل گــلاب می کاشتم  خاك قدمت به دیده می ورداشتم

حنــا بیارین، بـــا دستش بمالین!

### ۵- د نکاح تړلو مراسم

د اسلامي سنتونو اصلي ترین او مهم ترین اصل شرعي نکاح کول دي.
په دې غونډه کې خپلوان، دوســتان، کلیوال، ګاونډیان، د کلي مولوي او ډېر میلمانه را بلل کېږي. ډېر پخلی کوي او میلمنوته ډوډۍ ورکوي. ځینې خلك د واده کور ته څه پیســې یا وزې او پسونه د مرستې په توګه راوړي چې په هزاره جاتو کې د(نیم آوري) په نوم یادېږي.
د هېواد په شمالي سیمو کې زیاتره د واده په مراسمو کې وزلوبه هم کوي.
په نورستان کې لومړی نکاح تړي بیا ډوډۍ خوري، ځکه د هغوی په ګومان له نکاح څخه مخکې

ډوډۍ خوړل ښه نه دي.
د ناوې لپاره خپل ځانګړی ځای تیاروي او هغه یې چې په اوو قلمونو سره سینګار کړې وي راوړي یې او په هغه ښکلي اوزړه راښکوونکي ځای کې یې کښېنوي. د ناوې د راتلو سره سم سندرغاړي(مطربان) چې له مخکې څخه تیاروي د((آستابرو)) سندره په زړه راښکونکي آواز په لاندې ډول سره وایي:


(۱۶) تصویر وزلوبه

آستا بـــــرو! مـــــاه مـن آستابرو!
مـن آمـــده ام تـــرا بـبینم بـــروم
حنـا بـه کف پـایش بمـانم بـــروم
عشق تو بلای جـان درویش من است
بیگانه نمی شود مگر خویش من است

آستا برو دختر خـــان آستا برو!
آستا بـــرو ماه تمـام آستا برو
آستا بـرو مـاه تابان آستا بـرو
آستا بـــرو شاه خوبان آستا برو
آستا بـــرو ماه تمام آستا بـــرو

په دې سندرې سره ناوې په داسې حال کې چې یو شمېر ښځو لکه: مور، خویندو او دکورنۍ نورو ښځو هغه له متو څخه نیولې وي، ورو ورو قدم اخلي او د خپلې نېکبختۍ ځای ته رسېږي او کښېني.
په دې شیبه کې دوه کسه شاهدان راځي، او له ناوې څخه چې د نازکې پردې ترشا د ښځو په منځ کې ناسته وي پوښتنه کوي:
خورې! خورې! ستا د مَهر او نفس وکیل څوک دی؟
ناوې له درنګ سره له څو پوښتنو وروسته یو له نژدې خپلوانو څخه چې شرعي محرم وي، د خپل نفس او مَهر د وکیل په توګه یې ټاکي. شاهدان له ټاکل شوي وکیل سره د مشرانو او مولوي مجلس ته راځي، مولوي صاحب له هغوی څخه پوښتنه کوي: تاسې له کوم ځای راغلئ او د څه شي



(۱۷) تصویر. د واده صحنه

حکم مو راوړی؟ شاهدان وایي(( د عدالت له ښــاره راغلو او په دی سرېي مو د وکالت حکم راوړی دی.)) او په ځانګړي بیان او د شهادت د کلمــې په ویلو ســره وایي چې(( موږ حاضر او شــاهدان وو چې بي بي فلانۍ د فلانی لور دغه ســړی د خپل حلال نفــس او مهر وکیل ګرځولی دی))، مولوي له وکیل څخه پوښــته کوي: تاسې وکالت قبول کړی دی؟ هغه وایي ((هو))، بیا وکیل مهر ټاکي، زوم او د زوم پلار هغه قبلوي او بیا مولوي د وکیل څخه پوښــته کوي چې ددې ټاکل شــوي مهر په بدل دې د فلانۍ جنۍ نفس په شــرعي نکاح ســره چې مخکې دې توافق کړی و او اوس هم موافقه لرې؟ دې ځوان ته (د زوم لورې ته اشاره کوي) ورکړی دې وه او ورکــوې یــې؟ طبعاً وکیل موافقه کوي او مولوي د نکاح خطبه لولي. وروســته نقل، خوږه او میوه حاضرینو ته ویشل کېږي او ټول خلک د هلک او جنۍ کورنیو ته مبارکي وایي.

## ۷- د ناوې د وړلو څرنګوالی



(۱۸) تصویر . په دودیزه توګه د ناوې وړل

د هېــواد په زیاترو ســیمو کې لــه پخوا څخه د ورځې په ســهار چې د شــپې نکاح تړل شوې وي، که چېرته نــاوې بل کلي ته وړي، ناوې او زوم په دوه ســینګار شوو آســونو باندې سپروي او په داســې حال کې چې د ناوې د آس قیضه د نــاوې ماما نیولــې وي او ســازیان، دنبوره او غیچک غږوي او داسې سندرې وایي:

شاه بر آمد خانه هی

چشمان شاه مستانه هی

یا دا ډول خلوریزې:



Calture G-12 Pashto.indd 23 8/16/2011 10:22:47 AM

بهار تموس به هم مبارك بادا — دو پـرطاووس به هم مبارك بادا
دو پر طاووس، دو غنچهٔ گل — داماد و عروس به هم مبارك بادا

په پښتنو سيمو کې دا سندرې د هلك په کورکې نجونې وايي:

هلك نـرى چـنار دى جنې د گلو ونـه — په سر يې زرين شال دى په غاړه اميلونه
چـــې مـــازيگر پرې ښه ښکارېږي — بـسم الـله خـــورې ولـــــــې
هغې جـــلۍ ته مور منگى نه ورکوينه — هلك نرى چنار دى جنې د گـلو ونــه
په سر يې زرين شال دى په غاړه امـيلونه

زما د خيال جــــــامـې دې نــورې — بـسم الـلـه خــــــورې ولـــــې
دا سور کميس د يـــــار لپاره گرځومه — هـــلك نرى چنار دى جنې د گلو ونه
په سر يې زرين شال دى په غاړه امـيلونه

زمـا د لــــــرې وطــن يـــــــاره — بـــسم الـله خــــــورې ولـــې
سپينې سپوږ مۍ ته سلام کړه سلام به کړمه — هــــلك نرى چنار دى جنې د گلو ونه
په سريې زرين شال دى په غاړه اميلونه



(۱۹) تصوير. د ناوې بوول



(۲۰) تصوير. د واده گلپوښ شوي موټر

يــو ځوان د مطربانو پــه مخکې نڅاکوي او ډېرو خلکو چې په دې خوشـحالۍ او ښـادۍ کې گډون کـړى وي زوم او ناوې سپرلۍ په سندرو سره دکلي تر بهر بدرگه کوي او ناوې د زوم کورته بيايي.

په شـغنان کــې ښـځې بامونو تــه خېژي چمبې و هي او خوشحالي کوي.

د نيمــروز پــه ولايــت کې(زمــوږ بلــوڅ هېــوادوال) نــاوې او زوم پــه اوښ باندې چې په شــايې ورته دوه کســيز زين وهلى وي سپروي او د زوم کورته يې بيايي.

په ترکمن مېشــتو سيمو، وردگ او غزني کــې دوه ځانگــړې کجــاوې د ســينگار شــوي اوښ په شــا باندې ځوړندوي، په يوه کجاوه کې نــاوې او په بله کې د ناوې



Calture G-12 Pashto.indd 24 8/16/2011 10:22:49 AM



(۲۱) تصویر. د اوښ په واسطه په
کجاوه کې د ناوې وړل

دوه خپلوانې ښځې کېنېنوي او ناوې د هلك كورته بيايي.

د پيچ په دره کې کـه د زوم کور ډېر لرې نـه وي د ماښـام په تورتم ناوې په داسې حال کې چې خپلوانو( وروڼو، ماماگانو او تروڼو) يې د څلورو خواوو څخه د شال کنجونه د ناوې په سر د چتر په ډول نيولي وي او نـاوې دکورنۍ د خپلوانو ښـځو په منځ کې د هلك كورته پلې بيايي؛ خو په دې وروستيو کې په ښارونو او آن په کليو کې ناوې په موټـرو کې چې د کاغذي او مصنوعي گلانو په واسطه گل پوښ شوي وي د هلك كورته بيايي.

د نـاوې او زوم لپـاره يـوه بېلـه ښـکلې کوټه(حجله) جوړوي، تخت پکې ږدي، ښکلې گلدوزي شوې پردې يې په کړکيو ورته ځړولې وي چې ناوې او هلك په هغې کې د خپل خوږ ژوند لومړنۍ شـپې او ورځې چې د زړه راښکونکو خيالونو او هيجاناتو څخه ډکې وي پيل کوي.

(ماه عسل) د شاعر د دې شعر په مصداق سره:

شب زفاف کم از صبح پادشاهی نیست- به شرط آنکه پسر را پدر کند داماد

په ترکمنو خلکو کې دا عادت دی: کله چې زوم حجلې ته ننوځي، شيريني، نبات، غوزان، بادام، نقل او چاکليټ چې په لوی دسـتمال کې يې د ځان سـره راوړي وي د ناوې په سـر او د حجلې په څلورو کنجونو او منځ کې شيندي.

## ۸ - تخت جمعي(اوومه)

تخت جمعي يا اوومه په معمولي توگه درې يا اوو ورځې وروسته تر سره کېږي.

زموږ د هېواد په ځينو سـيمو کې د نجلۍ کورنۍ تر اوو ورځو پورې د سـهار د چای په وخت کې يوه يادوه مجمې پراټې دخپلې لور كورته ورلېږي او د هلك كورنۍ يې هم پخپله خوري او هم يې د نورو خپلوانو كورو ته وېشي.

د تخت جمعي(اوومې) مراســم ښــځینه محفل وي، چې د ګاونډیانو او خپلوانو یو شــمېر ښځې پکــې ګډون کوي. ډېرې وریجې او غو ښــه، قورمه او داســې نور خواړه پخــوي او مېلمنو ته یې ورکوي.
ســینګار شــوې ناوې مجلس ته راولي او کینوي یې. یو کوچنی اووکلن هلک د یوې تازه لښتې په څوکې د ناوې له مخ څخه ســپینه وربښــمینه پرده لېرې کوي او ښــځې د ناوې د مخ په لیدلو سره هغې ته تحفې او ســوغاتونه ورکوي. سوغاتونه معمولاً نغدې پیسې او ګاڼې وي، چې د (رونمایي) په نامه یادېږي.
له دریو ورځو څخه وروسته زوم د خُسر کور ته ځي او د خسر په کورکې دخسر او خواښې لاسونه ښکلوي او هغوی د خپل زوم مخ ښکلوي او زوم په ډېره مینه سره بدرګه کوي.

## په ټولګي کې فعالیت

- یو زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او د خپلې سیمې د واده د دودونو په اړه دې خبرې وکړي.

## پوښتنې؟؟؟

- د واده په دودونوکې باید څومره لګښتونه وشي؟
- څه کول پکار دي چې د واده د مراسمو لګښتونه کم او ساده شي؟

## کورنۍ دنده

- زده کوونکــي دې د خپلــو کورنیو او خپلوانو څخه د واده د ټولو دودونو په هکله معلومات ترلاسه کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.



Calture G-12 Pashto.indd 26 8/16/2011 10:22:51 AM

شپږم لوست

# د خپلواکۍ جشن او د نورو ملَي جشنونو لمانځل

جشن څه شی دی؟ ولې د هېواد د خپلواکۍ د ورځې په مناسبت جشن جوړوو؟

خپلواکــي الهي نعمت دی. ټول انســانان نړۍ ته آزاد راځي خو ټول خلک خپله آزادي ســاتلی نشي، د پېړيو په اوږدو کې يرغلگرو هېوادونو په کمزورو هېوادونو باندې يرغلونه کړي دي. د هغې خلکو سياسي، اقتصادي او فرهنگي خپلواکي يې تروړلې ده او هغوی يې ځپښلي دي.
د لوېمارو په وړاندې د افغانانو د مقاومت د خوځښــتونو تاريخ ددې شــاهد دی چې دغې د ميړنيو هېواد هيڅکله د سکندر او چنگيز په څېر د چپاولگرو په وړاندې سرټيټ کړی نه دی.
لکه د آزادي غوښــتنې په دريو جگړو کې د افغانانو زړور مقاومت زموږ د هېواد د آزادي خوښــو خلکو د زړورتوب نښه ده.
د افغانستان د خپلواکۍ ترلاسه کول تصادفي پېښه نه وه، بلکې ددې خاورې د زرگونو اتلو ځوانانو د وينو ثمره ده، ترڅې چې د برتانوي امپراتورۍ د وخت دولت د مجبوريت له مخې زموږ د هېواد خپلواکي په رسميت وپيژندله.
شــاه امان الله خان غازي زموږ د هېواد د خپلواکۍ گټونکی، چې يو مترقي او مدنيت غوښــتونکی پاچا او ملّي شــخصيت و او د خپل هېواد د سياســي، فرهنگي او اقتصادي استقلال او خپلواکۍ لپــاره يې غوره ملّي فکرونه او خيالونه درلودل چــې له بده مرغه ټول آرمانونه يې تحقق، کمال او پوره والي ته ونه رسيدل.

گرانــو زده کوونکــو مــوږ افغانان بــه د خپلو نيکونــو اود هېواد د ملّــي مبارزينو په څېر د هغــوی لارو تــه دوام ورکــوو. د خپل هېواد د خــاورې د تماميت او د خپلواکۍ د ســاتلو لپــاره به پــه گډه ســره کار کوو، تــرڅو چې پــردي زموږ د هېواد پــه چارو کې د مداخلې او لاسوهنې فکر پيدا نه کړي او زموږ د ملّي يووالي مخه ونه نيسي.



(۲۲) تصوير. د خپلواکۍ څلی

د خپلواکۍ جشــن د یوه هېواد د خلکو او پرګنو د ګډو هلوځلو، مبارزو او مقاومتونو سیاســي او معنوي ارزښتونه دي.

داجشــن چې د خپلواکۍ د جشن په نامه یادېږي هر کال د خلکو، وســله وال پوځ، ملّي پولیســو او د پوهنــې زده کوونکو له خوا پرېټ په نندارو د حضوري چمن په سیمه کې لمانځل کېږي.



(۲۳) تصویر. د خپلواکۍ د جشن مراسم

همدارنګــه د وخت د شــوروي اتحاد په ســرو لښــکرو باندې د اسلامي انقلاب اود افغانستان د خپلــواک او باغیرته ملــت او مجاهدینو بري هرکال د غویي (ثور) په اتمه لمانځل کېږي.

زموږ ګــران هېواد چې ډېر لرغونــی تاریخ لري زمــوږ خلکو پــه پخوا وختونو کــې هم پرتمین جشنونه لمانځل.



(۲۴) تصویر

## په ټولګي کې فعالیت

- یو زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشــي او زموږ د هېواد د خپلواکۍ د جشــن په هکله دې خبرې وکړي.

## پوښتنې؟؟؟

- زموږ د ګران هېواد خلک د خپلواکۍ جشن ولې لمانځي؟
- زموږ په هېواد کې د مجاهدینو د بري جشن په کوم ډول لمانځل کېږي؟

## کورنۍ دنده

- د شــوروي اتحــاد په ســرو لښــکرو بانــدې زمــوږ د خلکــو او مجاهدینو د بري پــه هکله دې زده کوونکي د خپلو مشــرانو څخه معلومات لاس تــه راوړي، په خپلو کتابچو کې دې ولیکي او ټولګي ته دې راوړي.



Calture G-12 Pashto.indd 28 8/16/2011 10:22:56 AM

اووم لوست

# عُرس او زیارتونه

- عرس څه شي دی؟

د عرس مراسم د عارفانو، صو فیانو، د اهل قبلې او سجادې زاهدانو د معنوي مقام د ستاینې په موخه د هغوی له وفات څخه وروسته ترسره کېږي.

دا مراسم زیاتره د هند د شبه قارې د ځینو مسلمانانو په منځ کې دود دي.

د عرس مراسم په معمولي توګه له دوو څخه تر څلورو یا د دریو څخه تر پنځو ورځو پورې دوام کوي او د دې بزرګانو د زېږېدنې او وفات د ورځو په خاطر تر سره کېږي.

د عُرس په لومړۍ شپه په ډېره اندازه عطر، ګلاب او نور معطر کوونکي مواد د صندل د لرګي، د ارې له بورې سره ګډوي او د خمیر په ډول یې جوړوي بیا هغه په کاسو کې اخلي، په آسونو او اوښانو باندې سپرېږي او په ځانګړې آواز سره یې په هر ځای کې ګرځوي او پلي حاضرین د سپرو سره یو ځای د سهار تر آذانه پورې د هغوی ملګرتیا کوي.

دویمه شپه چې د چراغانو په نوم یادېږي، قوّالان تر نیمې شپې پورې په زړه راښکونکو سازونو سره قوالي سندرې وایي او حاضرین ګرد چاپېر ناست او د قوالي زړه راښکونکي آوازونه اوري.

لوی صوفیان لکه خواجه نظام الدین اولیا، خواجه معین الدین چشتي، معروف صوفي علي هجویری غزنوي، خواجه ګیسو دراز او د خواجه حضرات یوسفین مزارونه ډېر زایرین لري او له



Calture G-12 Pashto.indd 29 8/16/2011 10:22:57 AM

ګاونډیو هېوادونو د سلوزرو څخه ډېر کسان د هغو په مزارونو باندې راغونډېږي.

د هند په نیمه وچه کې د عرسونو لرغونتیا نهه سوه کالو ته رسېږي. چې هغه د هند په نیمه وچه کې د افغاني شاهانو د حکومتونو د استقرار دورې سره په یوه زمانه کې قرار لري.

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې هم د عُرس سنت ډېره اوږده لرغونتیا لري او دا دود زموږ له هېواد څخه هند ته تللی دی.

په افغانستان کې چې د زیاترو عارفانو، زاهدانو او پارسایانو هېواد دی دا دود تل ترسره کېده او ترنن ورځې پورې هم دا لرغونی دود دوام لري.

زموږ د ګران هېواد په لویو ښارونو لکه: کابل، هرات، بلخ، غزنی، جلال آباد او کندهار کې د عرفاني او ادبی شخصیتونو لکه: خواجه عبدالله انصاري، حکیم سنایي، مولانا جلال الدین محمد بلخي، حضرت جامي، علی شیرنوایي، میرزا عبدالقادر بیدل، مخدومقلی فراغي، عبدالرحمن بابا او د ځینو نورو صوفیانو او عارفانو غونډې لکه: خواجه معین الدین چشتي، خواجه عبدالقادر جیلاني او د نقشبندیه طریقې د مرشدانو عُرس د دې طریقې د پیروانو په منځ کې هرکال په ټاکلي وخت کې د ځانګړیو مراسمو په ترڅ لمانځل کېده او په هغې کې به ډېرو زیاتو ارادتمندانو برخه اخیستله.

د عُرس په دې محافلو او مجالسو کې د دې صوفیانو او عارفانو شخصیت او مقامونو ته د قدر او قیمت ورکولو سربېره سندر غاړو او د هنرخاوندانو ته د هغوی د هنرونو ښودلو ته هم ښه زمینه برابرېدله، په پای کې به د مېلمستیا په خوړلو د عُرس د خاوندانو په دعا سره محافل پای ته رسېدل.

زموږ په ټولنه کې د عرسونو د جوړولو یوه خوا او موخه پخپل ذات کې زموږ د ټولنې د صوفیانه،

علمـي او عرفانـي فرهنـگ يـو ډول پيژندنـه ده، خـوددې مجلسـونو جـوړول کومه شـرعي منشـأ نه لري.



(۲۵) تصوير

بلـه خـوا او موخه يـې داده چـې په دې محفلونـو کـې زياتـره د هغـو پوهانو له آثارو څخه خبرې کېږي چې هغه خبرې او بحثونـه د (نيکو خويونـو) لکه پوهه، وروړګلـوي، سـوله، مېړانـه ، انصاف، انسـان پالنه او خوا خوږۍ ته د خلکو په منځ په عموميت ورکولو کې ښه اغيزه کوي.

**زيارتونه**

تاسې کله کوم زيارت ته تللې ياست؟

په معمولي توګه زموږ دهېواد په هر ښـار، سـيمه او کليو کې څو زيارتونه ليدل کېږي چې خلك دغو زيارتونو ته ورځي.

وايي چې زيارتونه زياتره اولياوو، متقيانو، شهيدانو، پوهانو، صوفيانو او ملنګانو ته منسوب وي.

د دوی د قبرونو په خواکې کله يوه ونه، يوه تيږه، يوه چينه او کله کوم غار وي.

دا ځايونه په دې سبب زيارتونو ته منسوب شوي دي چې دعامو خلکو د تصور له مخې د کوم درانه پير، صوفي يا د روحاني شخص د اعتکاف ځای، چلّه خانه او مقبره وه او ځينو خلکو د هغوی د پاتې شونو يا د ارادتمندانو په نوم د مقبرې په خواکې د متولي په ډول ځای نيولی وي.

د دې جملې څخه په کابل کې د حضرت شـاه دوشمشـيرهٔ ولي، حضرت تميم انصار، حضرت جابرانصار، عاشقان و عارفان او زموږ د هېواد په ولايتونو کې د نورو زيارتونو نومونه يادولی شو.


Calture G-12 Pashto.indd 31 8/16/2011 10:22:57 AM

دا زیارتونــه کــه د هر چاوي خلك، او زیاتره ښــځې هلته ورځي نذرونیــاز، صدقات، خیراتونه، دعاګانې او ســؤالونه پکې کوي. که څه هم په دغو زیارتونو کې د ځینو اعمالو ترســره کول د اسلام دسپیڅلي دین له حیثه اود دیني عالمانو د ویناوو له مخې د تایید وړ نه دي، اصلاح او تجدید نظر ته اړتیا لري.

## په ټولګي کې فعالیت

ـ زده کوونکي دې په څلورو ډلو وویشــل شــي، دوه ډلې دې د عُرس او دوه ډلې دې د زیارتونو په هکله پخپلو کې بحث وکړي.

## پوښتنې؟؟؟

- د دغو لویانو، پوهانو او روحانیونو د مقامونو لمانځنه زموږ په ټولنه کې څومره ارزښت لري؟
- خلك ولې زیارتونو ته ځي؟

## کورنۍ دنده

ـ زده کوونکي دې دخپلې کورنۍ د مشرانو څخه د عُرسونو او زیارتونو په هکله معلومات تر لاسه کړي او په بل ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.



Calture G-12 Pashto.indd 32 8/16/2011 10:22:59 AM

اتم لوست

# د روژې مبارکه میاشت او د اخترونو نمانځنه

تاسې چې په کومه سیمه کې ژوند کوئ د روژې په مبارکه میاشت او اخترونوکې کوم کوم دودونه شتون لري؟

د روژې مبارکه میاشت زموږ د هېواد اود مسلمانوخلکو په دیني فرهنګ او عقیده کې ځانګړی تقدّس لري او د کال پر نور و میاشتو فضیلت او برتري لري.

د روژې میاشت د قرآن کریم د نزول او د شب قدر میاشت ده او د قرآنکریم د ارشاد له مخې د قدر شپه له زرو شپو ښه غوره ده.

زموږ خلک په دې میاشـــت کې روژه نیســـي، له منهیاتو ښه ځان ساتي او په ښو کارونو باندې لاس پورې کوي، جومات ته روژه ماتې لېږي، او د تراویح لمونځونه اداکوي.

زموږ مســـلمان خلك له ماښــام د اذان سره روژه ماتوي او لمونځ کوي، د ماخستن په لمانځه کې شل رکعته تراویح په جماعت ســـره اداکوي او د تراویحو د اداکولو په ترڅ په زیاترو لویو جوماتو نوکې د قرآنکریم ختمونه هم کېږي.

له سپیده داغ ښه مخکې د پېشلمي ډوډۍ خوړل د روژې د مبارکې میاشتې یو بل سنت دی، چې زموږ د خلکو په دیني عقاید و سره د پېشلمي په خوړلو کې برکت دی او دا کار هغوی ته د روژه نیولو لپاره قوت و ربښي.

د روژې د میاشتې ښه وروسته خلك په ځانګړو مراسمو سره د اختر لمونځ اداکوي.



Calture G-12 Pashto.indd 33 8/16/2011 10:22:59 AM

## کوچنی اختر




(۲۶) تصویر

د شوال د میاشتې په لومړۍ ورځ کوچنی اختروي زموږ خلك د کوچني اختر په راتلو سره يو ډول خوشحالي او خوند احساس کوي او له دې څخه خوورځې مخکې د دې د لمانځلو لپاره تیاری نیسي او د ځانونو، او لادونو او د کورنیو د غړو لپاره نوې جامې تیاروي.

هغه کورنۍ چې زامن يې کوژده شوي وي د اختر په ورځویا خوورځې له اختره مخکې د هغوی د کوژدې لپاره نوي کالي او د(( اختر جوړه)) ور لیږي.



(۲۷) تصویر

زموږ د هیواد مسلمان خلك د اختر د لمونځ څخه مخکې د خپلو روژو سر سایه (د فطر صدقه) غریبو او بې وزلو خلکو ته ورکوي. داکار د انسان دوستۍ نښه ده چې د اختر په ورځو کې د بې وزلو خلکو سره یوه اقتصادي مرسته وي، د سرسايي د ورکولو څخه وروسته خلك د اختر د لمانځه لپاره جامع جوماتونو او یا عیدګاوو ته ځي، د اختر لمونځ په جماعت سره اداکوي او د لمانځه څخه وروسته خلك په خپلو کې غیږې ورکوي او یو بل ته د اختر مبارکي وایي.

د اختر له دودونو څخه یو دا هم دی چې



(۲۸) تصویر



Calture G-12 Pashto.indd 34 8/16/2011 10:23:02 AM

خلكك د دوســتانو او خپلوانو كورونو ته داختر مباركۍ ته ورځي او داســې باور لري چې ددوی دا كار د خپگانونو له منځه وړلو او د ټولنيزو ښــو اړيكو په ټينگښــت كې ډېر اغيزناك او گټور دی.  په دې منظور د اختر د تيارۍ لپاره زياتره كورنۍ د خپلو خپلوانو او دوستانو لپاره ډول ډول مېوې او شيريني برابروي او په دستر خوان يې ورته ږدي، كوم مېلمه چې راځي هغه وخوري.

## لوي اختر( عيد اضحی)

د مســلمانانو په عقيده د قربانۍ ســنت حضرت ابراهيم عليه السلام ته رسېږي، ابراهيم عليه السلام يوه شپه په خوب كې وليدل چې الله جل جلاله ورته د خپل زوی حضرت اسماعيل عليه السلام د قربانۍ كولو امر كوي. ابراهيم عليه السلام دا خوب خپل زوی حضرت اسماعيل عليه السلام ته وايي او اسماعيل عليه السلام ورته وايي چې د الله جل جلاله امر ترسره كړه.

حضرت ابراهيم(ع) وغوښتل چې د الله تعالى امر عملي كړي؛ خو الله تعالى  چې هغه آزمېښت كاوه د زوی په بدل كې يې ورته د جنت څخه گډ راوليږه او هغه يې قرباني كړ.

لوی اختر هر كال د مسلمانانو له خوا د حج په موسم كې د پرتمينو مراسمو سره لمانځل كېږي. د لوی اختر لومړني سنت د اختر لمونځ اداكول دي، چې ټول خلكك په ډله ييزه توگه هغه اداكوي.

د دې اختر د ځانگړو سنتونو څخه يو هم قربانۍ كول دي او هغه خلكك چې مالي توان لري د اختر په ورځ كې پســونه، غوايي يا اوښان د الله تعالي په رضا قرباني كوي. د قربانۍ ســنت داســې دی: چــاغ (څورب) څــاروی د قربانۍ لپاره خوښــوي، د حلالولو پــه وخت كې د هغې ســترگې په رنجو توروي، بيايې حلالوي. د



(۲۹) تصوير

سنت له مخې دهغې غوښه هم په خپله خوري او هم يې خپلوانو او مسکينانو ته وېشي، چې ددې فلسفه د بې وزلو او خوارانو سره مرسته کول دي.

## په ټولګي کې فعاليت

ــ زده کوونکي دې په خپلو منځو کې د خپلې سيمې د اخترونو د دودونو په هکله خبرې وکړي.

## پوښتنې؟؟؟

- روژه نيول څه فلسفه لري؟
- د قدر شپه د روژې د مبارکې مياشتې په کومه شپه کې وي؟ او څه فضيلت لري؟
- اخترونه د مسلمانانو لپاره څه پيغام لري؟

## کورنۍ دنده

ــ زده کوونکي دې د خپلو کورنيو د مشرانو څخه په پخوانيو وختونو کې د اخترونو د دودونو په هکله و پوښتي او په را تلونکي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.

نهم لوست

# د عاشورا او برات دودونه

عاشورا او برات زموږ په عرف کې کوم مفاهیم افاده کوي؟

د عاشورا په ورځ کې الله تعالی حضرت موسی(ع) د فرعون د لاسه ژغورلی دی. په همدې سبب د اسلام پیغامبر هم دا ورځ یوه بختوره ورځ ګڼلې ده اوددې ورځې په شکرانه کې یې روژه نیولې ده. په دې ورځ (د محرم الحرام په لسمه) د اسلامي تاریخ د لویو پېښو څخه یوه د حضرت امام حسین(رض) د شهادت پېښه هم رامنځ ته شوې ده.

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د ځینو خلکو له خوا د حسیني عاشورا مراسم څلوېښت ورځې دوام کوي.

د حسیني عاشورا په فرهنګ کې اربعین د حضرت امام حسین (رض) دشهادت څلوېښتمې ورځې ته ویل کېږي چې د صفر المظفر د شلمې ورځې سره سمون لري. په دې ورځ په نورو اسلامي هېواد ونو کې هم ځانګړي مراسم ترسره کېږي. د اربعین لمانځل په حقیقت کې د حسیني عاشورا تداوم دی.

زیاتره خلک د عاشورا په ورځو کې یوه مخصوصه خواړه، خوږه زیړه شوله پخوي او په بې وزلو خلکو یې وېشي. همدارنګه د مرکز او ولایاتو په تکیه خانوکې نارینه او ښځې راغونډېږي. په ځانګړو مراسمو او ویناوو سره د حضرت امام حسین (رض) د زړورتوب او شهامت یادوُنه او درناوي کوي.

## د برات شپې دودونه

د برات شپه د هجري قمري په کومه میاشت کې ده؟

د شعبان المعظم د میاشتې په پنځلسم برات دی. زموږ مسلمان خلک د برات په ورځ روژه نیسي او په شپه یې عبادت کوي او په دې باور دی چې په دې شپه کې د مؤمنانو دعاګانې د خدای (ج) په دربار کې قبلېږي. ځینې دیني عالمان فرمایي چې: قران کریم په دې شپه کې په یوځایي توګه د دنیا آسمان ته نازل شوی دی.

زموږ په فرهنګ کې له شب قدر څخه وروسته د برات شپه ډېره غوره شپه پېژندل شوې ده. مسلمانان دا شپه د الله تعالی له خوا څخه د روزۍ د اندازې د ټاکلو شپه ګڼي. په دې سبب ټولې



Calture G-12 Pashto.indd 37 8/16/2011 10:23:04 AM

کورنۍ کوښښ کوي چې په دې شپه کې ډول ډول خواړه پاخه کړي او ویې خوري. اوداسې باور لري چې که په دې شپه کې په مړه خېټه خواړه وخوري نو د کال تر پایه یې الله تعالی (ج) د هغوی روزي زیاتوي.

همدارنګه په دې شپه کې خوږه شوله، حلوا، ښوروا او کاچي پخوي او جوماتونو، ګاونډیانو او بې وزلو خلکو ته یې استوي.

کومې کورنۍ چې زامن یې کوژده شوي وي د برات شخه خو شپې مخکې ښکلې جامې او ګاڼې اخلي او د برات په شپه یې په دستمال (خوانچه) کې د جنۍ کورته لېږي. زموږ د خلکو په باور د برات شپه مبارکه شپه، د رحمت شپه، د رسول شپه اود ګناهونو شخه د ځان لرې ساتلو او الله(ج) ته د نژدې کېدلو شپه ده. له دې کبله مسلمانان په دې شپه کې په کورونو، جوماتونو، خانقاه او تکیه خانو کې دعاګانې او لمونځونه کوي.

څنګه چې د برات شپه زموږ په فرهنګ کې ژوره ریښه لري، له دې کبله خلك په دې شپه کې د شپې کېناستلو محفلونه جوړوي، خپل کورونه ښایسته او پاکوي او همدارنګه په دې شپه کې خوراکونه پخوي او کومو خلکو چې په دې شپه په غونډه کې ګډون کړی وي پرهغوی یې وېشي.

## په ټولګي کې فعالیت

ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، یوه ډله دې د عاشورا او بله ډله دې د برات د شپې په هکله په خپلو منځو کې خبرې وکړي.

## پوښتنې؟؟؟

- د عاشورا مراسم زموږ د هېواد په څېنو ځایونو کې څو ورځې دوام کوي؟
- د برات شپه زموږ په فرهنګ کې څه مقام لري؟

## کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د حسیني عاشورا او د برات شپې په هکله له خپلو مشرانو شخه معلومات ترلاسه کړي، په خپلو کتابچو کې دې ولیکي او بله ورځ دې ټولګي ته راوړي.



Calture G-12 Pashto.indd 38 8/16/2011 10:23:05 AM

# د خلکو فالونه

- فال څه شی دی؟

آیا پوهېږئ چې ځيني خلك د ځینو غونډو او مراسمو جوړول په ځینو و ختونو او ورځو کې نېکمرغي او په ځینو کې يې بد مرغي ګڼي؟

فالونه زموږ په فرهنګ کې د یوه کار لپاره د ښې او بدې پایلې په معنا کارول کېږي. او هيڅ ډول ديني بنه او اساس نه لري. له یوه کار څخه ښه پایله لاس ته را تلل ښه فال او بده پایله راتلل بد فال ګڼي.

فال په اصلي معنا کې نیکبختی، نېکمرغی، برکت، نېکی او طالع ته وايي.

کله چې یو څوك ووايي: (دا کار ښه فال لري)یا ووايي چې: (بد فال لري) په حقیقت کې د هماغې کار په ښه والي یا بد والي باندې وړاندوینه کوي.

لکه: یوکس چې په سفر کې ګیدړه ويني هغه په ښه فال او که توره پیشو ويني هغه په بد فال سره نیسي.

شاعران د فالونو (تفاءل) او ښه شګون نیونو په هکله ښکلي سندرې ويلي دی چې هره یوه يې یو مطلب او نېښه افاده کوي او په لاندې ډول دي.

صباح هفته اګر جام لاله ګــون بـــاشد
تمـام هــفته به عیش و طرب شګـون باشد

آسیبی از خمار نیابد تمــــــام عــمر
هــرکـس کـه از کف تو اياغی شګون کند

بګرفته ام شګون تیشی تــازه در دل است
شايـــد کـــه آب رفته باز آید به جوی ما



Calture G-12 Pashto.indd 39 8/16/2011 10:23:06 AM

فال زدم که از هوس کشته شوم یک نفسی          هم زلب تو این سخن به که شگون نهد کسی

دا هم د خلکو د فالونو څو نورې بېلګې:

دګنګي(بوم) او کارغه آواز، بد فال ګڼي.

دکال په لومړي ورځ د نوو جامو اغوستل، نیک فال ګڼي.

د چرګ بې وخته آذان کول، د چرګ د خاوند لپاره د ځاني خطر نښه ګڼي.

دکیڼې سترګې رپېدل، د خطر نښه ګڼي.

د اوړو الوتل، په پیاله کې د چای د شمې راختل، په غیر ارادي ډول سره د ماشومانو جارو وهل،

دا هر یو د مېلمه د راتلو نښې ګڼي.

په کور کې په نا څاپي ډول سره د مېږيانو را پیدا کېدل، د کور ښځه د کور د خاوند د کوچېدلو

نښه ګڼي .

د شپې د کور جارو کول، د روزي او رزق د بندېدو نښه او بد فال ګڼي.

لکه چې شاعر ویلي دي:

دولت به وقت تیره گی بخت نکبت است          جـــاروب وقت شام پریشانی آورد

د دروازې په درشل باندې کېناستل، د شپې د نوکانو اخیستل، د شنبې په ورځ نوروته پیسې

ورکول، د شپې له خوا پیسې ورکول، د چارشنبې په ورځ یو چاته د خمیرې ورکول د رزق د

بندېدلو، بدبختۍ، پورورکېدلو او د نیستۍ نښې ګڼي.

په کور کې د پیشو لنګېدل، د ښي لاس د ورغوي خارښت، په پاکو اوبوکې د نوې میاشتې لیدل،

د نوې میاشتې د لیدلو په وخت د یوه ښکلي اوخوشحاله سړي ښېره لیدل د بډای کېدلو او د پیسو

او د دولت د راتلو نښه ګڼي.

همدارنګه د پېښو، د سعد او نحس ګڼل چې کابو د فالونو سره ورته دي د خلکو په منځ کې دود دي.



Calture G-12 Pashto.indd 40 8/16/2011 10:23:06 AM

لکه د خلکو تر منځ داسې دود ده چې:

د خوښۍ او خوشحالۍ د محفلونو جوړول، په سفر تلل، د یوه نوي کار پیل کول ، د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو کې د نېکمرغۍ لامل او نېکې پایلې ګڼي.

همدا شان د (دوشنبې بازار) او (پنجشنبې بازار) دود هم زموږ د خلکو په منځ کې د همغې دوې ورځو د سعد ګڼلو څخه سر چینه اخېستې ده.

همدارنګه د واده او نکاح د محفلونو جوړول د دوو اخترونو په منځ کې د زوم او ناوې لپاره د بدبختۍ نښه بولي.

همدارنګه ځینې خلک د محرم په میاشت، ځیني په لومړۍ لسیزه د عاشورا و رځې تر ختمېدلو او ځیني تر څلوېښتو ورځو پورې د خوشحالۍ او واده مراسم نه ترسره کوي.

د زوم او ناوې په خپلوانوکې چې څوک مړ شي ځینې خلک تر یو کال پورې او ځیني خلک کم له کمه د لومړي اختر تر تېرېدلو پورې د خوشحالۍ او واده مراسم نه جوړوي او ځینې خلک چې د واده مراسم جوړوي نو د خپلوانو څخه اجازه اخلي؛ البته دا ټول چې مو وویل د زمانو په اوږدو کې د خلکو فرهنګ او باورونه دي او هېڅ ډول شرعي بنه نه لري.

فالبین ته تګ او د هغه پر خبرو باور کول اسلامي عقیدې او ارزښتونو سره په ټکر کې دی او مسلمان ته نه ښایي چې په دغه خرافاتو عقیده ولري.



Calture G-12 Pashto.indd 41 8/16/2011 10:23:06 AM

## په ټولګي کې فعالیت

- زده کونکي دې نورې داسې انګېرنې او باورونه چې خلك هغه په نیك او بد فال سره نیسي بیان کړي.

- زده کوونکـــي دې نـــور هغــه فالونه چې په کتاب کې یاد شـــوي نه دي او پـــه خلکو کې دود دي، ولیکي.

## پوښتنې؟؟؟

- زموږ په فرهنګ کې فال (شګون) څه معنا لري؟

- د عامو خلکو په فرهنګ کې کوم کارونه، مناسبتونه او پېښې د ښه فال او کومې پېښې بد فال راوړونکي ګڼي؟

- شاعرانو د فالونو په هکله څه ویلي دي؟

- هر زده کوونکی دې دخلکو یو یا څو فالونه نورو ته ووایي!

## کورنۍ دنده

ـ هر زده کوونکی دې د خلکو څو فالونه را ټول کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي!



Calture G-12 Pashto.indd 42 8/16/2011 10:23:07 AM

یوولسم لوست

# د ویر (ماتم) او نذر دودونه

- په ویرونو کې کومې کړنې ترسره کېږي؟

**الف: ویرونه**

کله چې د يوې کورنۍ کوم غړی مړ شي، زموږ د خلکو په فرهنګ کې داسې دود دی چې ټول خپلوان او دکلي خلک د متوفی په کور کې راغونډېږي. د تکفين او تدفين مراسم د کلي د امام په لارښوونه ترسره کوي او بيا مړی هديرې ته وړي او خښوي يې.

زموږ د هېواد په ډېرو کليو کې تر دريو ورځو پورې د مړي په کور کې خواړه نه پخوي او په دې ورځو کې خپلوان او ګاونډيان خواړه راوړي.

خو د دريو ورځو وروسته ډېر خواړه پخوي او د سيمې او کلي ټول خلک راځي او خوري يې. د څو اوونيو او مياشتو په اوږدو کې د کلي ښځې ډلې ډلې د مړي کورته راځي او په اوچت آواز ژاړي، خو هر څوک د خپل وفات شوی عزيز په غم ژاړي، چې دا کار د اسلامي سنتو سره اړخ نه لګوي.

په څلو ښتمه ورځ لوی خيرات کوي، په دې کې د نژدې او لرې کليو څخه ډېر خلک را غونډېږي او ډوډۍ خوري.

د يوه کال څخه وروسته بيا يو لوی خيرات ورکوي.

په ښارونو کې ددې خيراتونو لګښتونه ډېر زيات او ملاماتوونکي وي او په کليو کې هم له هغه څخه کم نه وي، هم په کليو او هم په ښارونو کې ډېرې بېوزلې کورنۍ شته چې د خيراتونو او سياليو د ترسره کولو لپاره مجبورې وي چې قرض او پور وکړي، خپل جايدادونه او ځمکې خرڅې کړي څو دا سيالي پرځای کړي. که څه هم عالمان او خطيبان دجوماتونو په منبرونو کې شرعي احکام هر وخت خلکو ته وايي تر څو چې د بې ځايه لګښتونو او سياليو مخه ونيول شي. خو د دې سره سره هغه دودونه تر اوسه همغسې په افراطي بڼه دوام لري.

**ب ـ نذر**

نذر کول زموږ په ټولنه کې څه مفهوم لري؟

زموږ په فرهنګ کې ځينې خلک د خپلو ستونزو د حلولو، هيلو او آرمانونو د لاسته راوړو په هيله نذر په ځان مني او ددغې حاجت د پوره کيدلو سره سم، نذر تر سره کوي.

نذر په اصل کې په اسلامي فرهنګ کې يو غوره کار دی خو بڼه يې داسې ده،کله چې يو څوک نذر وکړي چې که ستونزه يې لرې شي، د الله(ج) په لار کې به يو غوييې خيرات کوي او يا به يوه اندازه ټاکلې پيسې صدقه ورکوي. اوس که چېرته يې مشکل حل شو په دغې شخص باندې واجب ده چې د خپل منل شوي نذر په مطابق به عمل کوي؛ خو زموږ د عوامو په فرهنګ کې نذر نور ډولونه هم



Calture G-12 Pashto.indd 43 8/16/2011 10:23:08 AM

لري چې د ديني ښوونو سره تړاو نه لري.[۱]
ددې نذرونو ډولونه په لاندې ډول دي:
نذر مشکل کشا، نذر سخي جان، نذر بي بي سرخروي ، نذر پير بلند، نذر لب آب، نذر سمنك، نذر دوازده امام، نذر بي بي زينب، نذر ديگچه، نذر فاطمه زهرا ، نذر چادر بي بي ، نذر هفت ميوه او داسې نور ډېر نذرونه دي چې د خلکو تر منځ په ځانګړې توګه په ښځو کې ډېر دود دي . په داسې حال کې چې هيڅ ديني بنه او جنبه نه لري.
د نذر اداکول د پسه حلالولو، د حلوا په پخولو، لېټي(کاچي)، زېړه او سپينه شوله، شير برنج ، پراټه پخولو او په مميز او نخودو سره تر سره کېږي او يا ښځې زيارتونو ته ځي او هلته بې وزلو او غريبانوته خواړه او پيسې دخيرات په ډول ورکوي.
دا ټول نذرونه هر يوه په خپل ځای او په ځانګړي وخت کې او په ځانګړو مراسمو تر سره کېږي چې په لاندې ډول د مشکل کشا نذر د بېلګې په توګه ګورو.

**نذر مشکل کشا**

هغه ښــځه چې په ځان يې نذر منلی وي په خپل کورکې د ســتر خوان غوړوي، يوه اندازه مميز او نخود د هغې په مخ باندې اچوي، اوه ښځې د دسترخوان په چاپيره کېني، مميز او نخود په اوو برخو وېشــي او د هغې د خوړلو څخه مخکې يوه ښــځه ددې نذر کيسه کوي او بيا د نذر مميز او نخود له چای سره خوري .
ښــوونکی دې د ويرونــو او نذرونو په هکله د اســلامي فرهنګ له مخــې زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

**په ټولګي کې فعاليت**

ـ يو زده کوونکی دې د ويرونو د لګښتونو اوبل زده کونکی دې دنذر په هکله خبرې وکړي.

**پو ښتنې؟؟؟**

- آيا په خيراتونو کې ډېر لګښتونه سم دي؟
- په نذرونو کې څرنګه ؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې د ويرونو او نذرونو د فلسفې په هکله د عالمانو څخه معلومات واخلي! په خپلو کتابچو کې دې وليکي! او ټولګي ته دې راوړي!

---

۱- د اسلام له نظره نذر يوازې د الله تعالیﷻ په نامه جواز لري، په متن کې چې د نذر د اداکولو کوم شکل بيان شوي، شرعي اساس نه لري، يوازې د خلکو دود دی.



Calture G-12 Pashto.indd 44 8/16/2011 10:23:09 AM

## د لومړي څپرکي لنډیز

نوی کال او د بزګر مېله زموږ د خلکو د ډېرو لرغونو دودونو څخه، هغسې دود دی چې د خلکو د طبیعي ژوند چاپېریال او د لرغوني آریانا د پراخو جغرافیایي شرایطو څخه منځ ته راغلی دی چې هیڅ قوم او ډلې ته په یواځې توګه ځانګړی نه دی.

د وری(حمل) په لومړی شپه خلک خپلو دسترخوانونو ته د نوي کال د راتلو په بدرګه او خوشحالی په مناسبت په اوو ډولو خوړو سره ښکلا ورکوي چې هغې ته"سفرهٔ هفت سین"(اووه مېوې چې نومونه یې په سین سره پیل کیږي) وایي.

- مېله او تفریح کول د انسان د ستړیاوو د منځه وړلو، د روحي او جسمي قواوو د بیا تقویه کولو او تجدید لپاره انسانانو ته ضروري ده. د مېلې لپاره ډېر خوندور موسم د پسرلي موسم دی چې ټول طبیعت تازه روح پیداکوي او خپله تازه او طراوت لرونکې غېږ د انسان هرکلي ته پرانیزي.

- د ماشوم زیږیدل زموږ د وطنوالو په کورنیو کې د ډېرو خوشحالیو سبب ګرځي چې د ماشوم د زیږېدلو په وخت کې خوشحالی او جشنونه کوي.

- زموږ د خلکو په منځ کې د هلك د زیږېدلو په وخت کې یو مشهور دود د ماشوم سنت کول دي، چې ددې دود او سنت اجراء کول هم د اسلامي معتقداتو او هم د روغتیایی او صحي ملحوظاتو په پام کې نیولو سره ضروري دي.

- زموږ خلك د خپلو ستونزو د حلولو او ځینو هیلو او غوښتنو د لاسته راوړلو په موخه نذر په غاړه قبلوي او وروسته د حاجتونو د پوره کیدو څخه هغه نذر چې په غاړه یې اخیستی و، اداکوي.

د واده مراسم زموږ په هېواد کې د نجلی له خوښولو څخه پیل کیږي او لاندې پړاوونه وهي لکه: غوښتنه(خواستګاري، مرکه) شیریني ورکول (کوژدن)، چلّه بدلي(نښه ورکول) او د نوي کال او اخترونو د خوانچې(ناري) لېږلو سره دوام کوي، وروسته بیا د نکریزو شپه، نکاح او د واده مراسم د سازونو، سرودونو او ډېرو خوشحالیو سره سرته رسیږي.

د نکاح په شپه، پس له ډوډۍ خوړلو څخه د نکاح خطبه د شاهدانو، وکیل، زوم، دوستانو، میلمنو او ډېرو خلکو په حضور د مولوي له خوا لوستل کیږي او وروسته ناوې د ځانګړو مراسمو سره د هغه د نیکمرغی او بخت کور ته بیول کیږي.

- زموږ خلك د رمضان په مبارکه میاشت کې روژه نیسي او د کوچني او لوی اخترونو مراسم په ځانګړو مراسمو سره نمانځي.

حسیني عاشورا هم زموږ د خلکو له خوا درناوی کیږي.

فال نیول زموږ د خلکو د ټولنیز ژوند یوه برخه ده.

همدا شان د ماتمونو دودونه په ډیرو زیاتو مالي لګښتونو سره ترسره کیږي.



Calture G-12 Pashto.indd 45 8/16/2011 10:23:09 AM

## د دویم څپرکي موخې

په دې څپرکي کې به زده کوونکي د سندرو، ترانو او دوه بیتیو(لنډیو) د روح او محتوا څخه خبر شي. د تیرو شویو پېړیو په اوږدو کې به زموږ د خلکو د روحیاتو او د هغوی د هیلو او تمایلاتو څخه خبر شي.

زده کوونکي به پوهه شي چې د خلکو د ورځني ژوند په ویناوو کې د لطیفې، ټوکې، طنز او کنایې کارول د خلکو په ژبه او ورځني ژوند کې څومره کیفیت او خوند پیداکوي او همدارنګه به د خپلې ټولنې کلاسیک طنز ویونکي لطیفه او ټوکه ویونکي وپیژني.





Calture G-12 Pashto.indd 46 8/16/2011 10:23:10 AM

# دویم څپرکی
# سندرې او مطايبې

دولسم لوست

## سندرې

ستاسو خو سندرې زده دي؟

سندرې د خلکو د شعرونو یو ډول دی چې ځانګړی آهنګ او وزن لري او د خلکو په منځ کې ډېر معمول او دود دي. هر بندیې د دریو یا څلورو مصرعو زیات نه وي. په ساز او آواز سره یې وایي.

سندرې د پېړیو په اوږدو کې د نا معلومو تکره سندر غاړو له خوا ویل شوې دي او نسل په نسل موږ ته رارسېدلي دي.

سندرې د خپلې منځپانګې (محتوا) له حیثه ډېرې بډاې دي چې زموږ د خلکو د معنوي فرهنګ د عمده برخو له حیثه ډېرې ارزښتناکې دي.

خلک تل د سندرو د لارې د خپلو زړونو دردونه یو له بل سره شریکوي او غوارې چې ددې په ویلو سره خپل سوز، فشار او د زړه غوټې پرانیزي او څرګندې یې کړي. ترڅو چې زړه ته یې ډاډ او تسکین پیدا شي.

سندرې اوترانې د خلکو د ټولو خوشحالیو، غمونو او غوسو چاشنې دي. زموږ په خلکو کې داسې بزم، محفل، مجلس، د شپې کښېناستل، مېلې او جشنونه نشته دی چې په هغې کې سندرې او ترانې زمزمه نه شي. سندرې هم د خلکو د نورو ولسي ادبیاتو غوندې د خلکو د ارمانونو ، هیلو، غوښتنو ، امیدونو، ګمانونو،ګروهو او د لرغونو اندېښنو بیا نوونکي دي. سندرې په حقیقت کې له ژوند سره د خلکو د مینې او محبت څرګندونکي دي،

له دې سندرو څخه یوه د (بیا بچیم انګور بخو) هغه سندره ده چې دافغان او انګلیس په دویمه جګړه کې ویل شوې وه، چې په لاندې ډول ده:



Calture G-12 Pashto.indd 47 8/16/2011 10:23:10 AM

## سندره (سرود)

جنگ انگریز و افغان اس      بیا بچیم انگور بخو!
محمد جان مرد میدان اس[1]      بیا بچیم انگور بخو!
سبزیِ تاکه ببی!      دل های پاکه ببی!
کارما جنگیدن اس      الفت خاکه ببی!
ایوب خان شیر غران اس[2]      بیا بچیم انگور بخو!
میربچه باروت رسان اس[3]      بیابچیم انگور بخو
خواب ما برسر سنگ      عشق ما غیرت و ننگ
قوت ما توت و تلخان      کار ما فتح است و جنگ
سربازی کار مردان اس      بیابچیم انگور بخو!
آزادی فخر افغان اس      بیابچیم انگور بخو!
باغ بی دیوار ما      شرشر آبشارما
جلوه ها داده به تاک      خوشهٔ پر بار ما
حسینی حسن خوبان اس      بیابچیم انگوربخو!
کشمشی نقل میدان اس      بیابچیم انگوربخو!
نوش جان کن مرهم اس!      طول هر خوشه بچیم
چارک که کم در کم اس      بیابچیم انگوربخو!
غوله دان غول بیابان اس      بیابچیم انگوربخو!
قیمتش خیلی ارزان اس      بیابچیم انگوربخو!

---

۱- غازی محمد جان خان وردك، د افغان انگلیس د دویمې جگړې اتل.
۲- د میوند فاتح غازی محمد ایوب خان
۳- غازی میربچه خان کوهدامنی



Calture G-12 Pashto.indd 48 8/16/2011 10:23:11 AM

## لنډۍ او ترانې

ستاسو څو ترانې زده دي؟

لنډۍ او ترانې زموږ په فرهنګ کې تل د خلکو په ژوند کې دلارې ملګرې او د هغوی د پاکو آرمانونو، هیلو، عواطفو او د لطیفو احساساتو څرګندوونکي او انعکاس ورکونکي دي.

انسانان تل د لنډیو او ترانو اوریدلو او ویلوته لیواله دي؛ په ځانګړې توګه کله چې د زړه راښکوونکي موسیقي سره وویل شي.

هغه لنډۍ او ترانې چې د هیواد، اولادونو، محبوبې او معشوقې په مینه کې ویل شوې وي یو خاص خوند او کیفیت لري.

د لنډیو او ترانو بنسټ د وطن دوستۍ او د پردیو په وړاندې له خپلې خاورې څخه د ساتنې په محور اېښودل شوی دی چې په حقیقت کې د ژوند او طبیعت سره د انسان د ټولو عواطفو، احساساتو، شور او جذباتو د هیجاناتو د مینې او محبت هنداره ده چې د لنډیو او ترانو په شکل یې د زړونو له تلونو سرچینه نیولې او لکه د اور د لمبې په ډول بهرته راوځي.

لنډۍ او ترانې د هغو وزرو غوندې دي چې سندرغاړي یا ویونکي د دې وزرو په وسیله غواړي چې خپل ځان د محرومیت او ناکامۍ له ژورو فشارونو څخه وژغوري چې په دې لړ کې د خپلې موخې رسېدلو ته هیلې څرګندوي.

د خلکو د لنډیو او ترانو یو څو بېلګې په لاندې توګه لولو:

خاونده بیا دې پسرلی کړ — د وچه ډاګه د لونګو بوی راځینه
خاونده بیا دې پسرلی کړ — جنکو راوړل په وربل کې سره ګلونه
پسرلی راغی ونې شنې شوې — زما د زړه په ونو جل ولګېدنه
په یار مې ترخې زرغونه شوې — زه یې لا اوس طمعه لرم چې را به شینه

په دري ژبه کې:

بهار آمد که من شیدا بگردم — چو مرغاوي لب دریا بگردم
پلنګ در کوه و آهو در بیابان — همه جوره و من تنها بگردم

***



Calture G-12 Pashto.indd 49 8/16/2011 10:23:11 AM

ای جورهٔ جان خانه گرفتی در بر        آشفـته کدی خوده به مثل کفتر
شاهین شوم و تراگیرم از لب جر        آ هــــسته گــیرم از تـو نریزد پر

## په ټولګي کې فعالیت

ـ زده کوونکي دې په څلورو ډلو وویشل شي لومړۍ ډله دې وطني سندرې، دويمه ډله دې هغه ترانې او لنډۍ چې د وطن په مينه کې ويل شوي دي، دريمه ډله دې زموږ د نیکونو د قهرمانيو په باره کې، څلورمه ډله دې زموږ د هیواد د ښکلي طبیعت په باره کې وليکي او د هرې ډلې استازی دې هغه د ټولګي په مخکې ووايي.

## پوښتنې؟؟؟

ـ په سندرو او ترانو کې د خلکو احساسات او عواطف څرنګه څرګند شوي دي؟

## کورنۍ دنده

ـ هر زده کوونکی دې د خپلې کورنۍ له مشــرانو ســره په تماس کې شــي؛ له هغوی څخه یا له هغو سرچینو څخه دې ترانې، لنډۍ، سندرې او معلومات لاس ته راوړي، ودې يې ليکي، بله ورځ دې ټولګي ته راوړي او ښوونکي ته دې وسپاري.


Calture G-12 Pashto.indd 50    8/16/2011 10:23:12 AM

دیارلسم لوست

# ټوکې او لطیفې

- په مجلسونوکې لطیفې او ټوکې ویل، څه کیفیت لري؟

## لطیفه او فکاهي

لطیفه او فکاهي ښکلې ، نازکه ، خوندوره، رسا او نېکه وینا ده چې د هغې ویل او اورېدل د انسان د خوشحالۍ سبب ګرځي.

همدا شان فکاهي او ټوکه، خوشحالي او خوش طبیعتي ته هم ویل کېږي.

زموږ په فرهنګ کې خلک د خوشحالیو په ورځو لکه : نوی کال، ودونو، جشنونو، اخترونو او د خوشحالیو په نورو محفلونو کې راغونډېږي، خوندورې خبرې، لطیفه او فکاهي وايي،خاندي او خوشحالي کوي.

ځیني خلک په ټوکو او لطیفو ویلو کې ځانګړې وړتیا او استعداد لري. هغسې چې ددې خلکو هره خبره، ادا او کړه وړه خندونکي وي.

په کومه فرهنګي حوزه کې چې موږ ژوند کوو داسې جالبو او زړه راښکونکو څېرو زیات شتون درلوده چې تل به د مجلسونو د تودوالي او خنداګانو سبب ګرځېدل لکه: عبید زاکاني، نصرالدین افندي، شعبان، صمد آغا، اسمعیل سیاه او داسې نور چې هر څوک د هغوی د نومونو او د خندورو حکایتونو سره بلد دي چې د هغوې له جملې څخه مشهور افسانوي شخصیت نصرالدین افندي دی.

نصرالدین افندي افسانوي شخصیت ، د لطیفې او ټوکې اتل ، ټوکه ویونکی ، ظریف، پوهه، پاك زړی، د فوق العاده تیز ذهن خاوند انسان و چې خپلې خوندورې خبرې او ټوکې به یې له خنداګانو سره د طنز په جامه او لفافه کې هغسې ویلې چې د هغې په تل او جوهر کې به پند، حکمت، نصحیت، اخلاق او ادب نغښتي و.

نصرالدین افندي له د روغو ، مکر، فریب، ځان ښودنې، لویې او خودبینۍ څخه بیزاره و.

هغه هوښیار، رسالتمن او حکیم سړی و چې عمر یې د زمانو له اوږدو سره برابر دی. زموږ د فرهنګي حوزې، دګاونډیو هېوادونو ټول خلك د هغه سره مینه لري او هر یو هغه خپل ګڼي او د خواجه نصرالدین، مشفقي او نصرالدین افندي په نومونو یې یادوي

له دوه زره څخه د ډېرو لطیفو(ټوکو) نسبت ورته کوي. لاندې یوه ټوکه لولئ چې د نصرالدین افندي ښځې ته یې نسبت شوی دی:

ویل کېږي چې د نصرالدین ښځې خپله ستن ورکه کړې وه او هغه یې په کوڅه کې لټوله.ګاونډۍ ښځې چې هغه ولیدله پوښتنه یې ترې وکړه څه دې ورك کړي دي چې لټوې یې؟ هغې وویل: (خپله ستنه مې ورکه کړې ده) ګاونډۍ ښځې ورته وویل :

(ستنه دې په کوڅه کې ورکه کړې ده؟) هغې وويل (نه په کورکې مې ورکه کړې ده)
گاونډۍ ښځې وويل: ستنه دې په کورکې ورکه کړې ده او په کوڅه کې يې لټوې؟ د افندي ښځې وويل: ځکه چې په کورکې تياره ده.

پخوا زموږ په گران هېوادکې ټوکيان او ظريف شخصيتونه ډېروو چې د هغوی له جملې څخه يو (اسمعيل سياه) و. اسمعيل سياه له هرات څخه و. هغه يو سياسي، شاعر، ظريف او ټوکه ويونکی شخص و، چې انتقادي نکتې به يې په ډېرو لطيفو او ظريفو لفافوکې په ډېر ظرافت او دقت سره وړاندې کولې.

لکه څرنگه چې د هغه ظرافتونه او بذله ويل د (ناوړه گټې پورته کوونکي مستوفي)، اسمعيل دگونگټ ســره تشــبيه کول او د هغې سمدستي ځواب ورکول او داسې ډېرې نورې کيسې او ټوکې يې مشهورې دي.

بديهه ويل او يو مطلب او پوښــتنې ته ژر ځواب ورکول هم د ظريفو، د ښــکلو خبرو او خوش طبعيو څخه دي، چې پرته د فکر دکولو او بې له ځنډه او مخکې له تيارۍ نيولو څخه مقابل لوري ته ژر ځواب ورکول دي. چې په سلگونو او زرگونو نمونې يې زموږ په ټولنه کې هره ورځ دخلکو په منځ کې ويل او اوربدل کېږي. چې موږ دلته د هغې يوه نمونه راوړو:

ويل کېږي چې: صائب تبريزي چې کله له هند څخه کابل ته بېرته ستنېده، په سفرکې يې له ځان سره يو آس او يو چرگ درلودل. کله چې د کابل د کمري سيمې ته ورسېد، يو بزگر يې وليده چې په خپل فالېزکې د خټکو په را غونډولو بوخت و. بزگر چې صائب وليد مخې ته يې ورغی او هغه ته يې (ښه راغلاست) وويل او پوښتنه يې ترې وکړه چې (څه درته راوړم؟) صائب وويل: ((داسې شی راوړه چې هم يې زه هم يې زما چرگ او هم يې زما آس وخوري او ماړه شو)). بزگر ورته سمدستي څو دانې خواږه خټکي راوړل او ورته وېې ويل: (د خټکو منځ ته خپله وخوره! زړه يې چرگ ته او پوستکي يې آس ته ورکړه) صائب د خټکي د ليدلو په خوشحالۍ په فی البديهه ظرافت او شاعرانه شوخۍ سره وويل:

"هرگز ثمری نيست نهال کمری را"

بزگر دستي ځواب ورکه: (از بس که ثمر داشت نهالش کمری شد)

## په ټولگي کې فعاليت

- زده کوونکي دې په څو ډلو وويشل شي، هر يو دې يوه لطيفه ووايي او په خپلو کتابچوکې دې وليکي.

## پوښتنې؟؟؟

- نصرالدين افندي څوك و؟

## کورنۍ دنده

- هــر زده کوونکــی دې، ټوکې ظرافت او بديهي ويل د خپلې کورنۍ له غړيو ياکلي او چاپيريال څخه وليکي او ټولگي ته دې راوړي.



Calture G-12 Pashto.indd 52 8/16/2011 10:23:13 AM

خوارلسم لوست

# طنز

- طنز کوم ډول وینا ده؟

طنز ویل زموږ د خلکو د پخواني فرهنگ د ځانگړو بدیعي او ظریفانه ویناوو له ډولونو څخه یو ډول او طریقه ده . د خلکو د وینا دغه طرز چې په منظوم او منثور شکل ویل شوی دی، د هغوی د پوهې، هوښیارۍ دشوخ طبعیت او ذکاوت څرگندونکی دی.

ځینې خلك د هغه فطري ظرافت له کبله چې لري يې، هغه نکتې چې نه يې شـــي کولی د قدرت خاوندانــو تــه مخامخ ووایي، نو د طنز او کنايې په بڼه يې د لطیفــو الفاظو او عبارتونو په قالب کې په عین حال په قاطعانه او غوڅ ډول، وايي .

پــه طنز کې د ټولنیز ژوند ســتونزې او کړاوونه د روانو او غوڅو افــادو، عبارتونو، ویناوو او کلماتو په کارولو سره تر برید لاندې نیول کیږي.

زموږ په فرهنگ کې د طنز ویلو موخه او هدف د ټولنیز ژوند، د بدیو، نا خوالو او کړاوونو سره مبارزه ده. په طنز کې معمولاً لطیفانه کړه وړه او رمزونه رول لوبوي. که چېرته یو طنز ویونکی وغواړي چې یو عیب، ظلم او نیمگړتیا د تمسخر په ډول ووایي، مطلب په دقیق او ادبي ډول سره د عقل او منطق په تله تلي او په ډېر مهارت ســره يې د طنز په ښــکلي جامه کې را نغاړي، او بیايې وايي، چې انســان بې اختیاره په خندا او خوشــحالۍ راوړي. طنز ویل تل دوه اړخه او دوه موخې لري. چې یو اړخ يې خندا او خوشحالي او بل اړخ يې تمسخر دی او هغه کس چې طنز ورته متوجه دی د تېره خنجر په څېر پرې لگیږي.

په بل تعبیر سره طنز فاخر ترینه شوخي ده، او طنز د فحش او هجو څخه پاك دی.

خرنگه چې طنز تل دوه موخې او دوه اړخه لري هغې ته:
په قاه قاه سره ژړا او په آه آه سره خندا ویل شوې ده.
پخوا زموږ د پراخې فرهنګي حوزې په ادبیا توکې طنز ویونکي او طنز لیکونکي ډېر وو، چې خلک له هغوی د نومونو سره بلد دي لکه :
اسـمعیل سـیاه (هـراتي) اکرم عثمـان او جـلا ل نوراني کابلي، عبدالواحـد نظري کندهاري، عبدالمنان ملګرى، کاتب پاځون، جعفر اخکزى، صوفي حیدر بدخشانى، عزیز نېسن؟ او شعبان ترک، صمد آغا، او زموږ د فرهنګي حوزې افسانوي طنز ویونکى نصرالدین افندي دى.
د نړۍ نور نامتو طنز ویونکي، چارلي چاپلین او مستر بین دي .

## په ټولګي کې فعالیت

ـ هر زده کوونکى دې یو یو طنز ولیکي او په مساعد وخت کې دې د ټولګي په مخ کې ووایي.

## پوښتنې؟؟؟

- اسمعیل سیاه پېژنئ ؟ د هغه له طنزونو څخه څو طنزونه مو یاد دي؟
- د ترک لیکوال عزیز نېسن؟ آثار مولوستلي دي؟ د هغوی کیسې ووایاست .
- نصرالدین افندي له کوم هېواد څخه و ؟

## کورنۍ دنده

ـ هر زده کوونکى دې زموږ د هېواد او د نړیوالو طنز لیکونکو په هکله معلومات راغونډ کړي او بله ورځ دې ټولګي ته راوړي.
ـ ستاسو په سیمه او کلي کې چې هر څومره طنز لیکونکي او طنز ویونکي شته دى د هغوی نومونه د هغوی د کارونو سره ولیکئ او بله ورځ يې ټولګي ته راوړئ!


Calture G-12 Pashto.indd 54 8/16/2011 10:23:15 AM

# کنایه او اصطلاح

- کنایه څه شی دی؟

## الف ـ کنایه

کنایه د یوه مطلب پټه او پوښل شوې معنا افاده کوي، چه په هغې کې ددې پرځای چې د یوه شی یا د یوکس نوم ښکاره او په مستقیم ډول سره واخېستل شي د هغه کس او یاکوم کار چې له کوم صفت څخه تر لاسه کېږي د هغه د لوازمو څخه یو یې په کاروي او یا د یوه کار پایله بیانوي او په غیرمستقیم ډول سره یې مخاطب ته اوروي. یا په بل عبارت سره:

کنایه هغې خبرې ته ویل کېږي چې غیر د خپلې اصلي معنا څخه په بله معنا او مدلول باندې دلالت وکړي او یا وکارول شي. لکه: د (حسن غمکش) کلمه چې په ظاهرکې د حسن غم خوړلو ده خو دکنایې په معناکې هغه کس ته ویل کېږي چې په هره موضوع یا پرځای او یا بې ځایه خپل زړه خوري او خپل خپګان او پریشاني پکې ښکاره کوي.

## د کنایو بېلګې

حمید ماشوخیل وایي:

درویزګري له درویز ګره ناکسي ده　　　　د فلک کچکول ته مه نیسه لاسونه!

خوشحال خان ویلي دي:

ته چې ماته وایې وایه! څوک دې وژني؟ ته له خپلو سترګو غواړه دا جواب!

یا:

لورې تا ته یې وایم، نږورې ته یې واوره! خپل قهر او غصه نږورته وړاندې کول.

په دري ژبه کې:

از شرم آب شدن – یعني شرمېدل.



Calture G-12 Pashto.indd 55　　8/16/2011 10:23:15 AM

آب زیر کاه – یعني هغه کس چې په آرامه څېره کې فساد جوړوي.

آتش افروختن (دامن زدن) - د جنګ او فتنې وسایل برابرول.

با پنبه حلال کردن – تاوتریخوالی او یو جنایت په آرام صورت سره ترسره کول.

بوسه به پیغام – له هغه کار څخه عبارت دی چې په بې پروایي سره تر سره شي.

با سوزن چاه کندن– په یوه کم او بیهوده کوښښ سره دیوه لوی کار تر سره کولو ته هڅه کول.

گرگ باران دیده – هغه پوخ سړی چې په کارونو کې ډېرې تجربې ولري خو زیاتره یې منفي تجربې وي.

رگ خواب کسی را یافتن— د یوه سړي په خوی او مزاج باندې پوهېدل.

شاخ کشیدن– ډېر تعجب کول په هغو کارونو کې چې د هغې پېښېدل له عادته پورته وي.

به سر کسی کلاه گذاشتن – هغسې غولول چې د مقابل لوري پام ورته نه شي.

یک زاغ را چهل زاغ کردن– یوې کوچنۍ خبرې ته لویه بڼه ورکول، کنایه ده. لکه د بوسو څخه چې غر جوړ کړي.

در خمیر موی پالیدن– د هر کار په نیمګړتیا پسې ګرځېدل.

دست در خانهٔ زنبور زدن – خطري کارونو ته لاس اچول.

دندان بر جگر گذاشتن– یو کار په کر که سره ترسره کول.

دهان باز ماندن– د ډېر تعجب او حیرانتیا حالت.

دیوار نمکش– د هر چا په خبره بدګوماني کول.

روز سیاه و زر سفید– په سخت حالت کې د خپلو شتو لګول.

زیر کاسه، نیم کاسه– په زیرکۍ سره د یوه چا غولول.

سر کلاوه راگم کردن– د یوې ستونزې د حل لاره ورکول.

غلام حلقه به گوش بودن – بې رایه او بې ارادې شخص.

کلاه خود را قاضی کردن – په یوه کار کې د مشورې ډېر ارزښت لرل.

کلوخ مانده از آب تیر شدن– سرسري او بې پامه کارونه کول.

مگس هر دوغ شدن – دشړومبو مچ.



Calture G-12 Pashto.indd 56 8/16/2011 10:23:16 AM

## ب: اصطلاح

د یوه لفظ لپاره د اصلي معنا پر ځای د غیر اصلي معنا کارول دي.

په بل عبارت سره: هغه کلمه چې په یوه فن یا یوه کار کې یوه ځانګړې معنا د اصلي معنا پرځای وکارول شي.

په اصطلاح کې فاعل معلوم نه وي او پخپله د یوه شي صفت او ستاینه ده.

همدارنګه اصطلاح صیقل شوی او په قالب کې اچول شوی عبارت دی او لکه د مقولو او متلونو غوندې ټینګ جوړښت لري او زموږ په فرهنګ کې په زرګونو داسې صیقل شوي اصطلاحات او عبارات شتون لري چې د هغوی یو شمېر د (مشت نمونهٔ خروار) په ډول د هغوی داستعمال د ځایونو سره په لاندې ډول لولو:

- لور په لوټه تیره کول.
- د بوسو لاندې اوبه.
- د مرچو په ختّه کیناستل.
- اوبه خړول.
- سترګې سپینول.
- په غوږ وهل.
- تر لمن لاندې کول.
- له عقل سره دزې کول.

## په دري ژبه کې

آهن سرد کوبیدن – بې ګټې کار کول.

از پشت ورق خواندن– دیوه شخص ډېرې هوښیارۍ او زیرکتوب ته دلالت کوي.

از دریا دوغ بخشیدن – بې ځایه او بې ګټې سخاوت.

انګشت به دندان ګرفتن– د ډېر تعجب حالت.

پشت نخود سیاه روان کردن – دیوه شخص غولول.



Calture G-12 Pashto.indd 57 8/16/2011 10:23:16 AM

پیش جر، پس تبر – یو خواته پړانګ، بل خواته پانډه دی.

پیش پای بین – بې لحاظه سړی.

تیشه به ریشهٔ خود زدن – خپلې پښې په تبر وهل.

جواب دندان شکن دادن– غاښ ماتوونکی ځواب ورکول.

چلوصاف از آب بر آمدن– رسوا کېدل.

خپک زیر بوریا– په ظاهر ښه او په باطن کې وران کاری.

خینهٔ بعد از عید– چې وخت تېر شي وروسته د یوه کار کول. یو کار چې بې وخته ترسره شي.

## په ټولګي کې فعالیت

ــ دوه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي. یو دې څو کنایې او بل دې څو اصطلاحګانې په وار سره ووایی.

## پوښتنې؟؟؟

ــ په ورځنۍ محاوره کې د کنایې او اصطلاح کارول څه کیفیت لري؟

## کورنۍ دنده

ــ زده کوونکي دې له خپلو مشرانو څخه د کنایو او اصطلاحاتو پوښتنې وکړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

## د دویم څپرکي لنډیز

سندرې د خلکو د شعرونو یو ډول دی، چې ځانګړی آهنګ او وزن لري، او د اوږدو پیړیو په بهیرکې د نامعلومو او تکړه شاعرانو له خوا ویل شوي او نسل پر نسل تر موږ رارسېدلي دي. سندرې د خپلې محتوا(منځپانګې) له حیثه ډېرې بډای او له پانګو ډکې دي او د معنوي فرهنګ یو له عمده برخو څخه دډېرو ارزښتناکو ښېګڼو لرونکې دي.

خلک تل د سندرو له لارې د خپلو زړونو خواله یو له بل سره شریکوي، سوز، فشار او د خپل زړه غوټې پرې خلاصوي.

لطیفه او ټوکه یوه ښکلې، نیکه، رسا، نکته او خبره ده چې د خوشحالۍ او د انسان د طبیعت د تازه کولو سبب ګرځي. زموږ په فرهنګ کې خلک د خوشحالیو په ورځو کې لکه: نوی کا ل، واده، جشنونو، اخترونو او داسې نورو محفلونو کې سره راغونډېږي، خندوونکې، ملیحه خبرې، لطیفې او فکاهي وایي.

طنز ویل زموږ د خلکو د لرغوني فرهنګ د ظریفو او بدیعي ویناوو یوه ځانګړې طریقه او ډول دی. د خلکو د بیان دغه طرز چې په منظوم او منثور ډول ایجاد شوی دی د هغوی د تېز فکرۍ، پوهې، شوخ طبعی او زیرکتیا څخه نمایندګي کوي.

په طنزکې د ژوند ټولنیزې نیمګړتیاوې او نابرابرۍ په روانو غوڅو کلمو، د لطیفو عباراتو او افادو په کارولو سره تر خپل برید لاندې راوړي.

طنز ویل تل دوه اړخه او دوه موخې لري. یو اړخ یې خوشحالي او خندا او بل اړخ یې ادبي او اخلاقي تمسخر دی.



Calture G-12 Pashto.indd 59 8/16/2011 10:23:17 AM

## د دریم څپرکی موخې

په دې څپرکی کې به زده کوونکي د هغو خوړو ډولونه چې په خلکو کې د هغوی پخول دود دي وپیژني او زده کوونکي به په دې مطلب هم پوهه شي چې خواړه له دې توکو لکه:

سبو، مېوو، دانو، لبنیاتو، د کب، مرغانو او څارویو له غوښو څخه تیارېږي. همدارنگه کوم سنتي او عنعنوي خواړه چې د دې توکو او یا د څو توکو له یوځای کېدو څخه پخېږي او د هغوی ارزښت به په ښه ډول سره وپیژني. او همدارنگه هغه خواړه چې د نوي کال او د بېلابېلو مناسبتونو په خاطر پخېږي لکه: سمنک، هفت سین، قولورترش، ډنډه کې او داسې نور وپېژني.



(۳۰) تصویر



Calture G-12 Pashto.indd 60 8/16/2011 10:23:19 AM

# دریم څپرکی
# خواړه

شپاړسم لوست

## زموږ په هېواد کې د خوړو ډولونه

زموږ په هېواد کې د کومو خوړو خوړل ډېر دود دي؟

زموږ خلك خپل خواړه د سبو، دانو،میوو، او له شېدو څخه تیار شوي خواړه، د چرګو هګۍ، کبان، د مرغیو او څارویو غوښې او له وریجو څخه تیاروي.



(۳۱) تصویر

دغه توکي یا خو جلا جلا او یاپې یوله بل سره یو ځای پخوي.

لکه لبنیات له وریجو سره، سابه له غوښې سره، سابه له اوړو سره او په سلګونو ترکیبي ګډ خواړه د دوه، درې یا له دې زیاتو توکو څخه برابروي.

غنم، جوار او اوربشې اوړه کوي له هغې څخه ډوډۍ پخوي، چې د هغې ډولونه زموږ په هېواد کې عبارت دي له: خاصه ډوډۍ، چپاتی، پنجه کش، فطیره، پراټه، دکلچو ډولونه، بربري ډوډۍ



Calture G-12 Pashto.indd 61 8/16/2011 10:23:20 AM

او داسی نور.

دیادونې وړ ده چې زموږ خلک غنمینه ډوډۍ د نړی د نورو خلکو په نسبت ډېره خوري.

دانې د دلدې او جوشـولو په ډول خوري. لکه غنم، مهی، لوبیا، باقلي، نسـکان او داسي نور چې

یاېې ځوښوي او یاېې د قورمې په شکل پخوي.

د جوارو وریې هم جوشوي او هم یې په اورکې او یا د پولیوپه ډول نینې کوي.

ویل کېږي چې پخوابه ځینو کورنیو د جوارو اوړه د ډېر وخت لپاره ساتل، چې ترخه شي، خوړل

یې مشکل شي او لږ مصرف شي.



زمـوږ په هېواد کـې د وریجو خوړل ډېـر دي چې په

عمومي توګه د "شـولې" او "پلو" په ډول او ډېر

غوړین خوړل کېږي.

بـې وزله خلک یې د شـولې په ډول خوري

چې ددې مشهور ډولونه:

غوربندي شوله، کچړی قروت او ډنډه کی دي.

شـتمن خلک پلـو له غوښـې، سـبو، قورمـه، کوفتې،

(۳۲) تصویر

دو پیازه، او داسې نورو سره خوري.

پلو په بېلابېلو ډولونو پخېږي چې د هغې یو ډېر مشهور ډول اوزبکي قابلې پلو دی.

غوښین خواړه عبارت دي له: ښوروا، قورمه، کوفته، د کبابو ډولونه، دوپیازه، سالند، یخني، قلیه،

وریته شوې غوښه، د سر او پښو غوښه، کباب شوې یینه(جګر) او داسې نور.

په کلیوکې ځیني خلک غوښه وچوي یا "لاندي"کوي او بیایې خوري.

ډېره ګټوره غوښه د کب غوښه ده او له هغې څخه وروسته د مرغیو غوښه ده. لکه مرږ، سي سی،

زرک، صحرایي چرګ، فیل مرغ او داسي نور.

خمیري غوښـین او له سـبو سره ګډ خواړه عبارت دي له: منتو، بولاني، سمبوسه او ددې ډولونه.

کچالو(پټاټې) هم زموږ د خلکو په خوړوکې شـامل دي، چې هغه د ښـوروا، جوش، پکوړې، او

د چپس په ډول خوري.



Calture G-12 Pashto.indd 62 8/16/2011 10:23:21 AM

ځرنګـه چـې د ځـاروو روزل لکـه غوايي، بزې او پســونه زمورږ په هېواد کــې له پخوا څخه دود و، نــو په دې ســبب هغه خواړه چې د شــېدو او د هغې له محصولاتو څخه لاس ته راځــي له پخوا څخــه زمورږ په هېــواد کــې دود دي. په ځانګــړي توګه د پسرلي او دوبي په موسمونو کې.



(۳۳) تصوير

په باندېوکې چې هلته هر وخت د يخو او پاکو اوبو چينې روانې وي؛ دباندېو خواوشــا، دغرونو ســرونه، او لمنې ټول د وښــو په ځنګلونو او په طبيعي ګلانو باندې پوښــل شوي وي. مېږې، وزې او غواګانې له وښو څخه په دغو ډکو ځنګلونوکې څرېږي او تيونه يې له شېدو څخه ډکېږي. مالداره ښځې يې هره ورځ دوه وارې لوشي.

شيدې په يوه غټ چدني ديګ يا په کټوه کې ځوښوي او بيايې په نورو لوښو کې اچوي. بيا ورسره تومنه يو ځای کوي. تر ســهاره پورې هغه شــېدې په مســتو بدلېږي. د هغې په سر باندې يوه پرده، پېروی جوړېږي. پيروی ترې را اخلي، مستې په غرکه يا په کټوه کې شاربي چې په شرومبو او کوچو اوړي؛ بيا شرومبې چکه او سوزمه او بيا ترې کروت برابروي.

تازه شرومبې په ټوله نړۍ کې د ډېرو غورو مشروباتو څخه دي.

هغه خواړه چې له شېدو او د هغه له محصولاتو څخه لاس ته راځي عبارت دي له:

شــيربرنج، زېړغــوړي، قيمــاق، قيمــاق بــت، کُتخــي، کــوچ، پنير، روغــن جوشــي، ماليده، د شېدو چای، قيماق چای، قروتي، قولورترش او داسې نور.



(۳۴) تصویر

## په ټولګي کې فعالیت

ـ زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي.

ـ یوه ډله دې هغه خواړه چې له لبنیاتو څخه تیاربږی، بله ډله دې هغه خواړه چې له غوښو څخه تیاربږي، دریمه ډله دې هغه خواړه چې له سبو څخه برابربږي، څلورمه ډله دې هغه خواړه چې له وریجو څخه پخیږي، پخپلو کتابچوکې ولیکي.

## پوښتنې؟؟؟

ـ د انسان د بدن د روغتیا او سلامتی لپاره کوم ډول خواړه ډېر ګټور دي؟

ـ د خوړو په تیارولو کې باید کوم ټکي په پام کې ونیول شي؟

## کورنۍ دنده

ـ زده کوونکي دې دهغو خوړو ډولونه چې د هغوی په سیمه او چاپېریا ل کې یې پخول دود دي له خپلو مشرانو څخه وپوښتي، په خپلو کتابچوکې دې ولیکي، او ټولګي ته دې راوړي.

# د ځانګړو مناسبتونو خواړه

- زموږ په هېواد کې د کومو خوړو خوړل ډېر دود دي؟

ویل کېږي چې خواړه د څرنګوالي، کیفیت، د تیارولو او د هغې د مصالو او لوازمو له پلوه د یوې ټولنې د فرهنګ له مهمو توکو څخه دي. ځکه چې د یوې انساني ټولنې د فرهنګ جوړښت او بنه د هغې ټولنې د خوړو د سامان، جامو، د ودانیو د جوړښت څرنګوالي، د لیږد رالیږد واسطو، دعبادت ځایونو، د اوسېدلو ځایونو، دودونو او رواجونو له مخې پېژندل کېږي.

فرهنګ دیوې ټولنې د عادتونو، دودونو او رواجونو، ګومانونو، پوهې او دود شویو قوانینو ښودونکی دی. له دې کبله ټولنپېژندونکي د خوړو د تیارولو څرنګوالي او د پخولو ډولونه یې د یوې بشري ټولنې له ځانګړتیا وو څخه ګڼي او هغې ته ډېر ارزښت ورکوي.

په دې ځای کې موږ د څو ډولو خوړو د پخولو طریقه چې زموږ د هېواد په ګوټ ګوټ کې د هغې پخول د ځانګړو ورځو او مناسبتونو لپاره دود دي تاسوته در ښیو. او دا خواړه عبارت دي له: قولورترش، جوش، ډنډکي، ګوشت کوچه، سمنک او هفت سین دي.

## قولورترش او د هغې د پخولو طریقه

یوه اندازه غنم پاکوي، مینځي یې، په لویو خانکو کې یې په ښېدو لمدوي او په سیوري کې یې ږدي. هره ورځ یې لاندې باندې کوي تر هغې چې غنم ټولې ښېدې جذب کړي. وروسته هغه د یو پاک پوزي یا د ټوکر پر سر بیا هم سیوری ته هواروي، تر څو چې وچ شي. وروسته هغه، اوړه کوي، بیا دغه



Calture G-12 Pashto.indd 65 8/16/2011 10:23:26 AM

اوړه د وزې په شېدو کې د اوماچ(خسوگو)په ډول مبني. بیاېې هم په سیوری کې وچوي.

د وچولو څخه وروسته یې د ژمي لپاره زېرمه کوي.

د ژمي په یخو او باراني ورځو کې یې د هوږی، پیازو او بانجان رومي سره په غوړیو کې پخوي، چې خواړه خواړه ورڅخه جوړېږي او دې ته قولورترش وایي.

قولورترش د هرات او فراه په ولایتونوکې ډېر دود دی.

قولور ترش د زکام د درملنې لپاره ډېر گټور دی.

## جوش

د نورستان خلک یو ځانگړي خواړه د جوش په نوم پخوي چې هغه په ختمونو، خیراتونو، ودونو او نورو مراسمو کې پخوي.

## د جوش د پخولو طریقه

یو غویي حلالوي، غوښه یې ټوټه ټوټه کوي او په یوه غټ دیگ کې یې اچوي. بیاېې پرسرجوش اوبه اچوي او د لاندې ورته اور بلوي او شاوخوا دیوه ساعت په اندازه ورته ځوښ ورکوي. بیا غوښه د هغې له ښوروا څخه جلاکوي. په چاړه یې ټوټه ټوټه کوي، دغه میده شوې غوښه یوځل بیا په دیگ کې له اوړو سره یوځای، لړي. بیا ځوښ ورکوي تر څو چې ښه پخه او نرمه شي.

کله چې غوښه دگډو شوو اوړو سره ښه پخه شي د جوش خواړه تیار او د خوړلو وړ دي.



Calture G-12 Pashto.indd 66 8/16/2011 10:23:26 AM

## ډنډه کی او د هغې د پخولو طریقه

په دیگ کې غوړي اچوي او هغه سره کوي. بیا پیاز او رومیان وریکی اچوي او ښه یې سره کوي. بیا د اړتیا په اندازه اوبه پکې اچوي، وروسته بیا شوله یي وریجې د لرو مهیو سره چې مخکې د اړتیا په اندازه مینځل شوې او تیارې شوې وي په دیگ کې اچوي او شاوخوا یو ساعت دیگ ته ځوښ ورکوي. وریجې او مهی ټولې اوبه جذبوي او خواره پخیږي.

بیا دغه شوله په غوري کې را باسي، د هغې پر سر باندې قروت او سره شــــوې کـــوچ اچوي او خوري یې.

دا خوندور خواړه زیاتره د پکتیا، پکتیکا، خوست، ارګون او کتواز په خلکو کې ډېر دود لري.

## ګوشت کوچه

ګوشت کوچه د خوړو یو ډول دی چې د میدان وردګو، د بهسودو او د دایزنګي په سیموکې یې دمحرم په لسمه او یا ځینی وخت چې شتمن حاجیان له حجه راوګرځي، پخوي.

د پخولو طریقه یې

د ښې او خوندورې (ګوشت کوچې)د پخولو له پاره په معمولي توګه د پسه غوښه او غنم په مساوي اندازه په نظر کې نیسي. د مثال په توګه، لس کیلو غنم د لسو کیلو د پسه له غوښې سره.

لومړی، غنم پاکوي، مینځي یې، بیا په لویو دیګو نوکې اوبه اچوي او دغه غنم په هغې کې اچوي. بیا غوښه هم د دیگ په منځ کې غورځوي او د شپې له سره د دیگ د لاندې اور بلوي او ترسبا غرمې پورې دغه پخول دوام کوي، تر څو دغه غوښه د غنمو په اوبو کې دومره حل شي چې هیڅ نښه یې پاتې نه شي. د غوښې هډوکي له دیگ څخه را باسي.

غنم چې د دیگ په منځ کې د ډېرځوښ له مخې د غوښې سره سرښناکه شکل غوره کوي هغه په



Calture G-12 Pashto.indd 67 8/16/2011 10:23:26 AM

قابونو کې اچوي او مېلمنو ته یې وړاندې کوي.

گوشت کوچه ډېر خوندور او مزه دار خواړه دي.

## په ټولگي کې فعالیت

ـ زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او هره ډله دې په خپلو کې د خوړو په هکله خبرې وکړي.

## پوښتنې؟؟؟

ـ د ځانگړو مناسبتونو او ورځو خواړه کوم ډول خواړه دي او زموږ په فرهنگ کې هغه د کومو موخو لپاره تیاروي.

ـ قولورتش څرنگه خواړه دي، هغه څرنگه پخوي او د هېواد په کومو سیمو کې دود دی؟

ـ د نورستان خلک د "جوش خواړه" په کوم ډول پخوي؟

ـ "گوشت کوچه" د هېواد په کومه سیمه کې او په کومه طریقه پخېږي؟

ـ ډندکی د کچرې قروتو سره څه توپیر لري؟

## کورنۍ دنده

ـ که ستاسې په سیمه کې کوم نور ځانگړي خواړه پخېږي او تاسې هغه پېژنئ، پخپلو کتابچو کې یې ولیکئ او په راتلونکي ساعت کې یې ټولگي ته راوړئ!

اتلسم لوست

# سمنک

سمنك څه شی دی؟

سـمنك په كورنيوكې د ښـځو په ځانګړو مراسمو سره د پسرلي او نوی كا ل د راتلو په خوشحالۍ پخېږي.

**د سمنک د پخولو طريقه.**

يوه اندازه غنم لومړی پاكوي، پرېمينځی او په يو هوار لوښي كې آزادی هواته ږدي.
د پسـرلي نـرم بارانونه پرې ورېـږي او غنم په خو ورځوكې تېغ كوي، جرړې كوي او شـنه كېږي.
كله چې د غنمو بوټي شاوخوا د يوی لوېشت په اندازه وده وكړي، دغه شنې تنې را اخلي او په يوه اوغور كې يې ټكوي، دهغې شـيره را اخلي او په يو لوي ديگ كې يې اچوي. يوه اندازه اوړه هم ورسره ګډوي او په يوه ديگ كې چې لاندې ترې اور بلېږی اچوي.
د ګاونډيانو، د محلې او خپلوانې ښـځې په يوه كوركې را غونډېږي، يوه مشـره، بركتي او ښـكلې ښـځه كفګيـر را اخلـي، د ديګ محتويات په كفګير سـره لـړي او په نوي كا ل كـې د روزی د پراخوالي او د الله تعالی (ج) د نعمتونو د ډېروالي دعاګانې كوي. نورې ښـځې هم ټولې تر سـهاره خوب نه كوي او په وار سره سمنك د ديګ په داخل كې لړي.
ځوانې جونې هم په دې مراسـموكې ګډون كوي، چمبه وهي، په خوښـی او خوشـحالی سره دا سندره په خوږو آوازونو وايي:

سمنک در جوش ما کفچه زنیم   دیگران در خواب ما دفچه زنیم
سمنـــک نـــذر بهـــار است   میـــلهٔ شب زنــــده دار است
این خوشی سالی یکبار است- سال دیگر یا نصیب
سمنک در جوش ما کفچه زنیم   دیگران در خواب ما دفچه زنیم
آرزو امـــشب خـــروشـــد   سمنـــک درخـــود بـــجوشد
دلخوشی جامه بپوشد- سال دیگر یا نصیب

سمنک در جوش ما کفچه زنیم　　　دیگران در خواب ما دفچه زنیم
ایـــن گل فـصل بــــهاران　　　دلــخوشی دارد هــــزاران
خاصه برشب زنده داران- سال دیگریا نصیب
سمنک در جوش ما کفچه زنیم　　　دیگران در خواب ما دفچه زنیم
بــی شــکـر شیـریـــنی دارد　　　خــود بـــه خـود رنگینی دارد
طعم خوش چون فِرنِی دارد- سال دیگریانصیب
سمنک در جوش ما کفچه زنیم　　　دیگران در خواب ما دفچه زنیم
خوش نـماید روبــه جــوشش　　　دیــدنــی بــاشد خــروشش
ساجقک دارد به دوشش- سال دیگریانصیب
سمنک در جوش ما کفچه زنیم　　　دیگران در خواب ما دفچه زنیم
شـــاهــد عـیش بــهار است　　　مــوجد شــور و شــرار است
واجب هر گیر و دار است -سال دیگریانصیب
سمنک در جوش ما کفچه زنیم　　　دیگران در خواب ما دفچه زنیم

سهار وختي چې سمنک پوخ شي هغه په گاونډیانو، دکوڅې او محلې په خلکو باندي ویشي. دسمنک پخولو دود چې د تېرو وختونو څخه یادگار پاتې شوی دی زموږ په گران هېواد کې په ځانگړو مراسمو نمانځل کېږي.

## په ټولگي کې فعالیت

ـ یو زده کوونکی دې د ټولگي مخی ته راشي او د نوي کال د سمنک پخولو د مراسمو په هکله دې خبرې وکړي.

## پوښتنې؟؟؟

ـ سمنک پخول او سمنک خوړل څه خوند لري؟
ـ د سمنک پخولو مېله د فرهنگ له حیثه څه ځانگړتیاوې او ارزښتونه لري؟

## کورنۍ دنده

ـ زده کوونکي دې د خپلو خپلوانو څخه د سمنک پخولو او د نوي کال دودونو په هکله معلومات ترلاسه کړي، پخپلو کتابچوکې دې ولیکي او ټولگي ته دې راوړي.


Calture G-12 Pashto.indd 70　8/16/2011 10:23:29 AM

نولسم لوست

# د "هفت سین" دسترخوان

## هفت سین څه شی دی؟

په نوي کال کې هفت سین ځانګړې معنا لري.

په پخوانیو زمانو کې به انځور شوي، ښکلي او قیمتي قابونه چې د کابولین له جنس څخه وو د چین څخه خراسان (افغانستان) ته راوړل کېدل. بیابه له هغه هېواد څخه چې دا به ترې راوړل کېدل د چیني په نوم یاد شول، چې د وخت په تېریدلو او د ویناوو په بدلون سره د سیني په بڼه یې تغییرموندلی دی.

خلکو به په هغې زمانه کې د نوي کال د دسترخوان د جوړولو لپاره ددې انځور شویو لوښو څخه کار اخیسته. دا لوښي به یې د نقلو، قند او نباتو څخه ډکول.

د (۷) عدد زموږ په فرهنګ او ادبیاتو کې د نیکمرغی د عدد نښه ده او د هغې کارول په هفت خوان رُستم، د آسمان اوه طبقې، د عشق او عرفان اوه مرحلې، اوه اختره، اوه اقلیمه، د اونۍ اوه ورځې، د ناوې اومه، د مړي اومه اوداسې نور په نظر راځي.

له هفت سین څخه سربیره کوم شیان چې د نوي کا ل په سفره(دسترخوان) باندې تیارېږي (مڼه، سنځلې، سرکه، هوږه، سابه، سمارق (خرېړ)، سمنو، اوبه ، هنداره، سره شوي کبان، په شمع دانۍ کې بلې شوې شمعې، سکه، سپلن، بوره، په اوبو کې غوټه شوی نارنج، د چرګو رنګ شوې هګۍ، ډوډۍ او ګلدانۍ) ده چې د دوی هر یو یې په لاندې ډول خپلې خپلې نښې لري.

۱- مڼه: د زړورتیا، عشق او عرفان نښه ده.

۲- سنځله: د سنځلې دګل عطر په فضا کې خورېږي، د انسان حسي قواوې راپاروي.



(۳۵) تصویر

۳- سرکه: د صبر او زغم نښه ده.

۴- هوږه: د روغتیا نښه ده.

۵- سابه: د باروری او برکت نښه ده.

٦- سمارق: د راختونکي لمر په څېر دی، د دویم ژوند پیل او د راختو ښکارندوی دی.

۷- سمنو: د سمنو (سمنک) په هکله بېلې بېلې ویناوې او نقلونه شته دی.



Calture G-12 Pashto.indd 71 8/16/2011 10:23:31 AM

۸- اوبه: د زړه د روښانه کېدلو، برکت، ثمر ورکولو او د بریالیتوب نښه ده.
۹- هنداره: خپل ځان ته کتل او خپل باطن ته د پام راګرځولو نښه ده.
۱۰- کب: د تولید، تازه ګی، پریماني، تکاپو او د کوښښ کولو نښه ده.
۱۱- شمع: د فروغ او روښنايي نښه ده.
۱۲- سکه: د بډايي او شتمنۍ نښه ده.
۱۳- سپلنې: د سترګې د زخم او د بد نظر د لرې کولو نښه ده.
۱۴- شکر(خواږه): د تل لپاره د کورنۍ د غړو د خوله د خوږېدلو نښه ده.
۱۵- په اوبو کې غوټه شوی نارنج: د اوبو په مخ باندې د ځمکې د درېدلو نښه ده.
۱۶- د چرګې هګۍ: د نطفې د خلقت او امیدوارۍ نښه ده.
۱۷- ډوډۍ: د روزۍ د پراخوالي او برکت نښه ده.
۱۸- ګلدان اوګل: د ښکلا نښه ده.

د هفت سین د دسترخوان په هکله داسې ویل شوي دي چې سینونه د صداقت، عدالت، انصاف، غوره رفتار، کړنه او وینا، بریالیتوب، پرهېزګاري، د تقوا او بخښښ نښې دي.
پـه دې ترتیـب د نوي کا ل په دې دسـترخوان کې د طبیعت ډالۍ خلاصـه او یوځای دي. او هغه ښـکلاوې چې په طبیعت کې شـته دی د هفت سین په دسترخوان کې د الله تعالی (ج) د قدرتونو نښې ځرګندېږي.
د هفت سین دسترخوان د خلکو د هیلو او آرمانونو لپاره د نېکمرغیو څخه ډکه ده.

### په ټولګي کې فعالیت

ـ زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشـل شـي او هره ډله دې ددې نښو ځانګړتیاوې په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

### پوښتنې؟؟؟

ـ مڼه او سنځلې کوم ډول میوې دي؟
ـ هوږه د انسان د بدن لپاره څومره ګټوره ده؟
ـ سمارق پېژنئ؟ څه ډول نبات دی؟

### کورنۍ دنده

ـ زده کوونکي دې د هغو نښـو د نومونو په باره کې چې یاد شـول د خپلو کورنیو له مشـرانو څخه دې معلومات راغونډ کړي، پخپلو کتابچو کې دې ولیکي او ټولګي ته دې راوړي.



Calture G-12 Pashto.indd 72 8/16/2011 10:23:32 AM

## د دریم څپرکي لنډیز

زموږ په هېواد کې د بېلا بېلو خوړو پخول په خلکو کې دود دی، چې زیاتره یې د سبو، دانو، شېدو، وریجو، مېوو، کبانو، مرغانو او د څارویو له غوښو څخه پخېږي.

زموږ خلک غنمینه ډوډۍ ډېره خوري او د زیاترو خوړو سره په دسترخوان کې شتون لري.

قولورترش له هغو خوړو څخه دی چې زیاتره د هرات او فراه په ولایتونو کې دود دی.

جوش د نورستان د خلکو ځانګړي خواړه دي.

ګوشت کوچه د دایزنګي او هزاره جاتو د خلکو خواړه دي.

سمنک د ښځو په ځانګړو مراسمو سره د پسرلي او نوي کال په راتلو په کورنیو کې پخېږي. د سمنک پخولو دود چې له پخوا څخه په یادګار کې پاتې شوی دی همدا ډول د «هفت سین» دسترخوان خورول چې د پسرلي په راتلو او د نوي کا ل په هرکلي کې ترسره کېږي، زرګونه کلونه لرغونتیا لري.

«۷» زموږ په فرهنګ او ادبیاتو کې د نیکمرغۍ عدد دی او د هغې کارول د رستم په «هفت خوانو»، د اوه آسمانونو، د عشق او عرفان په اوه مرحلو، اوه اخترونو، د اونۍ په اوه ورځو او داسې نورو کې لېدل کېږي.

هفت سین عبارت دی له: منې، سنځلې، هوږه، سابه، سمارق، سمنو او سرکې څخه.



Calture G-12 Pashto.indd 73 8/16/2011 10:23:32 AM

## د څلورم څپرکي موخې

په دې څپرکي کې به زده کوونکي په کورنیو کې د ځمکو اندازه او ډولونو او په هېواد کې به د کرنیزو محصولاتو سره بلد شي او د ځمکه والو او مزدورو بزګرانو ترمنځ به د مناسباتو په څرنګوالي پوهه شي.

زده کوونکي به د باغونو او ځنګلونو په ارزښت او د ژوند د چاپیریال په ساتنه کې د هغې روغتیایي ارزښت او اغیزې ته پام وکي.

زده کوونکي به د غورو مېوو ډولونه او په نړیوالو بازارونو کې به د هغې ارزښت وپېژني او زموږ د هېواد د مېوو د صادرولو فکر پیدا کړي.



(۳۶) تصویر

# خلورم څپرکی
# سیمه ییز اقتصاد

شلم لوست

## د ځمکې وېشلو او د شولو د کرلو طریقه

شولې له وریجو څخه توپیر لري؟

زمــوږ ګران هېواد افغانســتان په لویــه کچه یو غرنی هېواد دی. د هېواد د ځینو شــمال، لویدیزو او ســویل لویدیزو ســیمو پرته په نورو ســیمو کې ځمکې په لوړو پرتې دي او ځومره چې خلکو دا ځمکې یوې (قلبه) کړې دي په للمي ډول پکې غنم او چنې کري خو دومره حاصل ترې نه تر لاسه کوي.



(۳۷) تصویر

مګر په هوارو ســیمو کې چې ځمکې په سیندونو اوبه کېږي، خلک په ځمکو کې غنم، جوار، وربشــې او شــولې کري، له هغې څخه ښه حاصل تر لاسه کوي. چې په تودو ډېرو اوبه لرونکو سیمو کې په کال کې دوه ځلې ځمکې ښه حاصل ورکوي.

د خلکــو د هوارو، آبــي او کرنیزو ځمکو اندازه ډېره کمــه ده. اوکوم خلک چې خپلې ځمکې نه لري د ملاکینو په ځمکه کې د مزدور بزګر په ډول کار کوي او د حاصل د اخیســتلو په وخت کې د خلورو څخه یوه یا له پنځو څخه یوه او یا په نیمایي برخه کې شریک وي.



Calture G-12 Pashto.indd 75 8/16/2011 10:23:35 AM

پخوا چې د ځمکې يوي (قلبه) کول د دوه غويانو، يوې اوجغ په واسطه کېدل، د کرنې کارونه به په سستۍ او ځنډ پرمخ تلل، خو اوس چې په ډېرو سيمو کې کرنه ميکانيزه شوې ده هم کرنه او هم د محصول ټولول آسان او تېز شوي دي.

پخوا بـه خلکو پـه کرنه او اوبه کولو کې يو له بل سـره کارونه په ګډه ترسـره کـول، چې د ويالې د پاکولو، د غنمو د لَو، د درمند او غوبل، حشر او داسې نور يادېدل.

پـه هـر صورت د غلو دانـو د کرلو ډولونه چې زموږ د هېواد په ډيرو سـيمو کې دود دي، ټول او يا زياتره بزګران د هغې د کرلو په طريقه پوهېږي؛ خو سـره له دې چې شـولې ډېرې ګټورې دي؛ خو ډېر خلك د هغې له کرلو سره بلد نه دي.

په لاندې توګه تاسو ته د شولو د کرلو اود حاصل ترلاسه کولو د طريقو په هکله معلومات درکوو:

## د شولو کرل او د وريجو حاصل

وريجې زموږ د هېواد له غوره محصولاتو څخـه ګڼل کېږي. دا حاصل د شـولو له دانو څخه لاس ته راځي او شـولې زموږ د هېـواد په هغو سـيمو کې کـرل کيږي چــې پريمانه اوبه او تـوده هوا لري ځکه چې ډېرې اوبه او توده هوا ددې کښـت د لومړنيو او دايمي اړتياوو څخه دي.



(۳۸) تصوير

په بغلان، کندز، تخار، لغمان، خاص کنړ، وردګ، غزنی او هرات کې شـولې ډېرې کرل کېږي.

د شـولو کرل او د هغې روزنه د وريجو د لاسـته راتلو پورې ډېره خواري او لازمه حوصله غواړي.



Calture G-12 Pashto.indd 76 8/16/2011 10:23:39 AM

په ځانګړې توګه سـدري یـا نرۍ وریجې سـربیره د هغې د نهالولـو او لوکولو څخه جوش او تف ته هم اړتیا لري.
زمـوږ په هېواد کې مروجې شــولې او هغه وریجې چې له دې څخه لاس ته راځي په عمـده توګه په دوه ډوله دي چې د هغو هر یو لاندې بیانېږي:



(۳۹) تصویر. د نیالګیو کېنول

## نیلوفر شولې

دا ډول شــولې ګردې او پلنې دانې لري او کله چې وټکول شــي، سپین رنګه وریجې له هغې څخه لاسته راځي.

## د کرلو طریقه او د هغې حاصل

د نیلوفر شولو کښت د لوکولو تر وخته نسبت سدري شولو ته لږ وخت نیسي. له دې کبله د سدري شولو څخه وروسته کرل کېږي او یا که په یوه وخت کې هم وکرل شي حاصل یې مخکې لاس ته راځي. دا کښت په معمولي توګه د غويي (ثور) په میاشت کې یا لږ وروسته کرل کېږي. او په څلورو میاشتو کې د هغې محصول لاس ته راځي. له هغې وخته چې ددې شولو تخم کرل کېږي ترهغې چې پخېدلو ته رسېږي، ډېرو دوامدارو اوبو ته اړتیا لري او چې څه وخت د هغې په اوبو کې کمی راشــي او ځمکه ورته وچه شــي، په کښت کې خلل رامنځ ته کېږي او سم وږي نه باسي. د نیلوفر شولو د وږو نه کول د بزګرانو په اصطلاح کې د شنډۍ «ګنګک» په نامه یادېږي.
کله چې د شــولو فصل پوخ شــي، لو کېږي، په یوه ځای کې راجمع او درمند (غوبل) کېږي. بیا د



Calture G-12 Pashto.indd 77 8/16/2011 10:23:40 AM

لرګینــې کارګاه (پایکوب، ګردو او جواز) په واســطه چې کلیــوا ل صنعت دی ټکول کېږي، ترڅو چې دانې یې له تنو څخه بېلې شي، بیا یې د راشبیل په واسطه په هوا کې پورته الوځوي چې دانې له بوسو څخه جلا شي او وریجې لاس ته راشي.

## نری یا سدري شولې

سدرې شولې اعلی او د ښه رنګ لرونکی وریجې دي چې دانې یې نرۍ او اوږدې وي.

## د سدری شولو د کرلو او روزنې طریقه

یــوه اندازه شــولې په یــوه وړوکې پټې کې کري، کله چې د یوې لویشــت په انــدازه وده وکړي، بیا یوه یوه قوده په لاس کې رانیســي، په ولاړه یې په کرښه ملا د رکوع په ډول له ســهاره تر ماښــامه یې د شــولو پــه پټي کې چې هم په پټي کې تــودې اوبه ولاړې وي او هم ســوزونکی لمر کارګران په عذابوي، په پسته او د اوبو څخه په ډکه ځمکه کې یې نهالوي او بیا یې په دایمي توګه اوبه کوي.

د ســدري شــولو کرل او د هغــې څخه وریجې لاس تــه راوړل ډېره خواري غواړي. دا شــولې په شــپږو میاشــتو کې لاس ته راځي اود پیل څخه تر پایه باید د ځمکې په منځ کې اوبه ولاړې وي.

له دې څخه پرته به ښه او کافي محصول ونلري. ســدري شــولې د غویي(ثور) په میاشــت کې کرل کېږي او د تلې(میزان) د میاشتې پورې پخېږي. په دې موده کې بایــد چې بزګر یو یا دوه واره هرزه واښــه د شــولو د کښــت له مینځه چــې پټی له



(۴۰) تصویر



Calture G-12 Pashto.indd 78 8/16/2011 10:23:41 AM

اوبــو څخــه ډک وي په ولاړه په کړه ملا راباســي او لرې کوي يې. په ځمکه کې د اوبو شــته والی هر وخت څاري چې ځمکه بې اوبو نه شــي. د يو څه وخت څخه وروســته شولې وربړي کوي چې په دې وخت کې تودې هوا ته اړتيا لري چې پخې شي.

وربړي شــوې شــولې ډېرې ښــکلې او زېړه راښــکونکې وي او کتونکي د هغې له سيل څخه خوند اخلي.

کله چې د شــولو کښــت زېړ او پوخ شی بزګران يې لو او غوبل کوي، بيايې د پايکوب د دستګاه په واسطه ټکوي چې وريجې له بوسو څخه جلا شي.

د سدري شولو په لاس ته راتلو سره د وريجو د توليد نيم کار ترسره شوی وي، ځکه چې بيا يوه بله اوږده پروسه (جوش او تف ورکول) ترشا لري، چې له هغې وروسته وريجې تری لاس ته راځي.

## شولو ته جوش او تف ورکول او د وريجو توليد

ســدري شــولې جوش او تف ورکولو ته اړتيا لري. دا کار په دې موخه تر ســره کېږي چې وريجې يې ماتې نه شــي او د رنګ او خوند له پلوه بهترې شــی. کله چې شولې له درمنده لاس ته راشي د هغې د جوش او تف لپاره ځای تياروي. لومړی لوی ديګونه تياروي او په هغې کې يوه اندازه اوبو ته د اور په واســطه جوش ورکوي. کله چې اوبه په جوش راشــي شولې د ديګ په منځ کې اچوي او د څو ساعتونو په موده يې په اوبو کې ساتي. په دې طريقه شــولې د اوبــو پــه منځ کې جوش کوي اوکلکېږي. وروسته بيا د تف ورکولو وار



(۴۱) تصوير. وريجې



Calture G-12 Pashto.indd 79 8/16/2011 10:23:42 AM

رارسیږي. ددې کار د سر ته رسولو لپاره چودني دیګ په نغري (بټۍ) کې ځای په ځای کوي. په دې نغري کې باید له سهار څخه تر ماښامه اور، بل وي چې دیګ ښه تود او سور وي. او د شولو تفګر په هغې کې شولوته تف ورکړي. تفګر لړې لړې شولې د چودني دیګ منځ ته اچوي او په لرګي سره یې لړي، چې تف وخوري او بیایې له دیګه را باسي. وروسته بیا تف شوې شولې لمر ته هواروي. چې وچې شي او له وچېدلو څخه وروسته د ماشین یا د پایکوب په واسطه ټکول کېږي چې د شولو پوستکی له دانو څخه بېل او وریجې تر لاسه شي.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې د هېواد د حاصلخېزو سیمو په هکله خبرې وکړي او د خپلو خبرو پایلې دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

## پوښتنې؟؟؟

_ د سدري شولو کښت زموږ د هېواد په کومو ولایتونو کې ډېر دود دی؟

_ کنجد څه ډول دانې دي او له هغې څخه کومه ګټه ترلاسه کېږي؟

## کورنۍ دنده

_ هر زده کوونکی دې د خپلې سیمې کرنیز محصولات ولیکي او په راتلونکي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.



Calture G-12 Pashto.indd 80 8/16/2011 10:23:43 AM


یوویشتم لوست

# بڼوالي، د مېوو تولید او ځنګلونه

ستاسې په سیمه کې کوم ډول مېوې پیداکېږي؟

زموږ ګران هېواد افغانستان د باغونو، ځنګلونو او میوو ټاټوبی دی.
هر ډول مېوه لرونکې او بې مېوې ونې په هوارو او غرنیو ځمکو کې راخېژي او ښه حاصل ورکوي.
غـوره مېـوې لکه انار، خټکي، زردآلو، شـفتالو، انګور، انځر، توت زمیني او داسـې نورې روزل کېږي.

د ونو روزل او د ځنګلونو شتون د زرغونتیا، ښکلا، د تازه هوا د مېوې د تولید، د شاتو مچیو د روزلو زمینه برابروي. د وښــو د پوښــښ طبقې جوړول، د خاورې ساتل او په نتیجه کې د شین چاپیریا ل او پاکې هوا د رامنځته کېدلو او زموږ ښکلي هېواد ته د نړۍ د سیلانیانو او جهان ګردانو د پام راګرځولو سـبب کېږي. لکـه څرنګه چې ټـول پوهېږو زموږ هېواد د تودوخـې درجـې بیلابیل ډولونه، لـوړه ارتفاع، تودې، یخـې او معتدلـې سـیمې لري.




(۴۲) تصویر. مېوې او د شاتو مچیو ګبین

زمـوږ خلـک پـه معتدلو سـیمو کې میـوه لرونکې ونې لکه: زردآلو، شفتالو، ګیـلاس، آلوبالو، توتان، غوزان، منې، ناک، انګور، بادام، پسته، زمیني توت، انځر او داسـې نـورې روزي. پـه تودو



Calture G-12 Pashto.indd 81 8/16/2011 10:23:46 AM

سیمو کې د جلغوزو، لیمو، نارنج، کینو، مالټه، زیتون او داسې نورې ونې کرل کېږي او ښه حاصل تــرې لاس تــه راځي او موږ يې وينو چې دغه غوره او ښــې ميوې لکه انار، تــوت زميني، زردآلو، خټکی او داسې نورې د نړۍ په بازارونو کې ښه پيريدونکي او مينه وال لري.
د خټکو د بېلا بېلو ډولونو کرل لکه: قندک، اله پوچاق، ســوزدُله، ارکاني، عســقلاني، برگ نی او پــه لســگونو نــور ډولونه لــه پخوا څخه د هېواد په شــمالي ســیمو، لکــه تخار، قندز، ســمنگان، مــزار شــريف، اندخــوی، بغلان اود هلمند په ولايت کــې دود دي چې د ډېرو اوبــو لرلو، خوند او لطافــت له پلوه په نړۍ کې ســاری نه لري. په ځانگړې توگه د امــام صاحب، چاه آب او خان آباد د قندک خټکي چې د خليج د هېوادونو په بازارونو کــې يې ډېر مينه وال پيرودونکي پيدا کړي دي.
د قندز، هلمند او کيله گي هندوانې هم ښه نوم لري.
زموږ د گران هېواد د خاورې، اوبو او هوا مزيت او ځانگړنه په دې کې ده چې دغه ونې او بوټي يوازې



(۴۳) تصوير. مېوې



Calture G-12 Pashto.indd 82 8/16/2011 10:23:53 AM

په هوارو ځمکو نه بلکې په غرونو او غونډیو کې هم ښه وده او نمو کوي او میوه نیسي.
زموږ هغه زیارکښ خلك چې د ونو په روزنه او د لویو او کوچنیو باغونو د جوړولو او پالنې سره ډېره مینه لري، په دې وروستیو کې یې د هوارو ځمکو څخه سربېره په غرونو کې نیالګي او ونې کېنولي او باغونه یې جوړ کړي دي.
څرنګه چې زموږ د هېواد ځمکه او هوا د بوټو، ونو او د ګیاهي پوښښ د ایجاد لپاره ډېره مساعده ده، له دې کبله له پخوا څخه په غرونو کې د میوه لرونکو او بې میوو ونو ډولونه لکه پسته، بادام، غوزان، منې، ناك (قیمم، شـکندي)، تاك، قره قات، یخمن، زرشـك، نښـتر، څیړۍ، شـنې، ګرګرې، ځنغوزې او د داسې نورې په زره پورې ځنګلي ونې پخپله راخېژي.
که څه هم چې د تېرو شوو لسیزو په ګډوډیو کې د بې احتیاطۍ له کبله ددې ونو او بوټو یوه زیاته برخه زیانمنه شوه خو زموږ پوهو او هوښیارو خلکو ډېر ژر دې لورې ته پام راوګرځاوه او سربېره پردې چې ددې له منځه تللو مخه یې ونیوله، په لوړو سطحو، غونډیو او غرونو کې یې د باغونو په جوړولو باندې په پراخه کچه سره لاس پورې کړی او ډېرې غوره نتیجې یې ترې اخېستلې دي.
زموږ خلك د تجربې له مخې پوهه شو، دې چې د غلو دانو کرل ډېره خواري غواړي او هرکال باید چې ځمکه یوه (قلبه) کړي، تخم پکې وشیندي او اوبه یې کړي، خو ونه چې یو وار کېنوي، په کمه خوارۍ او لږو اوبو کولو سره هرکال لوېږي او په څو محدودو کلونو کې په لویه ونه باندې بدلېږي او په راتلونکو ډیرو کلونو کې بې له خوارۍ حاصل او میوه ورکوي.
ونه یو ګټور، محبوب او په زړه پورې موجود دی، چې الله تعالی ددې په وجود کې دغه لاندې نعمتونه او مزیتونه خلق کړي دي:
ګل، غوټۍ او پاڼې کوي، میوه نیسـي، د ژوند د چاپیریال هوا پاکوي، (اکسـجن جـوړوي). باران تولیدوي او اوبه زیاتوي، سـیوري کوي، د شـاتو مچۍ ددې د ګلونو له شیرې څخه شات جوړوي، د ځمکې او د غرونو خاورې په خپلو نیلو (جرړو) سره ساتي، ښکلا را پیداکوي او د نرۍ د سیلانیانو او جهان ګردانو پام زموږ ګران هېواد ته را اړوي.
ونه د ځمکې پرمخ د الله تعالی ارزښتناکترین، بهترین او عالي ترین مخلوق دی.
پیغامبر اکرم (ﷺ) فرمایلي دي: (که له ستاسو څخه په یوه کس باندې قیامت قایم شي او په لاس کې یې نیالګي نیولي وي هغه دې کینوي) رواه مسلم او بخاري
زموږ دغه غوره میوې په نړۍ کې ډېرښه بازار لري:
انار، انګور، خټکي، غوزان، بادام، پسته، ځنغوزې، منې، ناك، زردآلو، شفتالو، ګیلاس، آلوبالو او



Calture G-12 Pashto.indd 83 8/16/2011 10:23:53 AM

د لسگونو نورو میوو ډولونه.



(۴۴) تصویر. آلوبالو

## په ټولګي کې فعالیت

ـ زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د خپلو سیمو د میوو نومونه ولیکي.

## پوښتنې؟؟؟

- څرنګه کولی شو چې په خپل هېواد کې باغدارۍ، د میوې تولید او ځنګلونو ته پراخوالی ورکړو؟
- څرنګه کولی شو چې خپل هېواد د نړۍ د ګرځندویو او سیلانیانو لپاره په یو ښکلي هېواد واړوو؟
- ستاسې په سیمه کې د نیالګیو کینول په څه ډول کېږي؟

## کورنۍ دنده

ـ زده کوونکي دې د هغو مېوو، باغونو او ځنګلونو ډولونه چې په دې وروستیو کې د هغوی په سیمو او کلیو کې تولید، تکثیر او جوړ شوي دي معلومات تر لاسه کړي، په خپلو کتابچو کې دې ولیکي او په بل ساعت کې دې ټولګي ته راوړي.



Calture G-12 Pashto.indd 84 8/16/2011 10:23:55 AM

دوه ويشتم لوست

# زموږ په هېواد کې د کروندو د اوبه کولو سېستم

زموږ په هېواد کې خلک با غونه او د کرنې ځمکې په کوم ډول او به کوي؟

څرنگه چې ټول پوهېږو زموږ گران هېواد افغانستان چې زياتره غرنی دی د دې د اوبه کولو سيستم هم د اقليمي، طبيعي، د ځمکې جوړښت او د اوبو د توليد د څرنگوالی تابع دی.


کرنه او زراعت له پخوا څخه په دوه ډوله و، يو په للمي ډول او بل په آبي ډول.

للمي هغه ډول دی چې ځمکه يوی (قلبه) کوي، تخم پکی شيندي کله چې پوخ شي، لو او درمند کوي يې ددې خواري د آبي کروندې غوندي ډېره نه ده، خو ځمکه يو کا ل ترمنځ کرل کېږي، سر بيره له دښتو په خاورينو غونډيو کې هم للمي کښت رواج دی او د باران د اوبو په واسطه خړوبېږي. که چېرته بارانونه ونه شي کښتونه سوځي او حاصل نه ورکوي.

بله آبي کرنه ده چې په هوارو ځمکوکې سيندونو، نهرونو او کاريزونو ته نژدې ده. دا ځمکې د تخم له کرلو څخه وروسته څو وارې اوبه کېږي لکه د شولو په کروندو کې بايد اوبه هر وخت په ځمکه او کرونده کې ډنډ ولاړې وي.

په عمومی ډول سره په نړۍ او هېواد کې د اوبه کولو منابع په لاندې ډول دي:

د سيند اوبه، د چينو اوبه، د کاريز اوبه، د کوهيانو (څاه گانو) اوبه، ارهټ، ژورکوهيان (واټرپمپ)، د سيلاب اوبه، د باران اوبه، قطره يی سسيتم، "سفره های زير زمينی" (د ځمکې لاندې د اوبو زېرمې)، خاورين او کانکريټي بندونه .



(۴۵) تصوير



Calture G-12 Pashto.indd 85 8/16/2011 10:23:56 AM



(۴۶) تصویر

## اوبه کول د سیندونو په اوبو

۱- په هغو سیمو او دروکې چې لوی سیندونه بهېږي لکه د هلمند سیند، هریرود، ارغنداب، مرغاب، د آموسیند، دکوکچې سیند، دبلخاب سیند، دکندز سیند، د فرخار سیند، دپنجشیر سیند، د غوربند سیند، د لوګر سیند، د کابل سیند، دکنړ سیند، د پېچ درې سیند، للندر او داسی نور. د دې سیندونو اوبه خپلو دواړو غاړو ته ځمکې خړوبوي.

خلکو د سیندونو دواړو غاړو ته غټ نهرونه او ویالې کیندلې دي چې ددې نهرونو او ویالو په واسطه خپلو ځمکو او کروندو ته اوبه رسوي او ځمکې پرې اوبه کوي.

طبعاً د اوبو په حقابه او وېشلو کې د خلکو ترمنځ ځینې مناسبات، قواعد او دودونه شته دي چې ټول د هغې په رعایت کولو باندې ملزم وي. د اوبو د وېشلو مناسبات د میرآب د با نفوذ شخص له خوا په منظم ډول اداره کېږي او دا سیستم زموږ په ټول هېواد کې مروج دی.



(۴۷) تصویر

لکه چې د اوبو کولو ددې منظمو او دقیقو سیستمونو څخه یو له پخوا څخه په هرات کې دود و. د بېلګې په ډول یې دلته بیانوو:

د هرات ښار د شمال او سویل له اړخه د دوو غرونو تر منځ ځای لري، چې د سفید کوه او سیاه کوه په نومونو یادېږي چې هریرود ددې دواړو غرونو تر منځ بهېږي او خپلې دواړه غاړې خړوبوي.

په دې ترتیب دواړو خواووته یې نهرونه کیندلي دي او هر نهر د سیند په منځ کې د اوبو د راختلو لپاره بندونه لري. دا نهرونه عبارت دي له: جوی شافلان (پښتون زرغون) جوی ګذره، او یو شمېر نور کوچني نهرونه چې د سیند سویلي ځمکې اوبه کوي. د شمال لوري ته یې جوی نو، جوی ساوه، جوی اولنګ ستار خان ، جوی انجیل، جوی عالم جان او یو شمېر نورې



Calture G-12 Pashto.indd 86 8/16/2011 10:23:58 AM

کوچنی ويالې شته دی چې د سيند شمال لوری او هم د هرات ښار اوبه کوي. څرنګه چې دهرات ښار د سيند شمال لوري ته پروت دی په دي ډول د انجيل ولسوالی کلو د ختيځ ، لويديز او د شمال او سويل څخه ښار احاطه کړی دی.

د هريرود اوبه د پسرلی په موسم کې ډېرې او طوفاني کېږي، مګر په دوبي کې له سرچينی څخه وچېږي. هغه اندازه اوبه چې په دوبی کې ځمکې اوبه کوي هغه زيمونه او چينې دي چې د سيند له تل او بيخ څخه راوځي.

له يوه بند څخه تر بله بنده پورې فاصله ټاکل شوې ده. هر څومره چې فاصله ډېره وي د اوبو توليد او اندازه هم ډېره وي.

په سيند کې له يو بند څخه تر بله بنده پورې فاصلې د ځمکې او کروندو د مساحت په تناسب له پخوا څخه د مولانا عبدالرحمان جامي په واسطه تقسم بندي او تعيين شوې دي.

يعنی داسې وېشل شوي دي لکه له پورته بند څخه تر هغه بند پورې چې له دې څخه ښکته ترل شوي دي بايد چې څوکيلو متره فاصله وي؟ او د هيڅ بلوك خاوند حق نه لري چې د خپلې ويالې بند د هغه خپل ټاکلي ځای څخه لږ ښکته وتړي چې بيا د هغې ښکتنی ځمکې د اوبو حق ضايع کېږي.

هر کله چې د دوه ويالو د خاوندانو تر منځ شخړه پيدا شي خلك هغې وېش ته چې مخکې د هرات د کرنې په اداره کې ثبت شوی دی ورځي.

ويل کېږي چې: څو کاله مخکې يو بهرني مهندس د هريرود دغه وېش ليدلی و، د هرات له مهندسانو څخه يې پوښتلي و چې: "دا وېش چا کړی دی" ؟ هغوی ورته ويلي وو: جامي. هغه ورته وويل: (جامي چېرته دی؟ هغه راولئ چې زه يې ووينم ) ورته وې ويل (هغه په نهمه پيړۍ کې تېر شوی دی).

نوموړي مهندس تعجب کړی و او د مولانا جامي په پوهه او زيرکتيا يې شاباسی ويلی و. ځکه وېش داسې و، چې د هريرود دوارو خواو ته، د ځمکې اندازه کيلو متر حقابه او اوبه په ډېر دقيق ډول سره محاسبه او وېشل شوي وو.



(۴۸) تصوير. پنجشير



Calture G-12 Pashto.indd 87 8/16/2011 10:24:00 AM

همدارنګه د پنجشیر د دریمې برخې د آستانه کلي په مربوطاتو کې د کوه شکاف او کوه سفید له سیمې څخه چې اندراب سره نښتې ده له پخوا څخه یوه ویاله غزېدلې ده چې د سل هکتاره اندازې څخه ډېره ناهواره ځمکه خړوبوي، د (جوی جامی) په نوم شهرت لري. ډېر امکان لري چې دا ویاله هم د مولاناجامي د مهندسۍ په استفادې سره غزېدلې وي.

## سیلاب

د هېواد په ځینو دښتي او لرو اوبو سیمو لکه فراه، نیمروز، اندخوی، دولت آباد، قرقین او داسې نورو کې د باران او سیلابونو اوبه د خاورینو او ساده بندونو په واسطه زیرمه کوي او دکال په اوږدو کې له هغې څخه د انسانانو او څارویو د څښلو او د کروندو په اوبه کولو کې ګټه اخلي.



(۴۹) تصویر. د وردک د چک او کجکي بندونه

زموږ په هېواد کې له پخوا څخه د بندونو جوړول او د اوبو زیرمه کول دود و، لکه د سردې بند، په وردګو او غزني کې د سلطان بند زموږ په هېواد کې د ډېرو پخوانیو بندونو څخه دي. همدارنګه په هرات کې د کمال خان بند، دورډګو چک بند، د کجکي بند، د سروبي بند، د درونټې بند، د ارغنداو بند، د دَهَلې بند او داسې نور چې پریمانه اوبه پکې زیرمه او په اوبه کولو کې ترې ګټه اخیستل کېږي.



(۵۰) تصویر . د الینګار د اوبو زېرمه

مګر یو د حیرانوونکو تکنیکونو څخه د ځمکې لاندې چینو او ویالو اوبه د ځمکې سرته راوستل او له هغې څخه ګټه اخېستل د (کاریزونو کیندل) دي، چې د تاریخي اسنادو، شواهدو او روایاتو له مخې زموږ په هېواد کې دوه زره او پنځه سوه کاله لرغونتیا لري، چې د



Calture G-12 Pashto.indd 88
8/16/2011 10:24:03 AM

عمودي کوهیانو او د افقي تونلونو په کیندلو سره دغه کاریزونه جوړ شوي دي.
زموږ د هېواد په ځینو ځایونو کې ددې کاریزونو اوږدوالي د لس کیلو مترو څخه ډېر اټکل شوی دی.
د کاریز کیندل ډېر سخت دي چې ډېر زور غواړي او د مشقت څخه ډک او ځاني خطر هم لري.
مگر د کیندلو او تیارولو څخه وروسته پریمانه، همیشنی، پاکې، صافې او یخې اوبه خلکو ته تر لاسه کېږي.
کاریزونه په عصری ډول سره هم جوړېدلی شي.

## دځمکې لاندې د اوبو زېرمې (سفره های زیر زمینی)

په ځینو ځایونو کې په ځانګړې تخنیک سره کوچنې خاورین بندونه جوړوي او نه پرېږدي چې د واورو او باران اوبه د ځمکې پرمخ وبهېږي او عبث لاړې شي. بلکې هغه په دې بندونوکې ورو ورو د ځمکې تل ته ځي او هلته زېرمه کېږي. بیا یې د ژورو کوهیانو په کیندلو سره د ارهټونو او د واټرپمپونو په وسیله را باسي، لوړو سطحو ته یې لېږدوي او کروندې او باغونه پرې اوبه کوي.
څرنگه چې اوبه د انسانانو د ژوندانه لپاره یوه ارزښتناکه ماده ده له دې کبله هغه هېوادونه چې پریمانه اوبه نه لري د اوبو د ضایع کېدلو او د ډېر لګښت د مخنیوي په خاطر یې د اوبه کولو قطره یې سیستم دود کړی دی.

د اردن په هېواد کې چې د واورې او باران د اوبو زیرمه کولو لپاره یې خاورین بندونه جوړ کړي دي، هم یې د بند د کاسې لاندې او هم یې په هغو ویالو چې په هغې کی اوبه د هغوی د کروندو خړوبولو په خاطر ورځي، ځانګړی پلاستیک هوار کړی دی چې اوبه د لارې په اوږدوکې په ځمکې کې جذب او عبث نه شي.



(۵۱) تصویر د اوبه کولو قطره یی سیستم



Calture G-12 Pashto.indd 89 8/16/2011 10:24:04 AM



(۵۲) تصویر. د سروبي د برېښنا بند

## په ټولګي کې فعالیت

ـ زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي او هره ډله دې په خپلو کې زموږ په هېواد کې د اوبه کولو د سیستم په یوه ډول باندې بحث وکړي او بیا دې د خپلو بحثونو پایلې پخپلو کې شریکې کړي.

## پوښتنې؟؟؟

ـ ځرنګه کولی شو چې د خپل هېواد د دومره پریمانه او خوږو اوبو څخه په زیاته اندازه ګټه واخلو؟

ـ د بندونو جوړول د خلکو لپاره کومې آسانتیاوې او نعمتونه رامنځته کوي؟

د اوبه کولو قطره یې سیستم څه ډول دی؟

## کورنۍ دنده

ـ زده کوونکي دې له خپلو مشرانو څخه د اوبه کولو د نوي او پخواني سیستمونو، د هغې د ښېګڼو او زیانونو په هکله معلومات واخلي، ودې لیکي او له ځانه سره دې ټولګي ته راوړي.



Calture G-12 Pashto.indd 90 8/16/2011 10:24:07 AM

## د ځلورم څپرکي لنډیز

زموږ د ګران هېواد په غرنیو سیمو کې غنم او چنې په للمي ډول سره کرل کېږي، چې دومره ډېر حاصلات نه ورکوي.
د هېواد په شمالي، لویدیځو او سویل لویدیځو سیمو کې د هوارو ځمکو د لرلو له کبله کرنه په آبي او للمي ډول ترسره کېږي.
زموږ د هېواد په تودو او ډېرو اوبو لرونکو سیمو کې له ځمکو څخه په کال کې دوه وارې حاصل اخیستل کېږي. زموږ په بزګرۍ کې د ځمکه وال او بزګر ترمنځ هغسې جوړ جاړی شته دی، چې مزدور بزګر د حاصل د اخیستلو په وخت کې له څلورو څخه یوه او یا له پنځو برخو څخه یوه یا کله نیمایي برخه اخلي.
وریجې زموږ د هېواد د ډېرو ګټورو او قیمتي محصولاتو څخه دي چې په لغمان، بغلان، کندوز، تخار او هرات کې ډېرې شولې کرل کېږي.
زموږ ګران هېواد د باغونو او ځنګلونو هېواد دی. نو ځکه زموږ خلک په معتدلو سیمو کې مېوه لرونکي ونې لکه: آلو، شفتالو، مڼه، انګور، پسته او داسې نور کري.
په تودو سیمو کې جلغوزه، شنی، ګورګورې، لیمو، نارنج، کینو، مالټه، زیتون او داسې نور کري. او ښه محصول ترې لاس ته راوړي. انار، ځمکنۍ توت او داسې نور زموږ د هېواد له غورو مېوو څخه دي چې په نړۍ کې ښه بازار لري.
په عمومي ډول سره زموږ د هېواد آب و هوا د مېوه لرونکو ونو د روزلو لپاره په لوړو او ټیټو ځمکو او سیمو کې ډېره مساعده ده.
همدارنګه زموږ په هېواد کې د اوبه کولو سیستم د اقلیمي، طبیعي او د ځمکې د جوړښت او د اوبو د تولید د خرنګوالي د شرایطو تابع دی.
له پخوا څخه کښت او کرنه په دوه ډوله وه. یوه په للمي او بله په آبي ډول سره. زموږ په هېواد کې د اوبه کولو سیستم د سیند اوبه، د چینې اوبه، د کاریز اوبه، د کوهي اوبه، ارهټ، ژور کوهي او قطره یي سیستم جوړوي.
د حقابې او اوبو په وېش کې د خلکو تر منځ قاعدې او جوړجاړی شته دی چې ټول د هغې رعایت کوي او د اوبو د وېش دغه چارې یو سړی چې د (میر آب) په نوم یادېږي په غاړه لري.
زموږ د هېواد تولیدي او صادراتي توکي سربیره له غالیو او قره قل، د خوړو او غورو مېوو ډولونه (تازه او وچې) ،په ځانګړې توګه د کندهار انار په نړۍ کې ځانګړی نوم لري.
د درملي بوټو ډولونه او زعفران چې د هغې کښت د هېواد په شلو ولایتونو کې ښه نتیجه ورکوي.



Calture G-12 Pashto.indd 91 8/16/2011 10:24:07 AM

## د پنځم څپرکي موخې

په دې څپرکي کې به زده کوونکي د هېواد د تاریخي، فرهنګي، علمي او هنري شخصیتونو د ځېرو او د هغوی د علمي، ادبي، فرهنګي او هنري آثارو، نوښتونو او شاهکاریو چې منځ ته یې راوړي او ایجاد کړي دي، بلد شي.

زده کوونکي به په دې لوست کې دوو ډېرو مهمو نکتو ته خپل پام راوګرځوي.

الف: دا چې، ښځې هم کولې شي چې فرهنګ ته په ایجاد او بډاینې وربښلو کې د نارینه وو په څېر برخه واخلي. لکه زموږ د ګران هېواد افغانستان نومیالۍ ملکه، مهد علیا ګوهر شاد بېګم.

ب: لوی او نامتو پوهان، شاعران، هنرمندان او تاریخ پوهان په یوې کوچنۍ سیمې پورې تړلي نه وي، بلکې هغوی ټول په یوه لویه فرهنګي حوزه پورې چې زموږ هېواد هم په هغه کې شامل دی، تړلي دي.



(۵۳) تصویر. مولانا جلال الدین محمد بلخی رومی



Calture G-12 Pashto.indd 92 8/16/2011 10:24:10 AM

# پنځم څپرکی

## مهم تاریخي، هنري او ادبي شخصیتونه

درویشتم لوست

## ملکه گوهر شاد بېگم او شهزاده با یسُنغُر میرزا

جامعه باشد ز دوکس سر بلند    مرد نظامی و زن هوشمند

د دې شعر په مفهوم څومره پوهېږئ؟

زمـوږ تاریخـي اوتمدن زېږوونکي هېواد د خپـل پرتمین ژوند په اوږدوکـې فرهنگي دورې او له عظمت څخه ډک مدنیتونه تېرکړي دي،چې هرې دورې یې نړیوال نوم در لوده.

لکه د مزدیسنایي مدنیت، دکوشانیانو ځلانده او پرتمینه دوره، دغزنوي ادب پالونکې وياړلې دوره او داسې نور.

د دې تمدنونو په بهیرکې هرات چې د ختیځو ملکونو له مشهورو ښارونو څخه دی او ډېره موده د تیموریانو د امپراطورۍ پلازمېنه وه زموږ د گران هېواد افغانستان یوه ځلانده دوره وه.

دې اسـتعداد لرونکې خـاورې پخپله غېږه کې په سـلگونو پوهـان، ادیبان، صوفیان، شـاعران، نقاشـان،حکاکان، خوشنویسـان او سیاسـتمداران روزلي دي چې هغه دوره د هرات د رنسـانس (د علومـو د بیـا ژوندي کولو) طلايي دوره او په ځانگړې توگه د شـاهرخ میرزا او د هغې د ملکې گوهرشاد بیگم ځانگړې ځلا او روښنايي درلوده.

په دې غوړېدونکې او روښانه دوره کې علم، ادب، فرهنگ، ښکلي هنرونه، معماري،کاشي کارى، میناتورى (انځورگري)، خطاطي او خوشنویسي د خپل کما ل لوړ پوړ ته رسېدلي وو.

د دې رڼـا او د فرهنگـي عظمت لامل د پوهانو، فضـلاوو او هنرمندانو څخه دکورگاني پاچاهانو ساتنه، روزنه حمایت او قدر شناسي وه.



Calture G-12 Pashto.indd 93 8/16/2011 10:24:10 AM

د دې لوی مدنیت په پیل، بنسټ اېښودلو او پراختیا ورکولو کې د پو هانو او فرهنګ پالو رجالو سربېره د هوښیارو، پوهو او هنر پالونکو ښځو شتون هم لوی نقش لوبولی دی، چې د کورګاني سلطنت د مدنیت په ایجاد او په مملکتي چارو کې د هغوی نقش او مقام له نارینه وو څخه کم نه و.

له هغوی د با فرهنګه او مدنیت روزونکو ښځو څخه یوه، ملکه ګوهرشاد بېګم وه.

پوهانو، د نظرخاوندانو او مؤرخانو د افغانستان د دې با عظمتې ملکې روښانه څېره داسې راپېژندلې ده:


(۵۴) تصویر. دګوهر شاد بیګم مقبرهٔ

مهد علیا ګوهرشاد بېګم د انساني عالي صفتونو لکه:ښه سلیقه، فراست، تدبیر، د ژبې فصاحت، رښتیا ویل، قاطعیت او بې ساري حسن لرونکې میرمن وه.

په دې نسبت چې شاهرخ میرزا به زیات وخت په عبادت او مطالعه کې بوخت و؛ نو سلطنتي او د دیوان عالي چارې به زیات وخت د دې مدبرې ښځې ګوهرشاد بېګم په لاس سمبا لېدلې.

ملکه ګوهرشاد بېګم د علم او هنر په رواجولو، د عالمانو، فقهاوو، معمارانو، هنرمندانو، میناتوربستانو، خوشنویسانو، نساخانو او د نورو هنرمندانو او ادیبانو په تشویق، هڅونه او حمایت کې ډېره زیاته پاملرنه کوله او بې ساري جوماتونه او مدرسې یې ودانې کړې، چې ترنن ورځې پورې آبادې دي.( [1] )

هرات د شاهرخ میرزا او د هغه د کورنۍ د سلطنت په دوره د نهمې هجري پېړۍ په اوږدو کې د آسیا د لویو ښارونو او د نړۍ د ښارونو ناوې ګڼل کېدله او د علم، ادب او هنر لوی مرکز و. دا ټول عظمت د شاهرخ میرزا او د هغې د فاضلې او آګاه ملکې او د هغه د پوهو او هنرمندو ځامنو، میرزا الوغ بیګ او بایسنغر میرزا د ځانګړو پاملرنو له برکته و.

۱- ( ) د جلالت مأب حامد کرزی پیام د ګوهرشاد بیګم د بین المللی سیمینار ته.

## د گوهرشاد بېګم ودانۍ او ساختمانونه:

یوه له شــاندارو ودانیو څخه چې د ګوهرشــادبېګم په واسطه آباده شوې ده د هرات لویه مدرسه ده، چې د یوویشت کلونو په موده کې بشپړه شوې ده.

د هغې په جوړولو کې د قوام الدین شیرازي څخه سربېره، تکړه او ماهرمعماران، خطاطان،کاشي کاران او انځورګران د نړۍ له نورو ښــارونو څخه راغوښــتل شــوي او په کار ګمارل شــوي دي، چې دا مدرسه د مدرسهٔ مهد علیا په نوم مشهوره وه او اوس د(ګنبد سبز) په نامه یادېږي.

دا بــا عظمتــه ودانۍ د هرات د تیموري دورې یو د مجلل ترینو ودانیو او د هغې دورې د صنعت او هنر پاللو د وتلو بېلګو څخه ده.

دا مدرســه پخپلــه زمانه کې د آســیا په ټوله وچه کې لوی علمي مرکز ګڼــل کېده او د نړۍ له ډېرو لریو ســیمو څخه به د علم مینان د علومو او هنر د زده کولو لپاره دې ځای ته را تلل. د مدرســې پــه څنــګ کې لویه کتابخانه هم وه چې پــه هر علم کې یې ډول ډول او نفیــس کتابونه درلودل او ملکه ګوهرشادبېګم به پخپله د دې مدرسې د تدریسي چارو او د استاذانو او زده کوونکو د رفاه او هوساینې څخه څارنه کوله.

مدرســهٔ مصلی چې د تیموریانو د دور د لویو پوهنتونــو نمونه ده د بافضیلته او فرهنګ پاله ملکې په پاملرنه او همت ســره طراحي شــوې ده چې د نړۍ د شاوخوا او ګوټ ګوټ څخه یې محصلین را جلب کړي او د هغې د علم او شانداره هنر څخه به یې ګټه اخیستله. چې دا پخپله د ټولې آسیا د ویاړ سبب و( [2] )

یوه بله ودانۍ چې د ملکه ګوهرشــاد په نوم مشــهوره وه په مشــهد کې د ګوهر شاد خاتون جومات دی.

دا جومات د زمانې د مشــهور معمار اســتاد قوام الدین شیرازي د شاهکاریو څخه دی. چې د هغه لوی طاق او دوه کاشي شوی منارې د حیرانتیا او پام راګرځونې وړ دی.

د دې جومات شــانداره ایوان او د هغې کتیبه د بایســنغرمیرزا په خط په ډېرو غټو او ســپینو حروفو په آبي رنګه مخ او صفحه په پوره ښــکلا ســره لیکل شــوې ده چې د نړۍ یو د عالیترینو معماریو څخه ده

---

۲ - ( ) آمنه افضلی. بناهای تاریخ گوهرشاد ص ۵۹-۶۰-۶۱

شهزاده بایسنغر میرزا د خپل پلار او مور په ملتیا د هرات د هنرستان آکاډمۍ بنیاد ایښی دی.

هغه، شهنامه په ډېره عالي او ښکلي خط سره لیکلې او په هغې کې یې د کما ل الدین بهزاد دوه ویشت اثرونه هم ځای کړي دي.

همدارنګـه د قرآنکـرم یو ټوك یې پخپل ښـکلي خط لیکلی دی چې دوه نیـم ګزه اوږدوالی یې درلوده.

علم، ادب، ښـکلي هنرونه، شـعر، موسـیقي، انځورګرۍ، معمارۍ او خوشنویسـۍ سره د هغه ډېرې مینې نړیوال شهرت درلود.

شهزاده بایسنغر میرزا په نرۍ کې یواځنی کتاب دوست شهزاده ګڼل کېده.

## په ټولګي کې فعالیت

-

ملکې ګوهرشـاد بېګم د هرات په رنسانس کې څه نقش درلوده؟ زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او پخپلو منځو کې دې بحث وکړي.

## پوښتنې؟؟؟

- ښـځې څرنګه کولی شـي چې د نارینه وو په څېر د هېواد د علومو او هنر په پرمختیا او غوړېدنه کې برخه واخلي؟
- د هرات د تیموریانو د فرهنګي عظمت او غوړېدنې علت په څه کې و؟

## کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې زموږ د هېواد د هرات په رنسانس کې د ملکې ګوهرشاد بېګم د نقش په هکله معلومات راغونډ او ټولګي ته دې راوړي.



Calture G-12 Pashto.indd 96 8/16/2011 10:24:13 AM

څلر ویشتم لوست

# خوشحال خان ختک

خوشحال خان خټک څوك ؤ ؟


(۵۵) تصویر

خوشحال خان د شهباز خان زوی، د یحیی خان لمسی او د ملك اکوړ خان کړوسی دی.

د خوشحال نیکونه د کوهاټ څخه اکوړې ته راغلي وو او د اکوړې د سیمې خانان او ملکان وو.

**خوشحال خان او شاه جهان:**

خوشحال خان د شاه جهان سره ښې اړیکې درلودلې لکه چې پخپله وایي:

| | |
|---|---|
| د هغه دور بــادشاه و | قــدر دان شاه جهان |
| د پلار ځای و ما راکړ | پرې اوس شومه حکمران |

**خوشحال خان او اورنګزیب:**

څرنګه چې خوشحال خان زړور او نظامي شخصیت و؛ نو د اورنګ زیب له خوا د ډهلي د تاج او تخت د لاسته راوړلو لپاره د هغې په پلوی وجنګېده او په دې لاره کې یې ورسره په مېړانه مرسته وکړه؛ نو د پاچا په نزدکې یې ځای او مقام ډیر اوچت شو؛ وروسته په سیاسي او ټولنیزو حالاتو کې د بدلون د رامنځته کېدلو په سبب خوشحال خان خټك له اورنګ زیب څخه خوا بدی شو چې په دې بدلونونو او سازشونو کې د هغې د خپلې کورنۍ ځینو غړو او د یوسف زو قوم لاس درلود.

په هر حال خوشحال خان خټك زموږ د فرهنګي لوی حوزې د توري او قلم قهرمان، پیاوړی او لوی ذواللسانین (پښتو- دري) شاعر و. چې هر څوك یې په دې صفت او حیثیت سره پېژني.



Calture G-12 Pashto.indd 97 8/16/2011 10:24:16 AM

خوشحال خان ختټک د پښتو د نثر او نظم بابا و. لکه چې دې پخپله وايي:

کــه د نظــم، که د نثر، که د خط دی　　　　په پښتو ژبه مې حق دی بې حسابه

***

ختټک خو پرېږده په درست جهان کې　　　　عــجب که هسې فرهنگيالي راشي

خوشحال خان د نظم او نثر د لسګونو کتابونو مصنف دی، د هغه په ټولو تصانيفو کې د هغه کليات ډېر معتبر دي، چې د تنوع او د مضامينو د پراخوالي له حيثه د پښتو شاهنامه ده او (۱۰۳٤) مخونه لري.

د خوشحال خان د کليات نظم د تخنيک له مخې په پښتو ادب کې د بې سارې مرغلرې په شان دی، چې ډول ډول اصناف او مضامين لکه غزل، څلوريزه(رباعي) قطعه، قصيده، مخمس، مسدس، معشر، ترکيب بند، ترجيع بند، مربع او مثنوي لري. د پښتو ژبې او ادب يوه ډېره ښه پانګه، د خوشحال خان کليات دی.

د خوشحال خان په کليات کې ګټور اخلاقي، ادبي، علمي، تاريخي او ټولنيز معلومات شامل دي. د شجاعت، تهذيب او مدنيت، سياست، پندونه، اخلاق او د حکمت نکتې يې پکې منعکس کړې دي.

خوشحال خان په نظم او نثر کې ډېر کتابونه لري لکه سوات نامه، فراق نامه، طيب نامه، تاريخ مُرصَّع، دستارنامه، بياض او داسې نور.

د خوشحال خان د کليات د شير و شکر اشعار چې د فارسي، پښتو او اردو څخه ترکيب شوی دی، ډېر خواږه دي. او د تصّوف دقيقې نکتې پکې درج شوې دي.

خوشحال خان ډېر اولادونه درلودل او د ځينو زامنو څخه ناراضي و چې پخپلو شعرونو کې يې ورڅخه ګيلې کړې دي. لکه څنګه چې وايي:

نــاخــلف مــې حواله کړه په تقدير　　　　نـصيحت وربـــاندی نــه کـــاندي تاثير

بد فرزند دې خدای و هيچا پيدا مه کړه　　　　په خصلت يې پلار، په ځان وي مور په وير

**د خوشحال خان د دري شعر نمونه:**

از او دل بـــر گرفتن کار مـــن نيست　　　　کـــه از جان سير گشتن کار تن نيست



Calture G-12 Pashto.indd 98　　8/16/2011 10:24:16 AM

چمن را گرچه گل ها بس شگرف است ... ولی همچون رخت گل در چمن نیست
مـرا "گــویی" بگــو وصـف دهـا نم! ... چه گویم؟ چون درو جای سخن نیست
مـن و سودای رویـت تـاکه هستـم ... اگــر چــه خــود ترا پروای من نیست
غمت تا در دل و جـانم وطن کـــرد ... مــرا در کــوچهٔ شادی وطن نـــیست
چرا خوشحال را پرسی کـــه چونی؟ ... مـگر از چهره، حـــالش مُبْرَهن نیست؟

**د خوشحال خان د شیر و شکر شعرونه:**

راشه بر چشمم نشین ای شاه خوبـان چُگُل ... لمعهٔ خورشید را بــر چشم بـاشد ځـای تـل
تا ویل قند و نبات و شهد یـکجا دیـــده ام ... آری آری آن لبـــان و آن دهــان و آن ویـل
سردهم تا هر چه فرمایی تــــرا فرما نرواست ... از تــو حــکم ای بادشاه مهوشان، وز ما مَنـــل
زار و قربان تو گردم گربه تیـــغ خـودکشی ... نی به تیغ دیگـــران خونـم تـرا بـاشد بحِلِ
نن به من می‌گفت در کوی تو می‌رفتم رقیب ... شوخ چشمی بـر نمی‌گردی از این کو بر شـړل
چون به تن گشتم ضعیف و لاغر و زار و نحیف ... نیست اندر فُرقتت جـانــا مرا خواب وخــوړل
تا جـفا وجــور از حـدّ نــهایت بـیش کرد ... من نیاز و عجز و زاری می‌نمایم یــو پـــه سل
تــل صبا بیـــگاه آه و نــاله و فــریاد مـاست ... بــر دل سخـــتت نبـاشد تـاثیـــر زاری وژړل
هېچېري مثـل تــو دلبــر می نیایــد در نظر ... زین سبب خوشحال میل دل نمی‌دارد پـــه بل[1]

---

۱- د خوشحال خان خټک د یوان په پښتو او فارسی ژبه، ٤١ مخ



Calture G-12 Pashto.indd 99 8/16/2011 10:24:16 AM

## په ټولګي کې فعالیت

-

ـ ز ده کوونکي دې په خپلو مینځوکې د خوشحال خان د پښتو او دري شعرونو په هکله خبرې وکړي او د خپل بحث پایلې دې پخپلو کې شریکې کړي.

## پوښتنې؟؟؟

- خوشحال خان د نظم او نثر د کومو کتابونو مصنف دی؟

## کورنۍ دنده

ـ زده کوونکي دې د ارمغان خوشحان او دیوان خوشحال کتابونه پیدا کړي هر یو دې د پښتو یو یو شعر او یو یو د دری شعر ولیکي، تحلیل او معنا دې کړي او له ځانه سره دې ټولګي ته راوړي.



Calture G-12 Pashto.indd 100 8/16/2011 10:24:18 AM

پنځه ویشتم لوست

# مولانا جلال الدین محمد بلخي

مولانا څوک و؟


(۵۶) تصویر . په قونیه کې د مولانا مقبره

مولانا جلال الدین محمد بلخي د سلطان العلما بهاؤالدین زوی او زموږ د هېواد د لویو عارفانو او شاعرانو څخه دی. هغه په ٦٠٤ هـ .ق. کال په بلخ کې زېږېدلی دی.

د ده پلار بهاؤالدین د خپلې زمانې د مشایخو وياړ و. د هغه لوی معنوي مقام او احترام په اساس چې د بلخ د خلکو په منځ کې يې درلوده د سلطان محمد خوارزم شاه د قهر او غضب سبب شو، له ناچارۍ څخه د وطن پرېښودلو او مهاجرت ته اړ شو او له خپل زوی جلال الدین او کورنۍ سره د نیشاپور له لارې بغداد او له هغه ځای څخه د کعبې شریفې په زیارت باندې مشرف شو. بیا قونیې ته لاړ.

جلال الدین په قونیه کې لومړی د خپل پلار د تعلیم او ارشاد لاندې و. د پلار له وفات څخه وروسته يې د برهان الدین محقق ترمذی سره د زیات علم په تحصیل او زده کړه باندې پیل وکړ، ترڅو چې لوی عالم شو او ډېرو شاګردانو ته يې تدریس کاوه.



Calture G-12 Pashto.indd 101 8/16/2011 10:24:19 AM

یوه ورځ یو ملنگ صفته ځوان د هغه سره مخ شو . دا ځوان شمس تبریزي و چې د ده د شخصیت نبوغ پر مولانا ژوره اغیزه وکړه او له مولانا څخه یې یو نوی شخصیت جوړکړ. مولانا تدریس او شاگردان پرېښودل، د غزل او مشهورې مثنوي په ویلو یې پیل وکړ. جذباتي او په زړه پورې غزلې یې وویلې. مولانا په وجد او سماع باندې پیل وکړ چې د شمس تبریزي دیوان د همدې غزلو ټولگه ده.

د مولانا حقیقي ژوند د هغه له صحبت څخه وروسته په بله بڼه بدل شوی دی. او د شمس د انفاسو له برکت څخه مولانا لوی عارف شو.

دخپل منځي او ټولنیز ښه ژوند دکولو په هکله مولانا وایي:

| | |
|---|---|
| ای بسا هندو و تـــرک هم زبان | ای بسا دوترک چون بیگانگان |
| پس زبان محرمی خود دیگر است | همدلی از همزبانی بهتـر است |

همداسې سعدی(رح) ویلي دي:

بنی آدم اعـضای یـک پیکر اند
که در آفـرینش ز یک گوهر اند
چو عضـوی به درد آورد روزگار
دگـر عضوها را نماند قرار

له مولانا څخه دوه لوی اثرونه په میراث کې پاتې شوي دي چې د کلیات شمس (دیوان کبیر) او مثنوی معنوی په نومونو یادېږي.

حضرت خاتم الشعرا جامي د مثنوي په هکله داسې ویلې دي:

| | |
|---|---|
| مـثـنوی، مـعنوی مـولـوی | هـست قـرآن بر زبان پهلوی |
| من چه گویم وصف آن عالی جناب؟ | نیست پیغامبر، ولی دارد کتاب |


Calture G-12 Pashto.indd 102 8/16/2011 10:24:19 AM

مثنوی په دې بیتونو پیل شوې ده:

| | |
|---|---|
| بشنو از نی چون؟ شکایت[1] می کند | و زجدایی ها حکایت می کند |
| کـــز نیستـــان تـــا مـــرا ببریده اند | و ز نفیرم مـــرد و زن نالیده اند |
| سینه خـــواهم شرحه شرحه از فراق | تا بگویـــــم شرح درد اشتیاق |

مثنوی هغه کتاب دی چې د ختیځ د ټولنې د فرهنګ، حکایتونو، تمثیلونو، حکمتونو، پندونو او طنزونو ځخه ډک دی چې د خلکو د ژوند بېلابېل اړخونه او نازکه نکتې تمثیلوي.

د مثنوی په لوســتلو ســره انســان پوهېږي چې مولانا د خلکو د ټولنیز ژوند د لوړو او ژورو ښخه ښومره خبر و. د هغه د نظر ژورتیا په هغو کیســو کې چې په مثنوي کې یې منظومې کړي دي وینو لکه: د پاچا او وینزې، د بقال او طوطی، سوداګر او د هغه طوطي، د ښکار لپاره د زمري خدمت ته د لیوه او ګیدړې ورتلل، د هُدهُد او سلیمان(ع)، د خلیفه او حاتم، د نحوي او کشتیوان ماجرا، د ستنې په خالونو د قزوینې په ولوکې د زمري شکل جوړول، کوڼ سړی چې دخپل ناروغه ګاونډي عیادت ته ځي، تږی سړی چې د دیوا ل له ســره ویالې ته لوټې اچوي، د ایرې په چاپلوســـۍ او وفا باندې اعتماد کول، هغه کســان چې د فیل بچی یې خوړلی و، کلیوال ســړي چې ښــاري سړی یې غولولی و، شغال د رنګ په خم کې لویدل، حیله ګر(مکري) مغول، د فیل په شــکل باندې د نظرونو اختلاف، د ښــوونکي او ماشومانو، د هغه دَبّاغ کیسه چې د عطارې په بازارکې بیهوشه شوی و، په آبګیر کې د ښکاریانو او درې کبانو کیسه، د پاچا باز او بوډۍ کیســه، د هغه هوســۍ د بچي کیســه چې د خرو په آخورکې بند شوی و، د پوستین او چاروق د ســاتلو لپاره د ایاز د ځانګړې خونې(اتاق) کیســه، د ســلطان محمود او هندي غلام کیسه، د هغو دریو مسافرو:(مســلمان، ترسا او جهود) کیســه، د هغو غلو د شپې کیسه چې سلطان محمود هم د دوی سره ملګری شوی و او په سلګونو نورې کیسې او طنزونه.

---

۱- ( ) په هغه نسخه کې چې د قونیې په ښار کې د مولانا په مزار باندې موجوده ده(شکایت می کند) قید ده ددغې کرښې لیکونکی چې په ۱۳۸۷ هـ. ق. کال د یو رسمی سفر په ترځ کې د تعلیمي نصاب د استاذانو په ملګرتوب کې تللی وم د حضرت مولانا په مزار کې مې له نږدې ښخه لیدلې ده.



Calture G-12 Pashto.indd 103 8/16/2011 10:24:19 AM

## په ټولګي کې فعالیت

-

ـ زده کوونکي دې د مولانا د علمي او عرفاني شخصیت په هکله خبرې اترې وکړي.

## پوښتنې؟؟؟

- د مولانا مثنوي زموږ په لویه فرهنګي حوزه کې څومره مقام لري؟

- د مولانا له طنزي ډوله کیسو څخه نن ورځ هم زموږ په ټولنه کې ګټه اخیستل کېږي؟ څو مثالونه یې ووایئ!

## کورنۍ دنده

- هر زده کوونکی دې د مثنوي څخه د طنز په ډول یوه یوه کیسه ولیکي، تحلیل دې کړي، پخپلو کتابچوکې دې ولیکي او بله ورځ دې له ځانه سره ټولګي ته راوړي.



Calture G-12 Pashto.indd 104 8/16/2011 10:24:21 AM

شپږویشتم لوست

# علاّمه سید جمال الدین افغانی

سید جمال الدین افغاني څه ډول شخصیت و؟


(۵۷) تصویر

سـید جمال الدین افغاني زموږ د هېواد د تاریخ له لویو شـخصیتونو څخه دی چې د هغه مفکوره پـه فرهنګي لویه حوزه او اسـلامي نړۍ کې د مسـلمانانو د پاڅون او بیدارۍ لامل شـو. سید په ۱۸۳۸ م کال د کونړ په اسـعد آباد کې نړۍ ته سـترګې غړولې دي، په پنځه کلنۍ کې یـې د علومـو په زده کړه پیل کړی دی او په اتلس کلنۍ کې یې دخپـل وخت د مروجه علومو څخه ډېره برخه زده کړې وه. بیا یې هندوستان، حجاز، مکې او مصرته سفرونه کړي دي. د قاهرې د الازهر جامعه کې یې د فلسفې او منطق زده کړې وکړې.

سـید افغاني په هند، مصر او ترکیه کې نوي سیاسـي نهضتونه منځ ته راوړي دي. د اسـلامي یووالي د اندیښـې مُبَلّغ و. د مصر په سیاسـي بدلونونوکې یې اغېزناك رول درلوده. له هغه ځایه اروپا ته ولاړ او په لندن او پاریس کې د اروپا د سیاسي مقاماتو د پام وړ ګرځېدلی و.

په پاریس کې یې د شـیخ محمد عبده مصري په مرسـته د عروة الوثقی ورځپاڼې په خپرولو لاس پورې کړ، بیا حجاز او تهران ته وګرځېد او هلته د ناصرالدین شاه قاجار د قهر او خشم لاندې راغی او له ایران څخه وویسـتل شـو. بیا عراق او بصرې او بیا اروپا ته ولاړ. له یوڅه وخت څخه وروسـته هغه ته سلطان عبدالحمیـد ترکیـې ته بلنه ورکړه او هیله یې درلوده چې د سـید له نفوذ څخـه د عثماني امپراطورۍ د



Calture G-12 Pashto.indd 105 8/16/2011 10:24:22 AM

اسلامي هېوادونو په اداره کې ګټه ترلاسه کړي.

په پای کې په ١٣١٤ هـ .ق. کال په استانبول کې په حق ورسېده او جسد يې په ١٣٢٣هـ .ش. کال کابل ته راوړل شو او دکابل پوهنتون په انګړ کې دفن شو.

سـيد جمال الدين افغاني په خپل ټول عمر کې د نړۍ د مسـلمانانو او اسـلامي يووالي غوښتونکی و او غوښتل يې چې خپل دغه فکر د اسلامي هېوادونو په مشرانو باندې په عمل کې پلی کړي.

## په ټولګي کې فعاليت

ــ يو زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او د علاّمه سيد جمال الدين د شخصيت په اړه دې خبرې وکړي.

## پوښتنې؟؟؟

- علامه سيد جمال الدين د اسلامي نړۍ په يووالي او ويښتيا کې څه رول لوبولی دی؟

## کورنۍ دنده

ــ زده کونکي دې د سيد جمال الدين په اړه معلومات راغونډ کړي او پخپلو کتابچو کې دې وليکي.



Calture G-12 Pashto.indd 106 8/16/2011 10:24:23 AM

## د پنځم څپرکي لنډيز

ملکه گوهر شاد بېگم زموږ د گران هېواد د فرهنگي او مدنيت پالوونکو ملکو څخه وه چې د علم او هنر په رواجولو او پراختيا کې يې د معمارانو، اديبانو، هنرمندانو او ښکلو ليکونکو په هڅونه او حمايت کې ځانگړې پاملرنه لرله.

مهد عليا گوهرشادبېگم په هرات او مشهد کې په اسلامي او شرقي سبک سره ښکلې او بې سارې مدرسې، جوماتونه او ودانۍ آبادې کړې دي چې تر نن ورځې پورې ودانې پاتې دي.

شهزاده بايسنغر ميرزا ددې نوميالۍ ملکې زوی هم زموږ د هېواد لوی فرهنگي او هنري شخصيت و.

د هرات د هنرستان د اکاډمۍ بنسټ ددې هنرمند شهزاده په نوښت او د ده د مور او پلار په ملگرتيا اېښودل شوی دی.

خوشحال خان خټک ذو اللسانين (پښتو او دري) زموږ د فرهنگي پراخې حوزې لوی شاعر او عالم و.

خوشحال خان د هند د مغولي پاچا شاه جهان سره ښې اړيکې درلودلې. هغه په نظم او نثر کې د زياتو کتابونو مصنّف دی، د هغه کليات د هغه له مهم ترينو تصانيفو څخه دی.

مولانا جلال الدين محمد بلخي زموږ د فرهنگي حوزې له مفاخرو او مشايخو څخه و. هغه دوه لوی او مشهور اثرونه لري چې: مثنوي معنوي او د کليات شمس په نومونو شهرت لري.

په مثنوي کې حکايتونه، طنزونه او د ختيځې سيمې فرهنگ ويل شوی دی.

سيد جما ل الدين افغاني زموږ د هېواد د علمي او سياسي شخصيتونو څخه دی چې زموږ په فرهنگي حوزه او اسلامي نړۍ کې د هغه افکار او نظريې د نړۍ د مسلمانانو د وېښېدلو او نهضت لامل شو.



Calture G-12 Pashto.indd 107 8/16/2011 10:24:23 AM

## د شپږم څپرکي موخې

په دې څپرکي کې به زده کوونکي د هېواد د څو معاصرو ملّي شخصیتونو او څېرو سره بلد شي. او د هېواد په فرهنګي، هنري او سیاسي برخو کې به د هغوی په رول باندې پوهه شي.

زده کوونکي به د خپلواکۍ د غوښتلو په لاره کې د هغوی د سیاسي نقشونو سره بلد شي او پوهه به شي چې هغوی هم سیاسي او هم نظامي عالمان، ادیبان، د علم دوستو، ترقي غوښتونکو او مدنیت خوښونکو شخصیتونو څخه و.

ددې پوهانو هر یو یې زموږ د هېواد د لویو سیاسي، ادبي او هنري ویاړونو څخه وو.



Calture G-12 Pashto.indd 108 8/16/2011 10:24:23 AM

## شپږم څپرکی
## معاصر ملي او هنري شخصيتونه

اوه ويشتم لوست

### غازي امان الله خان او محمود طرزي

د افغانستان خپلواکي کوم پادشاه ترلاسه کړې وه؟


(۵۸) تصوير غازى امان الله خان

غازي امان الله خان د امير حبب الله خان زوى دى. هغه په ۱۸۹۲ م کال د کابل په ښارکې نړۍ ته سترګې وغړولې او په ۱۹۱۸ کا ل کې د پلار له وفات څخه وروسته د افغانستان پادشاهۍ ته ورسېد.

هغه په ۱۹۱۹ م کال کې زموږ د هېواد خپلواکي ترلاسـه کړه. په همدې کا ل کې یې د ایټالیا د دولت د بلنې په اساس ایټالیا، هند، ايران، ترکيې، انګلستان او ډېرو اروپايي هېوادونو ته سـفرونه وکړل او د یو آزادي بخښونکي قهرمان په ډول يې هرکلی وشو.

دې سـفرونو اته مياشتې دوام درلوده او د هغه په غياب کې شـاه محمد ولی خان دروازي د هغه د بهرنيو چارو وزير د سـلطنت چارې په ښـه ډول سـره پر مخ بېولې.

د اروپا مدنيت په ځوان پادشاه باندې ژوره اغيزه وکړه او هېواد ته په راګرځېدلو سره یې سمدستي په يو لړ تېزو او له وخت څخه مخکې اصلاحاتو باندې لاس پورې کړ چې د وخت د ټولنيزو غوښتنو

سره يې سمون نه درلود څکه د ځينو روحانيونو او ځينو خلکو له مخالفت سره مخامخ شو چې په دې مخالفتونو کې بهرنۍ لاس وهنې هم دخيلې وې. دغه ټول لاملونه د اماني دولت د نسکورېدلو سبب شول.

لدې سره سره غازي امان الله خان زموږ د ګران هېواد د خپلواکۍ د ترلاسه کولو سربېره د خپلې پاچاهۍ په دوره کې لانديني لوی کارونه ترسره کړي دي:

د دموکراسۍ نظام تاسيس، د ارشاد النسوان جريدې خپرول، د اجباري او بيګاري کارونو له منځه وړل، د غلامۍ لغوه کول، د حُکّامو د مکتب تاسيسول، د دفتري اصولو د مکتب تاسيسول، د مامورينو د دندو د قانون نافذول، د پانګې اچولو د تشويق قانون، د دولتي املاکو د خرڅولو قانون، د دولتي زاړه سيستم عصري کول، د داخلي متعددو ګمرکونو لغوه کول، د شرعي معاملو د محاکمو ايجادول، د دواسازۍ د شرکتونو تاسيسول، د برښنا، موټر او تجارتخانو جوړول، په ګاونډيو هېوادونوکې د قونسلګريو او د تجارت د وکيلانو ټاکل، په کابل او ولايتونوکې د تليفون او تيلګراف د مزو غزول، د خرمنو د فابريکو جوړول، باروت جوړول، سمنټ، ګوګرد، د موټرو ترميمول، صابون، عطريات، نختابي، پارچه بافي، نجاري، په قندهار، مزار او هرات کې د مالوچو او غوړيو کارخانې، د قند جوړولو فابريکه، د غازي د اوبو بندونه، د غزني د سراج بند، په کابل کې د استقلال او اماني ليسو تاسيسول، د رشديه او غازي مکاتبو تاسيسول، رسامي، معماري، د ژبو زده کړې، کرنه، د کابل عربي دارالعلوم، په جلال آباد، قندهار او هرات کې رشديه مستورات، د هرات دارالمعلمن، د پوليسو ښوونځی چې دلته يې د نمونې په ډول نومونه ياد شول.

## محمود طرزي

د ژورناليزم پلار يعنې څه؟

محمود طرزی په ۱۲٤٤ هـ . ق. کال په غزني کې و زېږېده، پلار يې سردار غلام محمد خان طرزی چې د امير عبدالرحمن خان سره د مخالفت په سبب د هغه له خوا هند ته جلا وطن شو، په



Calture G-12 Pashto.indd 110 8/16/2011 10:24:25 AM

دې وخت کې محمود طرزی شـپاړس کلن و. طرزی هم د خپلې کورنۍ سـره د کویټې له لارې کراچۍ ته، بیا بغداد، دمشق او وروســته یې د عثماني امپراتورۍ خاورې ته مهاجرت وکړ چې د ترکو او عربو ژباتو لویانو سره مخامخ شوی دی.

ویل کېږي چې: محمود طرزی په دې وختوکې د علامه سید جما ل الدین افغاني سره آشنایي پیداکړې وه او اوه میاشتې یې د هغه له صحبت څخه ګټه اخیستلې وه.

وروســته د امیر حبیب الله خان په غوښتنه محمود طرزي خپله کورنۍ د دمشق څخه کابل ته راوړې وه.



(۵۹) تصویرمحمود طرزی

طــرزي د امیر امان الله خان په دوره کې د ســراج الاخبار جریده تاسیس کړه او د لومړي ځل لپاره یې نوی افکار طرح کړل چې د فارسي شعر په یوه برخه کې یې داسې ویلی دي:

وقت شعر وشاعری بگذشت ورفت　　　وقت سحر وساحری بگذشت و رفت

طرزي غوښتل چې شعر د یار له زلفو څخه آزاد کړي او په شعر کې یې د ریل، الوتکې او د اقیانوس پیما بېړیو څخه خبرې کړې دي.

طرزي په نثرکې په ساده لیکنه تاکید کړی دی چې په ژورنالیستي ادبیاتو معروفه ده.

هغه ســربیره له دې چې یو روشــنفکره، غښتلی او مشــهور ورځپاڼه لیکونکي و؛ په افغانستان کې د ژورنالیزم د پلار په لقب سره ویاړلی شوی دی.

محمود طرزي یو آزادي غوښتونکی او ملي شخصیت و او د دویم مشروطیت په جنبش کې یې ډېر رول درلوده. ده د "حی علی الفلاح" تر نامه لاندې د افغانستان خپلواکي اعلان کړې ده.

هغه، له پنځوسوو څخه زیاتې مقالې په سراج الاخبار افغانیه کې خپرې کړي او یو ډېرش منظومې او منثورې رسالې یې په (فارسي ـ دري) ژبه لیکلې او خپرې کړې دي.



Calture G-12 Pashto.indd 111　8/16/2011 10:24:26 AM

طــرزي د ملي افکارو د بيدارۍ په ډګر کې د اســتعمار په وړاندې مبــارزه کې او د غربي فرهنګ په رواجولو کې ډېر کوښښونه کړي دي.

طرزي په عربي، ترکي او اردو ژبو باندې ډېر مسلط و.

### په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوه ډلو ووېشل شي، يوه ډله دې د محمود طرزي او بله ډله دې د غازي امان الله خان د شــخصيتونو په هکله بحث وکړي او د خپلو بحثونو پايلې دې ســره شــريکې کړي.

### پوښتنې؟؟؟

- زموږ د هېواد د خپلواکۍ ګټونکی، کوم پاچا و؟
- محمود طرزي څرنګه نوي افکار د هغه وخت ټولنې ته وروپېژاندل؟
- محمود طرزي به شاعران کوم ډول شعرونو ويلو ته هڅول؟

### کورنۍ دنده

ــ زده کوونکي دې د محمود طرزي د شخصيت او د سراج الاخبار او اماني نهضت له لیارې د خلکو د افکارو د وېښــولو د رول په هکله د خپلو کورنيو له مشــرانو څخه معلومات راغونډ کړي، په خپلو کتابچو کې دې وليکي او ټولګي ته دې راوړي.




Calture G-12 Pashto.indd 112 8/16/2011 10:24:27 AM

اته ویشتم لوست

# پروفیسور غلام محمد میمنه گی

تا سو د خپل هېواد څو تکړه او ماهر انځورگران پېژنئ؟



(۶۰) تصویر

غـلام محمـد د عبدالباقي مینگباشـي زوی په ۱۲۵۲ هــ .ش. کې د فاریاب ولایت د میمني په ښـار کې نړۍ ته سـترگې غړولې دي، له ماشـومتوب څخه یې په څېره کې د نبوغ نښـې ښکاره وې. هغـه پـه (۱۲۵۸) هـ .ش. کې د خپلې کورنۍ سـره کابل ته راغی او د زاړه ښار د قاضي فیض الله خان په گذر کې میشت شو.

د غلام محمد کورنۍ په کابل کې په تکلیف او سـتونزو کې ژوند تیراوه.

غلام محمد چې په انځورگرۍ کې خورا زیات استعداد درلوده د کار د پیدا کولو په خاطر یې امیر عبد الرحمن خان ته یوه عریضه ولیکله او د هغې سره یې دیوې مرغۍ رسم چې پخپله یې انځور کړی و، مل کړ او امیر ته یې وړاندې کړ، پاچا د هغه رسم خوښ شو او هغه یې د انځورگر په حیث در بار ته ومانه.

زموږ د هېواد شاعر "دانش زرین گر" دغه پېښه داسې منظومه کړې ده:

کودکـــی از کـــودکستان هنر    شبـچـراغ دشت و دامـــان هنر

پنسلک زد نـقش زیبایی کشید    قاصد شاه آمـــد و تصویر دیـــد

در خـطوط صفحهٔ پاک حیات    دید گنجشکی بـه سان اصل ذات

گفت: به به مرحبا ای هوشمند آفرین بادت بـــدیـــن طبـع بلند
کـــوکب اقبـــال او بالا گرفت بر منیر قصر شاهی جـــا گرفت
از نـــویر بـــرق او دلشـــاد شد طـــفلك دی سرور و او ستاد شد

غلام محمد چې ماهر او نابغه انځورګر و، په دربار کې یې د امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان پورتریتونه د یوه ښیښه یي جام په مینځ کې د برجسته کیندنې په ډول او په نورو ښکلو او زړه راښکونکو منظرو سره انځور کړل.

غلام محمد په انځورګرۍ کې عالي استعداد او وړتیا درلوده، له دې کبله د غازي امان الله خان له خوا د هنر په برخه کې د لوړو زده کړو لپاره آلمان ته واستول شو.

دوه کاله یې هلته د انځورګرۍ په هنر کې زده کړه وکړه او د هغه ځای د هنرمندانو د هنري آثارو ســـره له نږدې څخه آشنا شو.

غـــلام محمـــد انځورګر چې د برلین د نفیســـه صنایعو په یونیورســـیټۍ کې دوه کالـــه د پرمخ تللو هنرونو زده کړې کړې وې، په پاي کې یې د هغې یونیورسیټۍ د څلور سوه بهرنیو زده کوونکو سره په آزموینه کې ګډون وکړ او لومړی مقام یې وګاټه.

لدې کبله د پوهنتون اداري ورته د هنر په رشته کې د پروفیسورۍ لقب ورکړ.

د اروپايـــي هېـــواد څخـــه د غلام محمد میمنه ګې له خوا د پروفیســـورۍ لقب ګټل زمـــوږ د ګران هېواد افغانستان لپاره لوی ویاړ و.

د پروفیسور د انځورګرۍ د هنر یوه کیسه:

وایي: کله چې پروفیســـور له آلمان څخه هېواد ته راســـتنېده، څو شپې یې دایټالیا د ناپل په ښار کې تېرې کړې، هغه سهار چې یې غوښتل حرکت وکړي، د چایو له ناشتې څخه وروسته یې د رستورانت په یوه قاب کې چې د میز پرمخ پروت و، د نهو مروجو سکو(پوند) یې په قاب کې رسم کړ او خپله د ملګرو سره له رستورانت څخه ولاړ. ګارسون چې د لوښو د راټولولو په خاطر راځي، په قاب کې سکېویني، غواړي چې یو څو دانې ترې راواخلي خو سکې یې لاس ته نه ورتلې، وروسته یې؛ ورته پام کېږي چې حقیقي سکې نه دي بلکې د سکو رسمونه دي.


Calture G-12 Pashto.indd 114 8/16/2011 10:24:29 AM




(۶۱) تصویر. د پروفیسور د انځورګرۍ یوه بېلګه

پروفیسور غلام محمد میمنه ګی زموږ د هېواد تکړه او ماهر انځورګر و. ده په هېواد کې د یوه لوی هنري خوځښت بنسټ کېښود.

لکه چې په ۱۳۰۹ هـ.ش. کال کې یې په کابل کې د «مکتب صنایع نفیسه» (د ښکلو هنرونو ښوونځی) تاسیس کړ.

د هغه وخت (مکتب صنایع نفیسه) کې لاندې څانګې جوړې او په تدریس یې پیل وکړ.

ترکاڼي، فوتوګرافي، معماري، ګنډنې، تزیینات، لیتوګرافي، کاشـي سـازي، میناتوري، غالۍ اوبدنه، مجسـمه جوړونه، انځورګري، حکاکي(کیندنې)، مهندسـي، د ګلونو جوړونې، آتش بازي، کرسـتل جوړونې او مصنوعي عاج ؤ.

همدارنګه د لویو ښیښو او بلورونو څخه به یې د ځانګړو مصالحو په کارولو سره د اروپايي ډوله هندارو په څېر له یوه متر څخه د غټو هندارو په جیوه کارۍ کې کار اخیسته.

د یادونې وړ ده چې خپله له پروفیسور څخه سربېره یو ویشت مسلکي افغان استاذان، روسي، جرمني کار پوهان، د غالۍ اوبدلو څلور کسـه ایراني اسـتادان، د فارسـي ژبې اسـتاذ سـرور ګویا، د اناتومي او



Calture G-12 Pashto.indd 115 8/16/2011 10:24:30 AM

انځورگرۍ استاذ عبدالغفور برېښنا درس ورکاوه.

وايي: کله چې پروفیسور د امیر حبیب الله کلکانی څېره د هغه د امر په اساس رسم کړي وه هغه امر کړي و چې پروفیسور ته یوه همیانی زر ورکړل شي.

پروفیسور غلام محمد میمنه گي د دویم مشروطیت په جنبش کې ډېر رول درلوده.

## په ټولگي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوه ډلو ووېشل شي، یوه ډله دې د پروفیسور غلام محمد میمنه گي او بله ډله دې د هغو مضامینو په هکله چې په(مکتب صنایع نفیسه) کې لوست کېدل، پخپلو منځو کې خبرې اترې وکړي.

## پوښتنې؟؟؟

ـ پروفیسور غلام محمد میمنه گي څو کاله په جرمني کې زده کړې وکړې او هلته يې څومره برياوې ترلاسه کړې؟

د ایټالیې د ناپل ښار د رستورانت خدمتگار ولې غوښتل چې له قاب څخه د پونډ سکې را واخلي؟

## کورنۍ دنده

ـ زده کوونکي دې له خپلو مشرانو څخه د پروفیسور غلام محمد میمنه گي او استاذ عبدالغفور برېښنا په هکله معلومات ترلاسه کړي، په خپلو کتابچو کې دې ولیکي او ټولگي ته دې راوړي.

## د شپږم ځپرکي لنډيز

غازي امان الله خان د پلار له وفات څخه وروسته د افغانستان پاچاهۍ ته ورسيد. هغه د افغانستان د خپلواکۍ ګټونکی و.

امان الله خان په ۱۹۱۹م کال کې هند، ايران، ترکيې، انګلستان او نورو اروپايي هېوادونو ته سفر وکړ. هېواد ته بېرته راوګرځيدلو او په يو سلسله تېزو نوښتونو باندې يې لاس پورې کړ، څرنګه چې په هغه وخت کې زموږ د ټولنې له غوښتنو سره برابر نه وو له مخالفتونو سره مخ شو. غازي امان الله خان يو شمېر نور کارونه هم د خلکو د ګټې لپاره ترسره کړي دي.

محمود طرزي ته د افغانستان د ژورناليزم پلار ويل کېده، د امان الله خان په وخت کې يې د سراج الاخبار جريده تاسيس کړه. هغه يو آزادي غوښتونکی شخصيت و.

پروفيسور غلام محمد ميمنه ګي د هېواد د تکړه نقاشانو څخه و. د نقاشۍ په هنر کې بې سارى و. په جرمني کې يې د انځورګرۍ په هنر کې خپلې لوړې زده کړې پای ته ورسولې او د ځلور سوو بهرنيو محصلينو په منځ کې يې لومړی مقام وګاټه.

پروفيسور غلام محمد ميمنه ګي په کابل کې د نفيسه صنايعو مکتب تاسيس کړی دی.



Calture G-12 Pashto.indd 117 8/16/2011 10:24:32 AM

## اخځلیکونه


۱- بنووال، پوهنوال دکتور محمد افضل، فولکلور شناسي، چاپ بهار ۱۳۸۹ هـ .ش. سعيد خپرندويه.

۲- بابرنامه، ظهيرالدين محمد بابر شاه په هند کې د بابريانو د سلسلې بنسټ ايښودونکی، د هند په مغلو مشهورو.

۳- شعور اسدالله، ترانه های کُهسار.

۴- عميد، حسن عميد، فرهنگ عميد، تهران ۱۳۸۰ هـ .ل کال.

۵- فقيهی، فضل الرحمن، د هرات پوهنتون استاذ، کابل.

۶- سيروف احمد جان – عاطف، عبدالحميد، د پښتو او اوزبيکي ژبارې سره د فرازيو لوژی مختصر قاموس، د دولتي خپرندويه ادارې له خوا طبع او نشر.

۷- مولانا جلال الدين محمد بلخي ثم رومي، مؤسسهٔ انتشارات امير کبير، تهران ۱۳۸۱ هـ .ش کال.

۸- د حافظ شيرازي ديوان د ټولو غزلو د بيلګو د تفسير سره. ۱۳۸۱ هـ .ش کال.

۹سس - د سعدي شيرازي کليات د محمد علي فروغي د نسخې پر بنا، ۱۳۸۵ هـ.ش کال.

۱۰- ګلاب زی، غلام سرور، صافی، د پيچ درې د پښتنو ولسي دودونه ۱۳۸۶ هـ .ل.

۱۱- جامي مولانا نور الدين عبدالرحمن، تصحيح مرتضی مدرس ګيلاني، تهران ۱۳۸۶ هـ .ش کال.

۱۲- حقمل، محقق بسم الله د ټنيو کلتور او فولکلور، مرغومی ۱۳۸۳.

۱۳- دستور مجله، د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت خپرونه.

۱۴- ابوبکر، استاذ قاري ابوبکر، هرات.

۱۵- د خوشحال خان خټک ديوان. ارمغان خوشحال د سيد رسول رسا مقدمه يونيورستي بک ايجنسی پيښور ۱۹۱۹ م. کال.

۱۶- غبار غلام محمد، افغانستان در مسير تاريخ، ميزان ۱۳۴۶ دولتي مطبعه، کابل. افغانستان.

۱۷- فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخير.

۱۸- شهراني، دکتور عنايت الله، شرح احوال و آثار پروفيسور غلام محمد ميمنه ګي.





Calture G-12 Pashto.indd 118 8/16/2011 10:24:32 AM